


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهدا

هغه پښتون زلمي ته چې
د افغان ولس د نجات لاره لټوي

*   *   *

زړه پرې روښانه کړه بلکه واخله
توري تياري لره رڼا واخله

خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خادم کورنۍ (Khadem Dynasty) وياړي چې د
مرحوم مولیناخادم د قلمي ناچاپو آثارو نه يو بل
(بلکا) چاپوي.

بلکا د خادم صاحب د دوویشتو ناچاپو قلمي آثارو نه يو اثر دی. د خادم صاحب د دوویشتو ناچاپه قلمي کتابونو نه په بلکا برسیره دولس روغ پاتې دي، نور يې په افغانستان باندې د روسانو په يرغل کې د افغانستان د ډېرو ملي شتمنیو غونډې خاورې شوي دي. که د سام خادم (مولینا خادم کشر زوی) چې کورنی نوم يې بشير خادم دی پوره څارنه نه وای، نو نن به دغه پاتې کتابونه هم لاس ته نه وای راغلي. په دې اړه د بشير خادم سرګذشت يو بل داستان دی ،چې هغه د پښتو ادب سره د يو ایمانداره او د يو اهل او صالح اولاد مینه ښيي.

**Khadem Dynasty**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليك


| گڼه | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د اروانباد استاد خادم "بلکا" | ا- و |
| ۲ | کار او لار | الف- ج |
| ۳ | د استاد خادم شاعري او... | ۱-۹ |
| ۴ | بلکا | ۱۰-۱۹ |
| ۵ | افغاني ترانه | ۲۰ |
| ۶ | د کابل سيند | ۲۲ |
| ۷ | زلميان | ۲۴ |
| ۸ | د خوښۍ دنيا | ۲۶ |
| ۹ | انګريزه توبه | ۳۰ |
| ۱۰ | د خلکو خدمتګار | ۳۲ |
| ۱۱ | د کابل واوره | ۳۳ |
| ۱۲ | وطنه ګران وطنه | ۳۵ |
| ۱۳ | سينما ده سينما | ۳۷ |
| ۱۴ | پس له مرګه | ۳۹ |
| ۱۵ | وطن ته | ۳۹ |
| ۱۶ | هسکوالی | ۳۹ |
| ۱۷ | صنعت او تجارت | ۳۹ |
| ۱۸ | تجدد | ۳۹ |
| ۱۹ | غټوالی | ۳۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۰- | نوې ترقي | ۴۰ |
| ۲۱- | د ژوند اوبه | ۴۰ |
| ۲۲- | هوښیار او حکیم | ۴۰ |
| ۲۳- | زمونږ زلمي | ۴۰ |
| ۲۴- | بدبخت قوم | ۴۱ |
| ۲۵- | کار او ژوند | ۴۱ |
| ۲۶- | ځوان او قوم | ۴۱ |
| ۲۷- | قام او اخلاق | ۴۱ |
| ۲۸- | پوډې رنګ | ۴۲ |
| ۲۹- | د قوم سره مینه | ۴۲ |
| ۳۰- | خپل آس | ۴۲ |
| ۳۱- | لتون | ۴۳ |
| ۳۲- | حجره | ۴۳ |
| ۳۳- | ماشیني سړی | ۴۴ |
| ۳۴- | محمود او ایاز | ۴۴ |
| ۳۵- | غزل | ۴۵ |
| ۳۶- | غزل | ۴۶ |
| ۳۷- | غزل | ۴۷ |
| ۳۸- | غزل | ۴۸ |
| ۳۹- | غزل | ۴۹ |
| ۴۰- | غزل | ۵۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۴۱- | فرعون ته خطاب | ۵۱ |
| ۴۲- | د ننګرهار پوهنتون | ۵۱ |
| ۴۳- | انګریزاو پښتون | ۵۲ |
| ۴۴- | دعا | ۵۳ |
| ۴۵- | دی څوک و | ۵۴ |
| ۴۶- | د ژوند طلسم | ۵۵ |
| ۴۷- | هوسیږم | ۵۷ |
| ۴۸- | پښتون دې ولې کړم | ۵۸ |
| ۴۹- | درواغجن | ۵۹ |
| ۵۰- | د مینې لیونی | ۵۹ |
| ۵۱- | سیاست | ۵۹ |
| ۵۲ | تیت شو پښتون | ۵۹ |
| ۵۳ | د پښتنو مشر | ۶۰ |
| ۵۴ | د قام د خدمت شرط | ۶۰ |
| ۵۵ | د میړنو وطن | ۶۱ |
| ۵۶ | خان عبدالغفارخان | ۶۲ |
| ۵۷ | څه ولیکم | ۶۳ |
| ۵۸ | لویه آرزو | ۶۴ |
| ۵۹ | د محمدګل خان مومند په یاد | ۶۵ |
| ۶۰ | آینده پښتنو ته پیغام | ۶۶ |
| ۶۱ | ځوانانو ته بلنه | ۷۴ |
| ۶۲ | ملي ارشاد | ۷۸ |
| ۶۳ | د استعمار زمزمه | ۸۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۶۴ | واړه افغانان یو | ۸۴ |
| ۶۵ | سپین سترګی | ۸۷ |
| ۶۶ | انسان او کائینات | ۸۹ |
| ۶۷ | غزل | ۹۲ |
| ۶۸ | ځورولې مې شې | ۹۲ |
| ۷۹ | د کابل ښار | ۹۳ |
| ۷۰ | د نوي فکر ماشومان | ۹۶ |
| ۷۱ | تعصب او ایمان | ۹۹ |
| ۷۲ | د شاعر زړه | ۱۰۰ |
| ۷۳ | غوره لار | ۱۰۲ |
| ۷۴ | ګوډ خر | ۱۰۴ |
| ۷۵ | نشته دی دلبر | ۱۰۷ |
| ۷۶ | لوړ غرونه او لوړ فکرونه | ۱۰۸ |
| ۷۷ | غزل | ۱۱۰ |
| ۷۸ | د شاعر ویره | ۱۱۱ |
| ۸۹ | یو نظر کړه په ما | ۱۱۴ |
| ۸۰ | شا عر او قوم | ۱۱۵ |
| ۸۱ | څه شوه یارانه | ۱۱۸ |
| ۸۲ | سم به نه شي | ۱۱۹ |
| ۸۳ | لاړې قافلې | ۱۲۰ |
| ۸۴ | ځوانان راټولوم | ۱۲۱ |
| ۸۵ | د پامیر د لوړې څوکې نه | ۱۲۲ |
| ۸۶ | د قوم تباهي | ۱۲۳ |
| ۸۷ | د لیډر پیژندنه | ۱۲۳ |
| ۸۸ | اجمل ته | ۱۲۴ |
| ۸۹ | د غیرت چغه | ۱۲۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۹۰ | چې ته راشې | ۱۲۵ |
| ۹۱ | سیاست څه دی؟ | ۱۲۶ |
| ۹۲ | زه او ورور مې | ۱۲۸ |
| ۹۳ | مرگیه | ۱۲۸ |
| ۹۴ | شاعر او دولتمن | ۱۲۹ |
| ۹۵ | غزل | ۱۳۰ |
| ۹۶ | ملي انقلاب | ۱۳۱ |
| ۹۷ | د انقلاب خبرې | ۱۳۲ |
| ۹۸ | درچمن | ۱۳۳ |
| ۹۹ | د افغان بدلون | ۱۳۴ |
| ۱۰۰ | خادم او حمزه | ۱۳۴ |
| ۱۰۱ | لا يې هم ته منې | ۱۳۵ |
| ۱۰۲ | د عمر شپې | ۱۳۶ |
| ۱۰۳ | خوار افغان | ۱۳۶ |
| ۱۰۴ | اولاد ته | ۱۳۷ |
| ۱۰۵ | د پښتون اصل او نسب | ۱۳۷ |
| ۱۰۶ | محشر | ۱۳۸ |
| ۱۰۷ | نوی جهان | ۱۳۹ |
| ۱۰۸ | دنیا واړه تکې ده | ۱۵۲ |
| ۱۰۹ | خادم وایي | ۱۵۴ |
| ۱۱۰ | کابل او پښتو | ۱۵۵ |
| ۱۱۱ | د سید حسن خان د قبر ډبره | ۱۵۷ |
| ۱۱۲ | ای ددې جهان خاونده ! | ۱۵۹ |
| ۱۱۳ | تولنیز افغان | ۱۷۴ |
| ۱۱۴ | سعادت | ۱۷۵ |
| ۱۱۵ | حاضر عصر | ۱۷۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۱۶ | افغاني سياسيات | ۱۷۵ |
| ۱۱۷ | حبيبي او پښتو | ۱۷۵ |
| ۱۱۸ | بختاني او پښتو | ۱۷۵ |
| ۱۱۹ | د بېنوا پښتو | ۱۷۶ |
| ۱۲۰ | د الفت شاعري | ۱۷۶ |
| ۱۲۱ | سليمان لايق | ۱۷۶ |
| ۱۲۲ | خادم څه دی | ۱۷۶ |
| ۱۲۳ | حبيبي او د پښتنو تاريخ | ۱۷۷ |
| ۱۲۴ | جهان وايي | ۱۷۷ |
| ۱۲۵ | پښتانه او د پښتو مخالفت | ۱۷۷ |
| ۱۲۶ | د پښتو نتيجه | ۱۷۸ |
| ۱۲۷ | زور د استعمار | ۱۷۸ |
| ۱۲۸ | شاه محمود د زهرا زوی | ۱۷۹ |
| ۱۲۹ | زما زړه | ۱۷۹ |
| ۱۳۰ | د خلکو مينه | ۱۷۹ |
| ۱۳۱ | د تکليفونو دنيا | ۱۸۰ |
| ۱۳۲ | د پښتو مينان | ۱۸۰ |
| ۱۳۳ | سياست او پښتو | ۱۸۰ |
| ۱۳۴ | تور دېو | ۱۸۱ |
| ۱۳۵ | د حافظ نصرالله پښتو | ۱۸۱ |
| ۱۳۶ | سيلاب او پښتو | ۱۸۲ |
| ۱۳۷ | رسا او هميش | ۱۸۲ |
| ۱۳۸ | پخواني جاه و حشم | ۱۸۳ |
| ۱۳۹ | روښان به شم | ۱۸۴ |
| ۱۴۰ | مذهب او قوم | ۱۸۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۴۱ | شرع او لار | ۱۸۵ |
| ۱۴۲ | نیم سوسیالیست | ۱۸۵ |
| ۱۴۳ | استعمار او پښتون | ۱۸۶ |
| ۱۴۴ | د پښتون تاریخ | ۱۸۶ |
| ۱۴۵ | ته یې وینې که نه | ۱۸۷ |
| ۱۴۶ | پښتو دلته او هلته | ۱۸۹ |
| ۱۴۷ | د خان عیبونه | ۱۹۰ |
| ۱۴۸ | د جمهوریت تاسیس | ۱۹۱ |
| ۱۴۹ | د ولي محمد خان مخلص په یاد | ۱۹۲ |
| ۱۵۰ | امیر حمزه شینواری | ۱۹۳ |
| ۱۵۱ | محمد عمر سیماب | ۱۹۳ |
| ۱۵۲ | مراد شینواری | ۱۹۳ |
| ۱۵۳ | غزل | ۱۹۴ |
| ۱۵۴ | غزل | ۱۹۴ |
| ۱۵۵ | مات قلم | ۱۹۵ |
| ۱۵۶ | د پیسو غلام | ۱۹۷ |
| ۱۵۷ | هاتفي اواز | ۱۹۹ |
| ۱۵۸ | افغاني جمهوریت | ۲۰۱ |
| ۱۵۹ | افغاني وطن | ۲۰۵ |
| ۱۶۰ | یو قلم خو راله پریږده | ۲۰۷ |
| ۱۶۱ | پښتیانا ادې | ۲۰۹ |
| ۱۶۲ | ستا پمه | ۲۱۱ |
| ۱۶۳ | کاشکې توتکې او یا بلبله وای | ۲۱۲ |
| ۱۶۴ | د پښتنو تاریخ | ۲۱۹ |
| ۱۶۵ | نوی استعمار | ۲۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ارواښاد استاذ خادم ,,بلکا"

زمانــه د اســتاد خــادم ځوی ګران بشـیر جـان خـادم هیلــه ځرګنده کړه چې د علامـه خادم صاحب په ,,بلکا" نومې شعري ټولګه څه ولیکم. استاد چې د پښتو ادب په ځلانده اسمان کې د یوه ځلانده ستوري په شان چې وړانګې او پلوشې یې یوازې په خپل هېواد کې منحصرې نه دي پاتې شوې،بلکې په ګاونډیو هېوادونو سر بیره په اروپایي هېوادو کې یې هم علمي او ادبي غونډې روښانـه کړي پـه پښتـو ادب کـې ځانتـه مقـام لري. دده شعر او نثر دواړه زیات اوچت ځکه دي چې دده لـه هغـه فکـر او دماغ څخه سرچینه اخلي چې له لوی خدایه (ج) پرته یې د هېچا سجدې نـه دي کـړي، دی د ملحوظـاتو پـه دایـره کـې دومـره محصور شوی نه دی چې د پښتو او پښتنولۍ په بـاره کـې د چا د بې حیایـی پـه مقـابل کـې غلـی پاتې شي او بیا یې د کومې والي په انتظار کې په خبره سترګې پټې کړي.

علامـه خـادم حتـی د دربـاري نـازولو د بیې ځایـه شوخیو پـه وړاندې خپله زړورتیا په میړانه ښودلې او بې الدیـلـن یـې تـادیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي دده خبرې دده ليکنې، دده شعر او نثر دومره جذابيت درلود چې زړونه ورماتيدل او ځای يې ورکاوه.

"کاروان اوځاروان" د اروابناد استاد دکلاسيکو اشعارو هغه دوه ټولګې دي چې دده په ژوند چاپ شوي او دا ده "بلکا" دده د همدغه راز اشعارو دريمه مجموعه ده چې دده د نيکو فرزندانو له خوا چې د "صدقه جاريه" حکم لري چاپيږي.

"بلکا" د سريزې په پيل کې په خپله استاد خادم ليکي:

"چې د نړۍ رڼا په څه ده.
ښکلا هم له همده ده
او بلکا هم په ده ده"

خادم صاحب لکه څومره چې په شاعرۍ کې د استادۍ هسک مقام ته رسيدلی دی، دغه راز په نثر کې هم دده مقام ډېر هسک دی. دی که تکړه شاعر او ليکوال دی،نو ورسره جوخت تکړه ژورناليست او نامه نګار هم دی، دی چې کوم وخت د هېواد ورځپاڼې مسوول چلوونکی و نو دده سرمقالې، مقالې او سياسي تبصري به نورو ورځپاڼو يعنې "انيس" او "اصلاح" د اقتراح په توګه تعقيبولې اودده په "نقش قدم" به يې ګام پورته کاوه. "د وقت سر کار" دده ليکنوته د شك او ترديد په نظر کتل نو ځکه دده د ځوراوکړ او سبب کيدل او اوړ مقام يې نه ورکاوه حتی چې د پښتو ټولنې درياست مقام ته د رسيدلوپه لار کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم خندونه ورته پيداكول،ځكه چې دى له دغو اوصافو سره سر سياسي شخصيت هم و، داسي سياسي شخصيت چې په خپله لاره په ټينګك عزم روانو او يو قدم ترې په شاكيدل يې "بې أيماني" ګڼله

خادم صاحب سره له دې چې يوفلسفي شاعر و،انتقادي شاعر هم و او په خپل انتقاد كې يې نه د ملاحظاتو خيال ساتلى او نه يې قلم ټكنى شوى دى،نو ځكه يو شمېر تطميع شويوزلميانو ته داسې ګوته نيسي:

ټول شوي په ټيانسكوو د حلوا په تمه بساندې
ګوله چې په لاس ورغله خپاره غوندې ښكاريږي

دا چې "تمدن اول له بلخه شروع شوى" خادم صاحب دغه ټكي ته په "افغاني ترانه" نومې شعر كې داسې اشاره كوي

دنياشوه منوره زمسا لسه كوهستانه
نـږى شوه ښهر وره له دې باغ وبوستانه

اوچت له ټولې ځمكې په بام ددې جهان يم
افغان يمه افغان يم - افغان يمه افغان يم

اروابناد استاد خادم " د قام سره مينه" تر سرليك لاندې شعر كې وايي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې تاثیره چې تري څوك خلاصیدی نه شي
یوه ژبه، بل مکتب، بل سینما ده
که پردي وي په پردي رنګ کې راغلي
دا څیزونه د یو قوم په سر بلا ده

خپل لباس او خپل اساس درته په کار دی
که دې مینه له خپل قام سره ربتیا ده

تاسې وګورئ چې د "ماشیني سړي" تر سر لیك لاندې شعر کې څه ښه وايي:

له حجرې جوماته لرې، له دېرې نه خبر نه دی
ښه زلمی دی خوافسوس دی چې زمونږ له ټبر نه دی

مغربي فیشن کې طاق دی عجیبه شانې ګرځېږي
د خبرو سره خوځي نه به وایي چې ګډېږي

- دې زمونږ د اکا زوی دی خو پردیو سره لوی شو
چې د چا سره لوی شوی د هغو په خوی او بوی شو

چې د قام وطن خبرې ورته وکړې خفه کیږي
خلك دده او دی د خلکو په خبرونه پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشيني‌غوندې سرې دی د دفتر د چليدو دی
نور اميد ترينه ونه کړې چې د غړونو د ختو دی

او په بل ځای کې وايي:

تېيت شو پښتون او لا تيتيږي به نور
ښکته ولېدلی دی او لويږي به نور
نه مشر پيژني نه ځي ورپسې
چې داسې وي نو داسې کيږي به نور

د پښتنو د مشر په باره کې وايي:
خلک مشري کوی عزت غواړي
زمونږ چې مشرشي دولت غواړي
ای چې سودا ده د مشرۍ درسره
قام دې له تاڅنې خدمت غواړي

دی په شعر کې د استادۍ مقام لري او زه يې د شاګردۍ وياړ لرم او خپله ليکنه ځوانانو ته د استاد خادم په دغې بلنې پای ته رسوم

يا خاروان د قافلې شه
يا روان شه په کاروان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخــــر تـــــه هـــم يــــو انســــان يـــې
كـــــار پــــه مثــــل د انســــــان كـــړه

پـــــه دې لـــوی جـــهان كـــې اوســـې
لــــړ څه غـــم د خپـــل جـــهان كــــړه

پــــه شـــخصي ســــودا كــــې ګيــــره
تــــګ پــــــه لاره د كـــــاروان كــــړه

هميـــــش لافــــې د ځوانــــــی كـــړې
لـــږ خـــو كـــار هـــم لكـــه ځوان كــړه

يــــا د بــــل پســــــې روان شـــــــه
يـــــا نــــور ځان پســـې روان كـــړه

ښه پوهيږمه هو ښيار يې     سړيتوب غواړې جهان كې
يا ځاروان د قافلې شـه     يا روان شه په كاروان كې

قتيل خوږياني
د ساپي پښتو څيړنو او پراختيا مركز
ګل حاجي پلازه – پېښور
د ۱۳۸۰ كال د وږي ۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کار او لار

که د کار په خوند خبرشي
و به نه ګرځي بې کار څوک

سې کاري لويه بلا ده — پرې دې نه شي ګرفتار څوک
م صحت دی هم دولت دی — که روان شي په دې لار څوک
سلم هم له عمل زده شي — که پرې وکا اعتبار څوک
کار توليد او فايده ده — چې څه زيات کاندې په زيار څوک
ښه سړی اوښه مېړه شي — چې اخته وي په روزګار څوک
له بې کاره خدای بې زاره — شيطان نه پرېږدي اوزګار څوک
څوک چې مشق او عمل نه کا — شي به څنګه او ستاکار څوک
فائده من ښه شهرت مومي — که خواهان وي د اتبار څوک
کار د کور ښځې جوړېږئ — که خبر وي او هوښيار څوک
هوښيار هغه ده چې کار کا — هوښيار نه ګڼي بې کار څوک
هيڅ له غمه به خلاص نه شي — که له کاره کوي ډار څوک
علم څه؟ د کار ښودل دي — چې دی روږدی کا په کار څوک
ه بس تشې مسلې کا — و به نه ساتي وقار څوک
دې بيل کاندي له علمه — که راغواړي استعمار څوک
ه کاري سړی واکدار کا — چې د ملک غواړي اختيار څوک
کار فرما که کاري نه وي — تېرې نه څه کا انتظار څوک
چې ستومانه ستړی نه شي — رزق څه له خوري مردار څوک
کار او زيار ډېر ښه شاهد دی — بل شاهد نه شته د کار څوک
د توت پاڼه دا نامه ده — چې يې اخلي بې له زيار څوک
مکتب نه دی ګمراهي ده — چې روزي په کې کار دار څوک
چې يې لاس تناکې نه وي — خواهش څنګه کا د کار څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب

کار معیار د جامعې دی          نور دې نه کوي ګفتار څوک
"څه کولای شي؟" سوال دا دی          ښودای نه شي بل معیار څوک
په کوم کار چې عاشق نه وي          ترې به نه وي بل ناکار څوک
نامداران واړه کاري وي          بې کار کله وي نامدار څوک
د نړۍ تعمیر په کار دی          بل یو نشته دی معمار څو
که په کار اتکا وشي          و به نه کاندي بد کار څوک
ښه کار ګردې کار فرما وي          نه دې کاندي انحصار څوک!
چې بېکاره ته کار ورکا          ترې به نه نوي ګنهګار څوک
کار د دې عصر مذهب دی          بې کار نه ګڼي دیندار څوک

* * *

اول کار د دهقاني دی          دویم دا چې وي مالدار څوک
دریم دا دی چې یې جوړ کا          صنعتونه د بازار څوک
څلورم یې تجارت دی          خو چې نه کا احتکار څوک
چې تاجر پوستین چپه کا          ترې نه نشته بل خونخوار څوک
لا چې واک هم ورسره وي          مه شه دغسې واکدار څوک
د مزدور ګټه چې بل خوري          نو به څه وکاږي زیار څوک
د ملت دي د هر کارونه          که پیدا شي ملتیار څوک
ټول کارونه هله سم شي          چې پیدا شي ور د کار څوک
تعلیم مخکې دی تر ټولو          کوي نه شي ترې انکار څوک
طرفدار د روند تقلید ته          دلته نه شته طرفدار څوک
بې له لارې تګ مشکل دی          خو چې وپېژني لار څوک
ډېر ممنون به له خادم شي          که پیدا کا "نوې لار" څوک
مشوره چې شي انجره          ایستی نه شي ترې نه تار څوک
دا افغان دا یې وطن دی          مجال څه چې کوي ډار څوک
هر څه شته په دې وطن کې          که خبر وي په اسرار څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسه دوست وطن فروش دی — چې دولت غواړي بې زیار څوک
چې په "توې لار" روان شي — خادم بویه هم هوښیار څوک
د پیسو حرص یو غم دی — خدای پرې مه کړه گرفتار څوک
عشق د مال میینه د قام خوري — کم پیدا شي ایماندار څوک
"پښتونپال افغان" چې نوې — څه بې وویاړي په چار څوک
ځان ځان بهاجهان غواړي — راته نه دې بشي په قار څوک
جامعه دې وي بډایه — فرد، دې نه کا استثمار څوک
هیڅ یو کار یې نه ښه کیږي — ښه چې نه لري سر کار څوک
دولت جوړ شي له ملته — تربنه کړي نه شي انکار څوک
خو ملت د کلچرزوی دی — بل یې نشته چرې پلار څوک
که شي پرې د تاریخ مزي — خپل به څه وینې اثار څوک
هر ملت لکه کاروان دی — دی په کار ورته سالار څوک

د خادم ځېلیه قومه
مه شه داسې خوار او زار څوک

که دا شعر شاهکار نه وي — بل دې وښیي شهکار څوک
کله خوار هغه شاعر وي — چې لري داسې اشعار څوک

یادونه: د انظم د "ای ددې جهان خاونده!" له نظم څخه وروسته لیکل شوی دی

خادم

کابل – خادم مېنه

سرطان ۱۳۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالهادي هدایت
د ولسي جرګې پخواني وکیل

# د استاذ خادم شاعري او دده نوی چاپ شوی کتاب "ځاروان"

ما د استاد خادم ټول تالیفات کتلي دي. ټول د پښتنې نثر یه دپاره د آبحیات په شان دي، خو "ځاروان" چې شعر دی، دلته د لفظ او معنی دوه دوله خوږوالی یو ځای شوی دی او قند مکرر ترې جوړ شوی دی.

زه د بختاني صاحب ددې جملې سره پوره موافقه لرم ،چې "خادم صاحب په خوشې خبرو خوشې نه دي لیکلي، بلکې د قوم دویښولو، پوهولو، او لوړوالي دپاره یې سندرې ویلي دي)).

د خادم صاحب فضل په دې کې دی ،چې د معاصرې دورې په علمي ډله کې دمخه د پښتو د خدمت دپاره میدان ته راګډ شوی دی او تر اخره په کې لګیا دی او د اجتماع د پرمختګ سره سم پښتو ادب پر مخ بیایي.

خادم صاحب پښتو ملي ژبه د تعلیم او ښوونې له دورې څخه د ادب او د ادب له دورې څخه د علم او د علم له دورې څخه د فلسفې، تحقیقاتو او سیاست دورې ته راورسوله. په هر حالت او هر وخت کې دده په قلم یې نوې ارتقا یې ښه غوره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامـان الله خـان د زمـانې نـه پس د پښتـو د خدمـت دروازه اعليحضرت شهيد محمد نادرشـاه افغـان د محمد ګل خـان مومند په لاس بېـرته کـړه. محمد ګل خان په پښتو مين وُ. دده پر خوا پورې ډېر ځوانان او زاړه راغونډ شول؛ خو ځلوښت کاله په يوه لاره نېغ او سم تګ يو ازې د ښاغلی استاذ قيام الدين خادم په برخه ليکلی وُ اوبس.

په دې لاره کې داسې نه چې مشکلات نه وو. لوی لوی غرونه او ګړنګونه پکښې وو؛ خو په ټولـو تېرشو. ډېر شاګردان يې وروزل. د ډېرو مخالفتونو سره مخامخ شو. زجرونه او ناخوالي يې وزغملې؛ خو اخرېې خپله دا خبره تر سره کړه چې:

"ټولې سـوېې د چـا نـه دي روزي شـوي + ځان به خاورې کړمه داکور به اباد کړم.

استاذ اوس د ډېرو تاليفاتو، تصنيفاتو چې په نظم او نثر مشتمل دي، خاوند دی. ډېر جرايد يې چلولي، ډلې يې جوړې کړي او بنيادونه يې ايښې دي؛ خو په ټولـو کې يـو ټکی مشترک دی: "خپـل وطـن او خپـل ولـس". بينواصاحب په "اوسني ليکوال"کې ويلی دي: "ښاغلی قيام الدين خادم په اوسنيو ليکوالو او شاعرانو کې د قدامت او مشرتوب حق لري". ربښتيا داده چې په ډېرو د استاذۍ حق لري.

ښاغلی قابل صادقوف ليکلي دي: "د ښاغلي استاذ خادم شاعري او تاليفات په شوروي اتحادکې ورځ په ورځ شهرت پېداکوي او په ټولو ژبو وربـاندې تبصرې کېږي". په مسکو کې ويل کېږي چې "خادم" په افغانستان کې هغه لار نيولې ده چې " پوشکين" په لويه روسيه کې ورباندې روان وُ. د خادم صـاحب اشعارو پـه افغـاني دنيـا کـې هم لوی شهرت پيداکړی دی. دا ځای ددې نـه دی چې دده په ټولو اثارو او کـردار مبسـوط بحث وکړو؛ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره به ووايو چې " خادم صاحب په ډېر مشکل او نامساعد وخت کې د افغان ملت په ټولو مقوماتو داسې ټينګې منګولې لګولې دي چې په ځلوېښت کاله کې يې هېڅ مانع مخه ونه شوه نيولای. دده کار ته بايد لوی کار او ده ته بايد د لوی عزم خاوند ووايو."

استاذ خادم د خپل شعر او ادب هدف د " ځاروان" په مقدمه کې داسې اشاره کړېده وايي ((دپښتو شاعري له زرګونو کالو څخه په روان ډول سره په قومي او اجتماعي بڼه راغلې ده".بيا وايي: " پښتنون شاعر نه شي کولای چې خپل آس بې له ملي لارې په بله لاره وځغلوي.دې وايي: "ما شعر د باطني شعور او تجسس له مخې ويلی دی او چې په بله ژبه مې څه ويلی شول نو د شعر شېبلې مې نه ده غږولې"

يعني شعر يې د ډېرو نازکو اداګانو ژبه ګرځولې او نور مفاهيم يې په نثر ادا کړي دي. دستي وريسې وايي: " لکه څنګه چې شعر ته په لوي ضرورت قائل يم، له شعري ضرورته چېوز منکريم،نو ځکه هيله لرم چې د پښتو دادب حقيقي نقادان به په دې مجموعه کې د ژبې سم استعمال د سلاست، فصاحت او بلاغت په قالب کې ومومي".

ښاغلی ډاکتر د وريانکوف دده د شعر په باب ويلي دي:" خادم صاحب په خپل سبك او اسلوب کې د پښتو د لرغونو عنعنوي شفاهي ادبياتو او ولسي فولکلور له منابعوته ډېره زياته استفاده کړېده او معاصر مسائل يې په ډېر قدرت د، ولس په ژبه بيان کړي دي. د خادم صاحب شعر د پښتو ادب د لرغونو عنعنو د پيروی يوه عصري نمونه ده. چې ددې عصر يو ځانله ممتاز سبك يې ګڼلی شو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پورته مطلب ښاغلي بختاني هم نقل کړی او زياته کړې يې ده:"شک نشته چې خادم صاحب د پراخې مطالعې خاوند دی،ځکه يې د شعر معنوي خوايډايه ده."

خو څه چې ما په "ځاروان" کې موندلي او د خادم صاحب د کلاسيک اشعارو دريمه مجموعه چې "بلکا" نوميږي او لانشر شوې نه ده، د دغې مجموعې له کتلو چې څه لاس ته راغلي دي، دلته يې ليکم:

۱- د خادم صاحب شعر يو اجتماعي او ولسي شعردی، دلته د شعري نزاکتونو د مهارتونو سره يو بل شی چې دی د نورو معاصرو شاعرانو نه ممتاز وي هغه دادی چې دده د شعر آفاقيت ډېر پراخه دی. دده په شعر کې دده ماحول، دده معاصرين، دافغاني دنيا نهضتونه او ددنيا معاصر سياسيات ښه ترا او چې څومره په کښې تعمق کېږي نور نکات ترې را وځي.

۲- خادم صاحب شعر د ژوند او حيات دپاره ويلی دی، که څوک پکښې ځير شي لکه د شرق او غرب ددغسې شاعرانو په شان به دده په شعر کې د ژوند ددرياب ډېرې مرغلرې پيداکړي.

۳- د خادم شخصيت، دوستان او مخالفين يې، دده د عصر روحيه د افغان او افغانستان غوښتنې او د افغان حقيقي پېژندنه دده په شعرکې منعکسه شوېده.

۴- د ده د شعر له لوستلو څخه څرګندېږي چې د عصر په پېژندلو کې د خادم صاحب مطالعه څومره ژوره او نظريې څومره صائب دی.

۵- خادم صاحب دبلکا"په مقدمه کې ليکلي دي: د پښتو په شاعرۍ کې دغه موجوده کلاسيک فورم چې ښه په عروج کښې دی، د ښکارندوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرزاخان انصاري، خوشحال خان او رحمان بابا نه راپاتې دي،مګر دغه کلاسيك فورم علاوه پردې چې په پښتو کې مستعاراو مهاجر دي، او د اسلامي عصر له ابتدا څخه د ايران او عربو له خوا راګډ شوي دي، دپښتانه ولس د تولوافکارو، عقايدو، احساساتو ترجمان نشي کېداي،ځکه چې ډېر تنګ، ګنډلی او محدود دي.

تر دغو أقساموڅخه پرته يو بل قسم شعر هم شته چې ډېر لرغوني شکل لري. په دې شکل او فورم باندې د قديم باختر ادبيات لکه ويدونه ، ژندءاو ستا، هخامنشي اثار، ساساني کتيبې، د لويکانو د عصر ځيني اثار چې کشف شوي دي. دا شکل د حضرت با يزيد روښان د خيرالبيان ّپورې رارسېدلی دی. اوس زمونږ زړه ته دا راځي چې پښتو بېرته خپل اصل ته وروګرځوو او په مقفي نثريا سپين شعريې وليکو. د دې کار تمهيد ډېر پخوا ايښودل شوی دی. او "د مرغلرو امېل" څخه د پښتو د شعر په کلاسيك فورم کښې د توسيع پېدا کولو لاره نيول شوېده. په "ځاروان" کــې دغه رنګ نور هم ټينګ شو. په "بلکا" کې دې کار بله ښه غوره کړه. چې هغه بايد د پښتو د شعر دپاره د کلاسيك قيودو څخه د خلاصون دوره وبولو".

تر "بلکا" وروسته خادم صاحب په دغه نوي قسم شعر چې ډېر قديم دی، لاس پورې کړی دی. نمونې يې د خادم صاحب پخپله جريده افغـان ولـس کـې مونـدل کـېږي او پـه يـوه نـوې مجموعـه کـې د (نـوې پوهيتانـه) پـه نامــه راغونډېږي.

وګورئ دا لاندې يو څو نمونې چې هر ه يوه يې د يوه اوږد نظم يوه ټوټه ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)

# دا ځکه چې پښتون يم

چوکۍ مېزدې د بل وي ماله توره ده او سپاره — داځکه چې پښتون يم
توتې توتې مې تن دی — تيار راته کفن دی
هېڅوك پرما نه ژاړي — پردې رانه وطن دی
زګېروي هم نه اوبا سم — نه خبر يم له اسراره
دا ځکه چې پښتون يم

تعليم ته که رضا يم — پارسي اردو به وايم
له ځانه پټې سترګې — د بل چا ښه به ستا يم
بد ظن په خپله ژبه — له قومي ژونده بېزاره
داځکه چې پښتون يم

که شمه افلاطون — د عقل په مضمون
لايق کېدلی نشم — لا بل دی شواخون
مردود مې هر دليل وي — لاڅه مخکښې له اظهاره
داځکه چې پښتون يم

په زړه مې دي داغونه — رښتيا وايم حالونه
خادم کله ويرېږم — له خپل هسی مضمونه
راخلاص دې وي پښتون — له يو سفزي تر کندهاره
دا ځکه چې پښتون يم

((د مرغلروامیل))

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)

## د شاعر زړه

ډك لــــه ارمـــانونودی     نــه پــوهيږم څه غواړي
راز د اسمـانــونــودی     نه پـوهيږم څه غــواړي

* * *

سوديې په پيسو نـشي     كاريــې پــه تنگو نشي
تير له دې غمـــونو دی     نه پوهــيږم څه غــواړي

* * *

وايي چې دوزخ زمونږ     ولــې دې جـنـت نــشي
تل په دې چــرتونو دی     نه پــوهــيږم څه غـواړي

* * *

دا جهان خو نه غواړي     بل له ديـــنه بنه غواړي
زړه دی د شاعــر دغــه     وگورئ چــه څه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)

## ای ددې جهان خاونده

لوی عذاب، و دې نړۍ ته — استعمار دی استعماردی
چې نړۍ نن په کې سوزي — دغه اور دی دغه نار دی
له تیري دا ستعماره — زورزیاتی دی په جهان کې
استعمار شکیدلی کټ دی — تر میمیږی انګلستان کې
یو افت توره بلا ده — په نړۍ نازله شوې
دیوال پای توره خپسه — په انسان راتاوه شوې
چې د بل ګټلي اخلي — یا په زور یا په چالونو
دا وګړي بیغرته — دې شي یاد پسه لعنتونو
چې خدمت یې مردانه وي — او په نورو حکومت کا
سړی څنګه ځان ته وایي — چې داهسې خیانت کا
بې له زیار او بې له کاره — تمول له نورو غلا ده
څوك چې داسې دولتمن شي — د ولس په ځان بلا ده
حیرانیږم پیسه دار ته — استعمار او استثمارته
د ژوندون نه جوړ عذاب کا — ځان ونوروته قصاب کا
داځه علم څه شعور دی — تري وګړی په ضروردی
دا جهان د استعمار دی — که ستا هم په کې اختیار دی

ای ددې جهان خاونده

(بلکا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

# افغان ولس

مونږ افغانان او مسلمانان یو پـه خپـلـه سـمه لار روان یو
نـه تـمـه لـرو نـه ډار عـقیده لـرو په کار او په زیار
له حرص او بېکاری یو بېزار

ترشامو لوی تاریخ او تر مخ مو لوی جهان دی دا مو له نعمتونو ډک کوهستان دی
لـرغـونـی مو دی ثقافت او ټینګ مو دی اقتصاد
نـشـته داسـې بـنیاد

دا جـهـان بـه کـړو ابـاد پـه خـپل کوشش او جهاد

(نوې پوهنتانه)

* * *

یادګېرنه: په دغو ټولو نمونو کې ښکارېږي، چې له کلاسیکي قیودو څخه د پښتو د شعر د ازادۍ کوشش شوی دی. دا زیار په اخره کې پوره کامیاب کتل کېږي.

هېواد- ۱۹۶۹ کال د نومبر (۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# بلکا

چې د نړۍ رڼا په څه ده
ښکلا له همده ده!
او بلکا هم په ده!

بلکا د کلاسيك اشعارو دريمه مجموعه ده. تر دې دمخه زما د کلاسيکي اشعارو دوه مجموعې "د مرغلرو امېل" او "څاروان" په نامه خپرې شوې دي او دوه نورې د "نصوص الحکم" او "ساتلې خزانې" په نامه روانې دي پوره کېږي.

د پښتو د اشعارو فورم او شکل چې اوس په پښتني نړۍ کې رواج لري په پښتو کې د اسلامي عصر له ابتدا څخه دايران او عربو له خوا راګډ شوی دی.

قصيده، غزل، مثنوي، داستان او هغه څه چې پښتانه ورته رباعي وايي، او همدغسې دوه بيتي ګانې، مخمس، مسدس، څه او څه د پښتو د شاعرۍ خپل عنعنوي لرغوني جوړښت نه دی.

د پښتو په شاعرۍ کې دغه موجوده کلاسيك فورم چې ښه په عروج کې دی، له ښکارندوي، مرزاخان انصاري خوشال او رحمان بابا راپاتې دی او رښتيا چې ځينې برخې يې د متانت، خوږلنې او انسجام نه ډکې دي.

مګر دغه کلاسيك فورم علاوه پردې چې په پښتو کې مستعار او مهاجر دی د پښتنانه ولس د ټولوافکارو، عقائدو او احساساتو ترجمان نه شي کېدای، ځکه چې ډېر تنګ، ګنډلی او محدود دی.

زما په فکر شعر عموماً او د پښتو شعر خصوصاً د ساز او سرود د پاره پيدا شوی دی، په پښتني نړۍ کې شعر، ساز، او نڅاګډ، ممزوج او يو پربل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري تړلي دي. يعني شعر ددې دپاره دی چې و غږول شي او دساز سره وويل شي او بيا شعراو ساز د دې دپاره دی چې ګډا او نڅا ورسره وشي.

پخپله پښتني روحيه د فن او هنر روحيه ده. ددې خبرې د اثبات دپاره د پښتو د خپلو اشعارو عنعنوي شکلونه، دګډا، اتڼ او نڅا قسمونه، ساز او سرود رقمونه او دساز مختلف او متنوع الات چې په همدې هېواد کې پيداشوي دي. او ددغو کتنه او مطالعه بس کېږي.

څومره چې زه پوه شوی يم، د پښتو د شعرترټولو لرغونی، اساسي او بنيادي قسم "لنډۍ، ټپه، مسره" ده. دې قسم شعر ته "ټيکی" هم وايي، خو په يوه خاصه ملاحظه. مثلاً کوم وخت چې لنډۍ د کوم "سر، نيمکۍ، سروکي" سره يو ځای کېږي او د موزيکال رقص زمينه تياروي، نو هغه وخت لنډۍ ته "ټيکی" وايي.

زمونږ په ولس کې دا. يو متل غوندې دی چې هر څوك يوه خبره ډېره تکرار وي نو ورته وايي "څه د ټيکيو سر دې ترې جوړ کړ" سرونه يا نيمکۍ يو خاص قسم شعر دی. چې بې پايانه ډولونه لري. ټيکی ددغو سره پيوند کېږي او سرورسره تکرارېږي.

لنډۍ په ټوله پښتو نخوا کې يو شکل او صورت لري، مګر پخپله لنډۍ د پښتونخوا په هره سيمه کې په بېل بېل اهنګ ويل کېږي چې په دغوکې د تيرا، او پېښور لنډۍ زيات شهرت لري. يعني لنډۍ يوازې هم يو موزيکال شعردی. خو نه نيمکۍ او سردونه په کوم خاص شکل پورې حصر نه لري. نيمکۍ دومره ډېر قسمونه لري چې تراوسه يې هيڅ احصايه نه ده کړې. وګورئ دا يوه نيمکۍ ده "شاګلې مينې. سور دې پيزوان دی، په کنډو واورې وروينه! شاګلې مينې. سور دې پيزوان دی!"

ځينې پښتانه وايي چې ته يوازې سرونيمکۍ نه بلل کېږي، بلکه څه وخت چې په سرکې نيمکۍ واچول شي نو بيا ورته "نيمکۍ" وايي لکه دا چې "پيغمبري ګل به ترې جوړ شي. شاګلې مينې سور دې پيزوان دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پورته مثال د تیرا اله نیمکیو څخه وګورئ: "جانه لوی شې، سالومې ورو، ورو خوځوه، له خوبه یمه، ګل مامیر جانه" تیکي ورته داسي ویل کیږي "ماته د ګلو ګېډۍ راوړه ګله- زه د وربل دپاسه چتر جوړومه- ګل مامیرجانه. جانه لوی شې، سالومې ورو، ورو خوځوه له خوبه یمه، ګل مامیر جانه".

لاندې مثال د ننګرهار له نیمکیو څخه وړاندې کیږي: " دباغ هلکا! ماله یوځل- له باغه راوړه زیړ ګلونه، د باغ!-" تیکي پکښې داسې اچول کیږي" بورا به خدای په ګلومورکي د باغ! ... د باغ هلکا، باغوانه ستا نیمګړی نیت مې ژړوینا. د باغ! د باغ هلکا ماله یو ځل، له باغه راوړه زیړګلونه. د باغ"!

دا لاندې سروکي هم وګورئ: داهم د باجوړ دي: ((ګودر له مه ځه، زرزري شال دې لمدېږي واګلالی ګلالی زار، زار یخ شمال لګېږي"

یو بل مثال هم عرض•کول غواړم، دا مثال هم د باجوړ دی:

"اوږ ولګیږد نا اوږ ولګیږدنا کوز د چینارو په کنډو لیونۍ راغله!...."

دا ځای د ډېر تفصیل او د مثالونو د ښودلونه دی. په لنډ ډول به دومره ووایو چې د نیمکیو اصلي چینه پکتیا او باجوړ دی. اوسنیو سندرغاړو د نیمکیو شان ډېر راتیت کړی دی. سروکي د هر بیت او هرې لنډۍ نه نشي جوړېدای. سر، خورا ښکلي، عاشقانه الفاظ دي چې په هغې کې یوه خاصه جمالیاتي وضعه تصویر شوې وي او په هغې کې یو داسي کیف وي چې په ډېر تکرار راځي. وګورئ پورته ذکر شوي مثالونه. داتن تولې ناري هم باید په نیمکیو کې وګڼو، خو بیا هم ښايي چې یوه ځانته نوعه نیمکۍ وبلل شي. د اتڼ اقسام او ناري په وردګو، سلیمانخېلو، کندهار، پښین، مروتو بنو، ختیکو کې په ښه شان او په سوات او چترال کې هم پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اتڼ قسمونه چې څومره ښکلي او ښائيسته دي، هغومره متنوع هم دي دا دواړه قسمونه يعنې د پکتيا او باجوړ نيمکۍ او دروه د اتڼ ناري د موزيك او نڅا د شعر له اقسامو څخه دي. خو لکه چې ومويل څينې باريك او نازك فرقونه به هم لري.

د لنډو او نيمکيو پسې د پښتو د موزيك او ګډا د اشعارو له اقسامو څخه "لويه، بګتۍ، ټاپکه"ده . دا دري واړه نومونه د يوې نوعي شعر دپاره دي. دا شعر ځانته مطلع، مقطع او بندونه لري. کټ مټ لکه غزل. خو د غزل او بګتۍ په منځ کښې د ځمکې او اسمان فرق دی.

په بګتۍ او غزل کې فرق ذوقي دی،خو دومره سړی ويلی شي چې عموماً په بګتۍ کې چستي زياته ده او په غزل کې راګ او تال زيات حس کېږي، نو ځکه د بګتۍ رقص هم چست دی، دبګتۍ يو مثال:

جلۍ ديار سلام ته ځي سترګې يې سرې دينا + زلفې يې پنجرې دينا

* * *

جلۍ ديار سلام له ځي وريسې مري عاشقان زار قربان
د ليونۍ دلاســـه ډکې هـديرې ديـنـا زلفې يې پنجرې دينا
جلۍ ديار سلام له ځي وريسې مري عاشقان زار قربان
د ليونۍ لـــه لاسه ډکې هـديرې ديـنـا زلفې يې پنجرې دينا.

د توکل، ميرا، شيد کمال او رمضان شعرونه عموماً په غزلونو کې راځي،خو دلته دا نکته يادول ضروري ده،چې دا غزل په پښتونخوا اړه لري. د ايراني او عربي تقليد نه وتلي دي. دا هم بايد هېره نکړو چې لومړي درې کسان په غزلو کې د ځانته او عليحده ليك خاوندان دي او خالص د پښتونخوا مال حسابېږي؟

خو رمضان او دهغه نه منځکښې د لرې پښتونخوا غزليان شعراء لکه نوروز، خرم، سلطان پښتو غزل هندي راګونو ته نژدې کړېدی او کله يې د معاصر هند تقليد هم کړی دی،خو ډېر استاذانه چې يوازې استادان پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدای شي. د برې پښتونخوا موزيکالو غزل ويونکو شاعرانو کې بها يي جان، ملنګ جان او سېلاب د ذکر وړ دي. البته دا ځای د شرحې نه دی. امير حمزه استاذ د غزل په ستايل کې ډېر تغير و نشو کړای‌خو په مضمون کې يې لوی ابتکار وکړ. مدعا دا ده چې په اوسني پښتو کې داسې غزل هم شته چې خالصه د پښتو مال بايد وبلل شي، خو ياد لرل په کاردي چې غزل او بګتۍ د پښتو د شعر بېل بېل انواع دي، چې که څوك يې يو د بل سره مخلوط او يو شی وګڼي‌نو د پښتونولۍ په دنيا کې به د هغه په نابلدۍ دليل وي.

د پښتو د غزل او بګتۍ لړ فرق په دې هم کېدی شي چې تول غزل د نڅا او رقص دپاره نه دی، مګر بګتۍ له رقصه نه بېلېږي. که بېله شي نو لکه د ګل نه چې بوي لرې کړی شي.

يو بل فرق به دا وي چې لنډۍ او نيمکۍ خالصه د ولس او ملت مال دی. په دې قسم موزيکال شعر کې چې خالص د ولس او ملت مال ګڼل کېږي او شاعريې نه دی معلوم د پښتو شعر د مشهورو اقسامو څخه د قصو او رومانونو نارې هم دي. لکه فتح خان او رابيا ګله، موسی خان او ګلمکۍ، آدم او درخانۍ او داسې نورې قصې چې په قصه کې يو يو غږ دساز سره او رول کېږي.

بګتۍ او غزل له دغه پورته درې واړو قسمونو څخه [1] په دې هم بېلېږي چې بګتۍ او غزل لکه څنګه چې خاوند لري په پښتني تول بحراو قافيه هم لري او التزام يې ضروري دی‌خو لنډۍ هېڅ قافيه نه لري. نيمکۍ يې کله لري او کله يې نه لري. نارې پخپل پښتني رنګ کې اکثراً قافيه لري‌خو په دې وروستيو دواړو کې د خاص بحرالتزام نشته.

---

[1] يعنی د لنډۍ، نيمکۍ او د قصو د نارو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو د پښتو بګټی، او غزل د نیمکیو غوندې د حصر او تحدید لاندې نه دي راغلي. هره ورځ پکښې شاعران نوی رنګ او اهنګ پیدا کوي.
ددې شپږو قسمونو (لنډی، نیمکی، ډاتن ناره، د قصو ناره، بګټی، غزل) پښې اووم قسم چې دا هم په پښتو پورې اختصاص لري چاربیته ده. چاربیته هم د سازد شعرونو په اقسامو کې راځي. مګر دګډا او نڅا نه عاري ده. چاربیته په پښتو کې په دوه ډوله ده: عادي او زنځیري. دواړه قسمه د پښتنو عروض په اساس بحر او قافیه لري. دعا دي چاربیتې مطلع اتر څلور مسرې لري چې دوه یې یو قسم قافیه او دوه یې بل قسم قافیه لري. بندونه یې اکثره د څلورو پنځو مسرو څخه کم نه وي، بیا د بند په ترجیع کې د مطلع دواړو قافیو دپاره مسرې پیدا کېږي. مثلاً دا د یوې چاربیتې سر دی:

((د سرو تیک دې پلوشې کا په جبین باندې
نن دې دواړه سترګې سرې دی له خماره
د بنا تیست ثاني دې نښته دی په چین باندې
نوراني شغلې دې خېژي له رخساره))

زنځیري چاربیتې ډېرې مسلسلې قافیې، پېچیده مطلع، اوږده اوږده بندونه او عجیب او غریب ترجیعات لري (ددغه کتاب چاربیتې او س هم د شاعرانو او ساز والاو په خولو جاري دي لکه داچې:

"یوه لور د قاضي وه هم عاقله هم داناوه
بېخوده شهزاده سیف الملوك یې که ګویانه- یوه لور د قاضي وه"

یا لکه دا چې:

"ملوك شهزاده خلاص شو، د پېریانو زنځیرو کښې شو
ووت له ځنګلسه تاترین په ننداړو کښې شو
ملوك شهزاده خلاص شو"

یا لکه داچې:

"چې ورغی شهبال باچا، قلزم یې و نیولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدري ‌کړي وه فتحه ورتي راوست لاس ترلي - چې ورغی شهبال").

د چاربیتو اقسام هم نه دي حصر شوي ،خورا ډېرقسمونه لري. او نوي نوي په کښې اختراع کیږي. زنځیري د شعري قوت انتهاده په دې لړکې کامیابي پخپله د شاعرۍ لوی سند دی.

شپږ اول قسمونه د میني او محبت، عشق او مینتوب پورې منحصر دي، خو په چاربیته کې عاشقانه مضامین، قصې، تاریخ، مذهب او روایات ټول بیانیږي. د کوم خاص مضمون انحصار پکښې نشته. البته عاشقانه چاربیتې ډېرې خوندورې دي او د ساز سره ډېر خوند کوي. چاربیتې اکثره دعاشق او معشوقې یا د دوی د ماحول مور او پلار، رببار او رقیب په سوال جواب او ګفتګوی ډکې وي. په پښتو شاعرۍ کې د ښځو له خوا د عشق اظهار په ډېر قدیم روایت دلالت کوي.

د پېښبور محمد نور نامی یوزرګر چې شاعر و او یا کاله مخکښې د شهزاده سیف الملوك قصه په چاربیتو نظم کړې ده. چې نهایت خوندوره او د ساز و سرود نه ډکه ده. خوافسوس چې اصل نسخه چې چاپ شوې ده اوس ډېره کمیابه ده که اصل یې پیداشي په ډېر دولت ارځي او وروسته چاپ شوې کاملاً غلطه ده هېڅ افاده نه کوي په چاربیتو کې د ننګرهار غریبي او زرجان او د پېښور نورالدین، محمد ین او ملامقصود زیات شهرت لري.

تر دې وروسته د پښتو شعر له اقسامو داستان او مثنوي دی. چې اکثرا په کښې قصې بیانیږي. داستان اوږد نظم وي،خو د غزل غوندې د دوهمې مسرې قافیه یوه وي. لکه دبهرام شهزاده قصه چې فیاض په نظم کړې ده. او مثنوي خو معلوم دی چې د هربیت دوه مسرۍ یې په یوه قافیه وي خو یو بیت د بل غوندې قافیه نه لري لکه د امیر حمزه قصه چې د نوښار ملانعمت الله لیکلې ده.

البته ټول مثنوي ګان په یوه بحرنه دي اوځینې واړه او لنډ وي لکه د خجستې او د توتي قصه، او ځینې په طویل بحر وي لکه د امیرحمزه پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر شوې قصه، دپښتو په مثنوي ګانو کې مستزاد مثنوي هم شته چې دا قسم د ننګرهار د للمې ملااحمد ګل تره کې اختراع کړی دی. لکه دا:

## د شیخ قصه

پخوا په زمانه کې په یو ښار کې و یو شیخ　　هغه ځای کې و میخ
باچا دهغه ښار چې په سخاوښکلی نوم و　　هر چا وته معلوم و
بخښلی یې دې شیخ ته د بخشش په دود قباوه　　خو شرنګه‌دلبر باوه
د شنه حریر د پاسه مرغلرې قط په قط　　ترتیب په یونمط
قبې د سپینو زرو دسرو هم ورسره شمېره　　پې نښتې وې برسېره

تردې ځایه مونږد پښتو د خپل شعر بیان وکړ. د پښتو د کلاسیك د خپل شعر ذکر مو په اول کې کړی دی تر دغو بیان شوو اقسامو څخه پرته یو بل قسم شعریا نظم هم شته چې ډېر لرغونی شکل لري. په دې شکل او فورم باندې د قدیم باختر ادبیات لکه ویدونه، ژند، اوستا هخامنشي اثار، ساساني کتیبې او د لویکانو د عصر ځینې اثار چې کشف شوي دي لیکل شوي دي. دا تشکل د حضرت بایزید روښان د خیرالبیان پورې رارسېدلی دی او اخون درویزه هم زیارکښلی دی چې خپل مخزن اسلام په دغه شکل ولیکي:

وایي چې فوائد الشریعه هم پردغه فورم کښل شوی دی.

دغه فورم په که څه هم لږ موزیکال وي، خو دهر قسم مضامینو د بیان دپاره مساعد دي.

اوس زمونږ زړه ته دا راځي چې پښتو بېرته خپل اصل ته ور وګرځوو، او په مقفي نثر، یا د سپین شعر په اساس یې ولیکو. یعنې د (بلکا) نه وروسته د شعر بڼه بدله کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې کار تمهید د پر پخوا ایښودل شوی دی او "د مرغلرو امېل" څخه د پښتو د شعر په کلاسیك فورم کې د توسیع پیدا کولو لاره نیول شوې ده.[۱]

په "ځاروان" کې دغه زیار نور هم ټینګ شو[۲]

په بلکا کې دې کار بله بېه غوره کړه چې هغه باید د پښتو د شعر دپاره د کلاسیك فورم څخه د خلاصون دوره وبولو. په دې ډګر کې د بلکا (ای ددې جهان خاونده" نظم لومړی ګام دی.

دې مجموعې ته موځکه (بلکا) وویله چې (بلك ځلك) جرقې ته وایي چې د (بل- ځل) نه جوړ شوی دی.

ددغسې اسمونو په اخر کې الف د دوام او تسلسل معنی لري. لکه (وینا، ګرېدا، کړیا) نو (بلکا) تل بلېدونکې لمبه ده چې نه مړه کېږي. په بلکا کې که څه هم د پخوانو دوه مجموعو ځینې نظمونه راغلي دي،خو د پر یې نوي دي او خپاره شوي نه دي ځلوېښت کاله مخکې چې لومړی ځل مونږ د شعر مشق کاوه او قلم مو په لاس کې اخیست، نو هغه وخت لامونږ د مضمون په لحاظ د کلاسیك شعر د زلفو د غړوندي [۳] نه ځان خلاص کړې و [۴] نه مو د وصل شپه یاده کړېده او نه مو له سحرانه ژړلي دي. نه مو د سپین مخ او سپینو لیچو په غم کې ځان کړولی دی[۵] زمونږ مخکښې خپله عظیم الشانه جامعه وه چې له عرش نه تحت الثری ته رالوېدلې او توټې توټې شوې ده.

زه د علم او ادب په شهي مین وم. ما د بوډۍ په دې ښایسته ټال کې ډېر زانګلي دي. او د خیال په عالم کې مې د ډېرو نوو دنیاګانو سیلونه کړي

---

[۱] لکه د مرغلرو د امېل دا نظمونه "دا ځکه چې پښتون یم، "سپین غر" او بهار دی."

[۲] لکه د ځاروان دا نظمونه "د ښکلا نړۍ جهان"، "دادی مسکو" او "د شاعرزړه"

[۴] "من بندهٔ آزادیم شاید که ګریزم باز+ این طرهٔ پیچان رابرګردنم اویزی"

[۵] "وختو اسمان ته یوزر د ازادۍ بیشر+ ته لابند په زلفو یې دا خیال خوشې عبث دی"

[۳] "دسپین مخ او سپینو لیچو غم کې ډوبه+ دا خبرې هم وړې دي هم زړې دي"

(د خادم ـ ځاروان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، خو چې کتل به مې په خپل جنت (د براديس- فردوس پيراداڼين) کې به چې "ځگ له کل جهان دی" گرځېدم.

رشتيا دا ده چې دا کار ښه وکه يد، ما کړی نه دی په ما شوی دی. پلکـا يو نوی جهان دی. د بر تازه او د پسرلي په گلانـو مالامـال! ددې خـوب نـه دوبنتيا تعبير کـيدی شي او د دې خيال نه د يو حقيقيت تصوير لاس ته راتلی شي. دلته ښکلا او ظرافت، د بداعت او قوت او تاريخ د حال او دواړه د مستقبل سره د شعر په طلسمي وربنيميني رسی تړل شوي دي.

زه پوه شوی يم چې ما دا ځلوبښت کاله مزل خوشې نه دی کړي. قدرت خپل کار کوي، د چا ژبه، د چا قلم، د چالاس او د چا توره ورته بهانه شي! تر دې وروسته به گورو چې د خپل "نوی ادب" په تکل کې تر څه حده برياليتوب زمونږ په نصيب کـيدای شي! اگر چې "نوي پوهيتانـه" ښکلي موقف ته رسيدلي ده زه پـه خپـل کار او زيار، فکر او ذکر د عمر په شپيتو ورځو چې په دې شغل کې تېرې شوې دي راضي يم، شکر باسم!

والحمدلله رب العالمين!!!

۱۵ د سرطان ۱۳۴۸

کابل - خادم مينه

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغاني ترانه

په زره د ایشیا کې یو لال د بدخشان یم
افغان یمه افغان یم، افغان یمه افغان یم
روغ شوئ په عمرونو، پوخ شوی په عمرونو!
په منځ د کوهستان کې لوی شوی په عمرونو!
تاریخ ته د قومونو پخپله زه داستان یم
افغان یمه، افغان یم، افغان یمه افغان یم
دنیا شوه منوره زما له کهستانه!
نړۍ شوه بهره وره له دې باغو بستانه
اوچت له تولې ځمکې په بام ددې جهان یم
افغان یمه افغان یم افغان یمه افغان یم
قومونه د دنیا ټول بدل او را بدل شول
په ژرنده کې د دهر میده میده اودل شول
دا زه یم چې عمرونه ژوندی په یوه شان یم
افغان یمه، افغان یم، افغان یمه افغان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــابل او نینـــوا تـــه، زمـــا اورو نـــه لاړل
اتـــن څنـــې رو ماتـــه زمـــا فکرونـــه لاړل
تبلیـــغ د ســـرپټوب تـــه ورغلـــی ترجـــاپـــان یـــم
افغـــان یمـــه، افغـــان یـــم، افغـــان یمـــه افغـــان یـــم
د فکـــر انقـــلاب مـــا راوړی دی جـــهان تـــه
بریښنـــا د ســـپیڅې تـــورې مـــې تللـــې ده اسمان تـــه
دهـــر ظلـــم پـــه مخکـــې د عـــدل نګهبـــان یـــم!
افغـــان یمـــه،افغـــان یـــم،افغـــان یمـــه افغـــان یـــم
راســـخ مـــې ملیـــت دی محکـــم مـــې قومیـــت دی
دښمـــن مـــې تـــل شـــرلی لـــه خـــاورې پـــه غـــیرت دی
ثـــابت پـــه یـــوه حـــال یـــم زه قطـــب د اســـمان یـــم
افغـــان یمـــه، افغـــان یـــم، افغـــان یمـــه افغـــان یـــم

۵ د سنبلې ۱۳۳۹ کابل

# د کابل سیند

سپېڼې واورې چې اوبه شوې د پامير په لوړو څوکو
نرمې نرمې، لړې لړې، غلې غلې، څڅېدلې
ډنډاوونو، ګړنګونو، کمرونو او پانونو!
رالوېدلې، رغړېدلې، څڅېدلې، بهېدلې
څه له دې خوا، څه له هې خوا، زنځيري لښتي جوړ کړي
د کلانشو، د غشاپولو، له ځنګلو راوتلې
له لښتيو نه ښېلۍ شوې، له ښېلو نه شوه خوړونه
چې خوړونه سره يو شول په زوږونو ګډېدلې
له پامير نه هرې خواته، په سفر شولې روانې
زغلېدلې، ترهېدلې، له فراقه ژړېدلې
له پنجشېره، له شتله، له غوربنده شوې رانښکته
له ميدانه له تګاوه، له لوګره چې راتللې
يو قوت شو په قوت بيا، د فطرت له لويه سره
د وربښمين تنګي له لارې ننګرهار ته ووتلې
د کونړ له سردرونه، د سپين غر له ښاپېرونه
د لغمان له ښکلو څوکو، په مستۍ راکوزېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل لاره يې طی کړه، د خيبر نه شوې ورتېرې
پېښور کې شنه باغونه کروندې يې جوړ ولې
سوات له خپل جنتې ملکه، باړه راغله له تيرانه
د کابل سره په ګډه يې د ژوند ويلې بدلې
د کابل د سيند اوبه وې؟ نه د مور دخوا شودې وې
له سينې د پښتونخوانه چې سيندونه بهېدلې
ودانې، مينه، نرمي يې وه له ښان سره راوړې
چې په هسکو سختو غرونو کې يې لارې وايستلې
په خوږه مينه ورورۍ شوې داتګ په سيمه ګډې
آباسين له ډېره عشقه خپلې غېږ کې ونيولې
منظره د خوشحالي‌يې د شاعر د سترګو ور وه
غرونه غرونه، لاندې باندې، پرزېدلې، هسکېدلې
له ازله دا وروري ده، تر ابده به هم اوسي
په هېڅ ډانګ به بېله نشي، هر قوت که باندې يلوسي

کابل- ۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زلمیان

چې ویښ وو اوس یې وینمه ویده غونډې ښکارېږي
ځوانان چې لږ څه ګرم وو ساړه غونډې ښکارېږي
رښا یې چې به بدن کړه اورکې غونډې په شپه کې
افسوس دی چې پخپله اوس تیاره غونډې ښکارېږي
همسا غونډې چې سم اوتکیه ګاه وو دلوېدلیو
لیندۍ د بل د لاس شولې کاږه غونډې ښکارېږي
له ورایه وراپه غښت وو د خبرو په کولو
چې ښه ورته نږدې شومه واږه غونډې ښکارېږي
د نس د درد خبرې وې د زړه له خوږه نه وې
دا څکه شوه اوس غلې چې ماړه غونډې ښکارېږي
تول شوي په ښانك وو د حلوا په تمه باندې
ګوله چې په لاس ورغله خپاره غونډې ښکارېږي
فیشن باندې ځوانان دي ،خو د فکر له پلوه
ماغزه یې که لږ وګورې زاړه غونډې ښکارېږي
لاهو پکښې پښتون دی پښتونخوا په ډوبېدو ده
زلمیان په دې سیلاب باندې سپاره غونډې ښکارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرونه چې دعوه یکښې د مینې محبت وه
ساره شوه ،خو په بل ډول تاوده غونډې ښکاریږي
په دغه انحطاط کې چې سودا دعیش و نوش کا
ماغزه کې تیک ونه بولې وراسته غونډې ښکاریږي
ددوه وتنګئ یې پسربهندو روان شو په خلورو
پخپله په لاړنه درومې رانده غونډې ښکاریږي
مراد چې لنه کوم ونیه د ملت کته ایستل وو
زلمیان یکښې پخپله اوس پراته غونډې ښکاریږي
پیمان یې مات په خوښه د ساقي په پیمانه کړ
طفلان دي ،خو په ښه لې پاخه غونډې ښکاریږي
مزه د محبت صدق وصفا یې پاتې نه ده
غلط وریاندي نه شيء چې خواږه غونډې ښکاریږي
کسه څوتنه ویده شول په زړګونو راویښ شوي
خادمه پخواني وخت په واته غونډې ښکاریږي

جلال آباد ۱۸ د دلوی — ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوښۍ دنیا

هیڅ غمونه پکښې نشته د خوښۍ ډکه فضا ده
خلك وايي چېرته لرې يو جهان دى د ښکلاؤ

—۱—

ګلان شته دي بې اغزيو، خمر شته دي بې خماره
آئينې د زړونو صافې دي له زنګ او غباره
هر سړى پخپله ژوند کا، خو د بل رضا دپاره
يارله يار سره ياري کا ګټه نه کوي له ياره
ژوندهمدغه دي، خو هلته د ژوندون بله معنى ده
خلك وايي چيرته لري يو جهان دى د ښکلاؤ

—۲—

هیڅ غمونه پکښې نشته عجيبه شانې جهان دى
په کينه څوك نه پوهېږي، خو يو عشق د انسان دى
تل خوښي ده خو شحالي ده هر سړي پکښې کامران دى
هره ورځ د وصل شپه ده نا اشنا پکښې هجران دى
اوړى ژمى پکښې يو دى په يوه شان يې هوا ده
خلك وايي چيرته لري يو جهان دى د ښکلاؤ

—۳—

دنګې دنګې، لوړې لوړې ماڼۍ هر چېرته ولاړې
ټول باغونه کروندې دي چېرته نشته ځمکې شاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارم بڼ لپیسوی ګرځي تکي سپیني جګي غاړي
سرې شوې ګوللکې لکه د زرکو ښوریه پیسه لکه خراړي
بیسارالنې دي، تماشې دي، درقیب خونه تالاده
خلك وایي چېرته لري، یو جهان دی د ښکلاو

—۴—

نه مرض نه مفلسي شته نه ظالم او نه مظلوم شته
چې څه دي سم سمکی دی نه حاکم او نه حکوم شته
نه ضرر او نه ازار شته نه دبدو چېرته نوم شته
هر یو کس په خپله ژوند کا نه خادم او نه مخدوم شته
کار د هر چا وظیفه ده بې تکلیفه مشغولاده
خلك وایي چېرته لري یو جهان دی د ښکلاو

—۵—

دي وطن د بیاره کار کا، نازنیني ملك خویه
شکرلبي مه جبیني عنبریني سنبل مویه
نرمې نرمي پاکي ښکلي خنده رویه
تویي بوي ګلان له خولې نه ګل خنداني سمن بویه
د ژوندون صحنه تمامه تماشه ده سینماده
خلك وایي چېرته لري یوجهان دی د ښکلاو

—۶—

نر او ښځه هلته دواړه یو خاوند بله مېرمن ده
وواك د خان د هرچا خپل دی له قدیمه، نه چې نن ده
ژوند په مینه همکاري دی د اجبار تړله لمن ده
ښځه کړه د چانه ده، بلکه (مېر) او (مهرمن) ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو سکون دی تسلي ده د ژوندون یوه مسکاه ده
خلك وايي چېرته لري يو جهان دی دښکلاو

—۷—

رقابت خو پکښې شته دی خو د علم او د کمال دی
سړیتوب هلته معیار دی چې سړی وي هغه سیال دی
تول د هر سړي معلوم دی که خور دی او که مثقال دی
یون د ټولو یو طرف دی یو هدف یو ایدیال دی
هلته کفر بې کاري ده ناپوهي لويه بلا ده
خلك وايي چېرته لري يو جهان دی د ښکلاو،

—۸—

هېڅ بې پلاره پکښې نه شته هر یو مشر هلته پلار دی
هره مشره ښځه مورده عجیبه شاني روزګار دی
دمیړه په لاس کې نه دی په خپل لاس د ښځې کار دی
داسې نه چې ګوندې ښځه او ماشوم د اوږو بار دی
غم خور شوی دی له سره له غموخالي دنیاده
خلك وايي چېرته لري يو جهان دی د ښکلاو،

—۹—

نه آهونه شته د کوندو نه ژړاد یتیمانو!
نه د عوې نه مدعي شته نه پروا دحاکمانو
طبیب ګرځي په ناروغو نه ناروغ په طبیبانو!
د خوارۍ مېخ نیوی شوی چاره شوې د خوارانو
په هر زړه کې بل دپاره د خوښیو تمنا ده
خلك وايي چېرته لري يو جهان دی د ښکلاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



—۱۰—

پہ .. سروند یـو یـې فکـر دېر لاسـونه یـو یـې کـار دی
ترقـ .. یـ .. مدعـا ده چېرتـه کلـی او کـه ښار دی
پـه .. اتفـاق درومـې جـوړ دزانو یـو قطـار دی
د مشـرۍ دپـ .. ره فکـر او عمـل هلتـه معیـار دی
پـه وینـا د ډېرو خلکـو د مشـرانو امنـا ده
خلـك وایـي چېرتـه لـرې یـو جـهان دی د ښکـلاو

—۱۱—

یـوه نسوې جامعـه ده او یـو نـوی یـې انسـان دی
پـه همـدې ځمکـه اوسېږي خـو او چـت لکـه آسمان دی
پـه یـو فکـر خـو روان دی خـو دافکـر هـم روان دی
هـم ثـابت دی هـم سـیار دی لکـه ځپلـه دا جـهان دی
لـه قومو .. یـې جـوړه شـوې د وحـدت لویـه بنـ .. ده
خلـك وایـي چېرتـه لـرې یـو جـهان دی د ښکـلاو

—۱۲—

لکـه کـوچ دا جامعـه ده چـې وتلـې لـه شـودو ده
ګېینـې دي د عـسـلو ډکـه پکـه لـه خـوږو ده
نتیجـه دوا .. فکـر او د انسـان د فلسـفو ده!
ودانـي او ارتقـایې و انسـان وتـه آرزو ده
د تـاریخ د ارتقـا لـه مراحلـو نـه پیـدا ده
خلـك وایـي چېرتـه لـرې یـو جـهان دی د ښکـلاو

کابل د ثور اول ۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انګرېزه توبه

تا ملــــستونه ددنــیا کړه ریزمریزه توبه
انګریزه توبه

—۱—

د پـــــوهـــې غـــــر دې پـر آسمـــان دی　　واړه علــم درتــــه حـــیـــــران دی
هـــــر تـــــوانـــــا درتــه نــاتــــوان دی　　دجهان اس کړي حرکت ستاله مهمېزه توبه
انګریزه توبه

—۲—

کـــــه پـــه دوستی وي کـه پـــه جنګ　　لـه خپـــــل مطــلبه نـــــکړي څنګ
کارونــــــه تـــــل کــړي پــه نیرنګ　　توبه، توبه شه ستادعقل له جنګریزه توبه
انګریزه توبه

—۳—

کلــه زمــــري شـــې پــه حمله کې　　کله ګیـــدړشـــــې پـــــه حـیله کــې
دېر دي ګیر کړي پـــه اســـــره کـــې　　دېردې قربان شوه د سروشوندوله مکېزه توبه
انګریزه توبه

—۴—

کلـــــه د مـــورنــه مــهربـــان شې　　کلـه خـیرخــوا هـه دانـــــسان شـــې
کلـــه شـــې دوبست او کــلــه وران شې　　کله شې زیات له هلا کو او له چنګېز ه توبه
انګریزه توبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګریزه توبه

—۵—

ددې دنیا رنګه دې بدل کړو چې نه شو سم هغه دې دل کړو
یا دې بنکاره یا دې په چل کړو پښتون دې تېر کړ لوله خپله تیغه تیزه توبه
انګریزه توبه

—۶—

ټولې دنیا سره یو څه شوې خسو پښتون خوا سره بنه نه شوې
مونږ نه پوهیږو دا په څه شوې دې جهنم ستا د سینې له اوره تیزه توبه
انګریزه توبه

—۷—

محاصره دې له هر خوا کړو هم له مادي هم له معنی کړو
ورور دې له ورور څنې جدا کړو ډېره توبه ستا د نفاق له تخم ریزه توبه
انګریزه توبه

—۸—

یا به رنګه کېږې ستا په رنګه کې یا به دل کېږې ستا په جنګه کې
"خادم" درغلی دی په جنګ کې جنګ خو دې سخت دی خوله رنګه دې رنګریزه توبه
انګریزه توبه

کابل - خادم مېنه
۱۶ د حمل د شپې ۹بجې ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خلکو خدمت گار

زه څه ووایم چې څه او دڅه کاریم | خو د تللي قافلې د پښو غبار یم
د فطرت باغوان کرلی یم پخپله | په دامان کې غوړېدلی لاله زار یم
ځانګې نه راماتوم چې میوه وخورم | چې میوه نثار وی هغه شاخسار یم
ګلان اخلمه د ګلو په بدل کې | سوداګر نه یم د ګلو خریدار یم
مانېونه یم چې دبل په اوږو سپور ځې | د کشتۍ غوندې د خلکو باربرداریم
زهیرېږمه چې څوك رانه ازار شي | څه که خپله زه د خپلو نه ازاریم
عشق او مینې په یوهسې ځای قائم کړم | خوبن پتنګ او سمندر غوندې په ناریم
د سرو شونډو او سور مخ له ډېرې مینې | منت باره د ګلشن او د انګاریم
چې له ښکلو څنې طمعه د وفاکا | ساده لوحه روهیلی د ننګرهار یم
بې له عشقه مې څه عیب او څه ګناه ده | معترف په دغه تورد توره دار یم
که په لارد عشق کې وژارم وچاته | په رښتیا به دروغجن په دې اقرار یم
د خودۍ او خود دارۍ له برکته | په ګومان د ډېرو خلکو دنیا داریم
طوفانونو جګړونو ته د دهر | چې سر نه ښکته کوي هغه کهسار یم
مخ مینځی د ګلو کړم په شان د پرخې | ساتندویه د خپل بوټي لکه خاریم
ازاده یم له همه وارو قیدونو | بې له دې چې یم سړی او سړی چار یم
که څوك مینه مرض بولي نو بېشکه | زه د مینې په مرض باندې بیمار یم
زړه مې پټه خزانه ده دلعلونو | پروت په خپله خزانه لکه ښاماریم
یا مهتاب یم یا افتاب تندرنیولی | یا چې ځان ته سوزی شمعه د مزار یم
کاروانو نه قافلې لاړې په مخکښې | په ایرو کې ترینه پاتې سورانګاریم
چې دتللي کاروان پل ګوري په شپه کې | و هغو ته لکه سترګه د سهار یم

چې معراج د سرېتوب ته ځان زینه کا
زه "خادم" د هغو خلکو خدمتګار یم

کابل د جدي ۲۶ شپه - خادم مینه ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کابل واوره

زري شال د نمر اوچت شو   ورکې لري منظري شوې
فضا سپينه شوه ناڅاپه   په آسمان وريځې خپرې شوې
سپينې واورې دي وريږي
زړه له يخه مې رېږي

پشم پشم سپين بخري!   په فضاكې سره بنوري
د فطرت د ژې غيبي دي   له اسمانه چې را اوري
سپينې واورې دي وريږي
زړه له يخه مې رېږي

غرونه سپين شوه سمې سپينې   پکښې وره كې شولې لارې
پټ په سپينو پاغوندو كېني   هرسو شي شو په يو وارې
سپينې واورې دي وريږي
زړه له يخه مې رېږي

سركونه واړه سپين دي   لوړې لوړې ماڼۍ سپينې
سپين ښاخونه دي د ونو   د مالوچو كه يې وينې
سپينې واورې دي وريږي
زړه له يخه مې رېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــــوه ســـــپینه مـــــنظره ده  کـــه اســمان دي او کـــه مځکـــه
چپــرته ځـــای د ناســتی نشـــته  مـــرغی نـــه الـــوزي ځکـــه

ســـــــپنۍ واورې دې ورېــــــږي

زړه لـــــه یخـــه مــــې ريږيږي

قرمـــري کـــړه ســـپینو واورو  د خـــو بـــانو ســـپین مخونـــه
یـــو پـــه ســـله اثـــري شـــوو  نـــن د بنکـــلو نظـــرونه

ســـــــپنۍ واورې دي ورېــــــږي

زړه لـــــه یخـــه مــــې ريږيږي

نقـــر یـــــي وطـــــن د اوري  پــه غـــنمو طـــلا کـــار شـــي
خـــو لــه دې ســپینو او ســرونه  تــور ســکاره زمـــا پکـــار شـــي

ســـــــپيني واورې دي ورېــــــږي

زړه لـــــه یخـــه مــــې ريږيږي

هـــای غـــریب یمــه بـــې وزلی  پـــلار مـــې نشـــته دي یـــتیم یـــم
اوري ژمي پـــه عـــذاب کـــې  د ســـعیراو د حجیـــم یـــم

کونـــــډه مــــور مــــې راتــــه ژاړي

خویـــــندي ورونـــــه مــــې رانغـــاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# وطنه ګران وطنه!

تـــاج دایشـــیاجنت د مـــخ یـــې د جهـــان وطـــنه!

وطنه ګران وطنه!

تـــه یـــې ځـــانګو ببشـــکه، د آریـــن د نـــژاد
اولـــه خبنـــته یـــې تـــه د تمـــدن د بـــنیاد
اوســـه ودان ژونـــدي دې واړه فـــرزندان وطـــنه

وطنه ګرا ن وطنه!

ســـتا توریـــالو زامـــنو او پـــاك لمـــنو لوڼـــو
دنیـــا تـــابع کړېـــده پـــه خپـــلو ښـــو خـــو یـــو نـــو
یـــو ځـــل بـــه بیـــا کـــړې تمـــامي عـــالم حیـــران وطـــنه

وطنه ګران وطنه!

د خپـــل پـــلرونو غونـــدي، پـــه شـــجاعت او ایمـــان
ستـــا پـــه خدمـــت کـــې بـــه کـــړو مونـــږه ســـرونه قـــربان
دا وظیفـــه ده لـــــه ازلـــــه د افغـــــان وطـــــنه

(c) ketabton.com: The Digital Library




وطنه ګران وطنه

له سره تیر یو په تا، ښکلي زیبا وطنه
داغ دې په زړه لرو مونږ، د اعتلا وطنه
کړو به جلبل په اور د مینې ستا کې ځان وطنه
وطنه ګران وطنه

د یوه پلار یو زامن، یو مؤمسلك او ائین
ټینګ په یوه اعتقاد یو د اسلام ښکلي دین
لکه سیلاب یو د مقصد په لور روان وطنه
وطنه ګران وطنه

یاد داشت: دانظم سهواً د اتم ټولګي د قرائت په کتاب کې د بینوا په نامه چاپ شوی



(c) ketabton.com: The Digital Library



# سینما ده سینما

جوړه نوې ساحري شوه په جهان کې يې غوغا ده
هلې زرکوئ چې درومو، سينما ده سينما ده
طالبان له مدرسې نه ډلې ډلې ورته درومي
پيغلو ځان ورته سنبال کړ غلې غلې ورته درومي
میندو وړو اولاد ويده کړ مخ مينځلې ورته درومي
د راډيو د خولې خبر دی ډيره ښکلې ډراما ده
هلې زرکوئ چې درومو سينما ده سينما ده
چا پيسې ورته په پور کړې چا پيدا ورته په غلا کړې
چا د مال په خر خولو چا له بلې خوا پيدا کړې
ميرمن سرې دا توري سترګې خپل خاوند ته په ژړا کړې
په قرضونو کې دې ډوب وي نن اخستې يې تنخوا ده
هلې زرکوئ چې درومو سينما ده سينما ده
د صنعت سوداګري ده د هنر ګرم بازار دی
دا د علم معجزه ده چې ناپوه وي پکښې خوار دی
د تهذيب په وسله جنګ دی نوی عصر نوی کار دی
که لر ځير شې د پردې نه ها خوا بله تماشا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلـــۍ زرکـــوي چـــې درومـــو ســـینما ده
دلتـــه جنـــګ دلتـــه جـــګړه ده دلتـــه فـــن دلتـــه هـــنر دی
دا مثـــال د حقیقیـــت دی رانښکـــل شـــوی چـــې منظـــر دی
د لـــړي بـــري خـــبره دې جـــهان کـــې لکـــه نمـــر دی
د قـــوت لـــه وســـائلو یـــوه مـــال بلـــه معنـــی ده
هلـــۍ زرکـــوي چـــې درومـــو ســـینما ده
غلبـــه پـــه علـــم بویـــه هـــم پـــه مـــال هـــم پـــه معنـــی کـــې
څوك له عقله چې مغلوب شي تېنـګ بـه نـه شـي بلـه خواکـې
د صـــانع عکـــس ښکـــاریږي د هـــر فلـــم پـــه ربنا کـــې
عـــاقبت بـــه یـــې څه حـــال شـــي "د خـــادم" دغـــه ســـودا ده
هلـــۍ زرکـــوي چـــې درومو ســـینما ده

۲۸ د دلوی ۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پس له مرګي

پس له مرګي مې يو ځل سر کړئ اوچت    ګوندې پښتون چېرې مور شوی وي تول
ځو مره به ښکلې د وطن وي فضا    چې په پښتو سره جوړ شوی وي تول

## وطن ته

اه په خدمت دې بريالی نه شومه    وطنه ځکه چې سړی نه شومه
باران د اوښکو به په ښار و کوم    باغوان به شم که توريالی نه شومه

## هسکوالی

شان د پښتون چې هسکولی نه شي    په اورو تيښت سر ګرځولی نه شي
بې له پښتو نه د ژوندون څه مزه؟ "خادم" په دغې پوهېدلی نه شي

## صنعت او تجارت

په صنعتې دنيا کې زياته نه ده    که تصنع پکښې څه زياته شي هم
تا جر له ښايې چې دې ګټه وکي    که د ربتيا خونه ميراته شي هم

## تجدد

يو جنتلمين ويل مسجد ته مه ځه    بل راته وويل حجره څه کوې
ما د مېلمه ورته خبرې وکړې    ده راته وويل مېلمه څه کوې

## غټوالی

ځان خودې غټ کړو خو لږ پام دې اوسه    دا خلک غټو ته په غټو ګوري
خوږ خو له کانو څخه ډک دی مګر    خلک "سيری" "منځ" کښې د ګټو ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوې ترقي

ترقي شوه چې زلمی صاحب دفن شو     بې فکري پخپله فکر دو طن شو
د مسکو د چانس دپاره کمونست وَ     ديموکرات شو چې يې وارد واشنګټن شو

## د ژوند اوبه

د ژوندون لاز ده مشکل ګذاره     هو شرط يې دادی چې ته به درومې
د ژوند اوبه دي تپه تياره کې     خوکه ته درومې نو څه به مومې

## هوښيار او حکيم

فکر دځان کوه وطن څه کوې     يوه حکيم ته بل هوښيارو ويل
لويې په کار او په لوی فکر کښې ده     دغه حکيم ورته په جار وويل

کابل دلوه ۱۳۴۰

# زمونږ زلمی

هېواد مايوسه شوله څوانه څنې     څوان نا اميد دی له اسمانه څنې
دا به لادومره خطره ناکه نه وي     پاس يې مشکل دی له خپل ځانه څنې
له دغې ځمکې تر اسمانه نرۍ     دغه پراخه او روښانه نړۍ
زمونږ زلمی لره صحنه ده د سوال     دا همت باندې ودانه نړۍ
وايې چې څوان يمه څوان نه پېژني     جهان کې ګرځي جهان نه پېژني
تاريخ خو پيژني او جبر يې هم     خو دتاريخ قهرمان نه پيژني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بدبخت قوم

ای پـه بدبخـتوکي بدبخسته قومـه　　پـه معنی لنوړ پـه ظاهر پسته قومـه
پـه بدبختی مسې دې یقیـن وشـو لـو　　زمـا نـاپوه خـواره کسم بخـته قومـه
څوك چې ارزو سـتـا د خدمت وکوي　　هغـه لـتاهم شـي بـې دسـته قومـه

کابل - ۱۰ د دلوی ۱۳۴۰

## کار او ژوند

کـــار کـــوه کـــار کـــوه چـــې کـــار ژونـــدون دی
هغـــه چـــې کـــار نـــه کـــوي ژوند یـــې زبـــون دی
کـــار وظیفـــه ده لـــه حرصـــه پاکـــه
چـــې هیـــردي نـــه شـــي عـــالي مضـــمون دی

## څوان او قوم

څـــوان د قـــوم ســـرمایه ده　　هـای افسـوس کـه شي راکـده
لابـــتره بـــه تـــري دا وي　　چـــې راکـــده شـــي فاســـده

### قام او اخلاق

قـــوم نـــوم دی د اخلاقـــو چـــې افـــراد وکـــې شـــریك وي
څـه کـه ویـنه یـې د فـرانس وي پـه اخلاقـو چـې بـلژيك وي
چـې د بـل پـه لاړو لونـد شـي ایـزنها ورشـي جـرمن تـه!
یابهـرام د خوشـحال زوی شـي بـد نـامي پـریږدي وطـن تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پردی رنګ

ځان ته خپل تیا تر جنوړ کړه! د پردي سینما څه کړې؟
په پردي رنګ کې رنګ نه شي که د قامه سره ښه کړې
پردی رنګ سړی بدرنګ کا که لږ فکر باندې وکړې

# د قام سره مینه

بې تاثیره چې تري څوك خلاصېدی نه شي
یو ژبه بل مکتب بل سینما ده
که پردي وي په پردي رنګ کې راغلي
دا څېزونه د یو قام په ځان بلا ده
خپل لباس او خپل اساس درته په کاردی
که دې مینه د خپل قام سره رښتیا ده

کابل - د ۱۳۳۹ دلوه

# خپل آس

درته نه وایم چې خپل خره باندې تینګ شه
تېرې راکوز شه خو په خپل اس باندې سپور شه
پردې کټ دنیمې شپې دی که پوهېږې
ته خاوند د خپلې مینې او د کور شه

۲۹ د دلوی ۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لټون

د مشرکشـــر د لیـــدو دپـــاره! د صحبتونـــو اورېدو دپـــاره!
زه په سود اومه چې چېرتـه ولاړشـم په مخکې ودرشه که پېرته ولاړ شم
یـوه زلمـي راتـه هـوټل وښودو بـل د کلـوب راتـه درشـل وښودو
هلته یـو زوړ و درادیـو څه نـه وو دلتـه شـطرنج و د لیـدو څه نـه وو

مـا ویـل چېرتـه ده حجـرې تـه ځمـه
یـا د مسـجد خـوا کـې دېرې تـه ځمـه

کابل- ۲۵ د دلوی ۱۳۳۱

## حجره

ستا پـه لمن کې همتونه شوو لوي واړه واړه غونـدې سـرونه شـوولوي
تـه وې زانـګو د غـیرت طفـل لـره دلته د قام کوچني خوبونه شووړلوي
پښتـو لـه تـا نـه هـم خفـه ده ګوره چې تاکې نوي فساد ونه شوو لوي
کتـاب راتول شـو د پښتـو د قصـو حجرې د چرسو چلمو نه شوو لـوي

کابل د دلوی ۲۸- ۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماشيني سړی

له حجرې جماته لرې له دېرې نه خبر نه دی
نه زلمی دی خو افسوس دی چې زمونږ له تېرنه دی
مغربي فيشن کې طاق دی عجيبه شاني ګرځي
د خبرو سره خوځي ته به وايې چې ګله بړي
دی زمونږ دا کا زوی دی خو پرديو سره لوی شو
چې د چا سره لوی شوی د هغو په خوی او بوی شو
چې د قام وطن خبرې ورته وکړې خفه کېږي
خلک د ده او دی د خلکو په خبرونه پوهېږي
ماشيني غونډې سړی دی د دفتر د چلېدو دی
نور اميد ترينه ونکړې چې د غرونو د ختو دی

کابل، جوت ۱۳۳۹

## محمود او اياز

دمينې او روستا په سينه کې دخلکو کور وستا په سينه کې
اياز دې پرېښود محمودې لاړې پټ کړې وطن بيا په درونه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې وخت وي ګلان وسپړي ګلونه په ګلشن ښه
ګلاب ښائيسته رامبيل ښايسته چمبيل او نسترن ښه
راځئ چې ورله ورشو د کوکيو په موسم کې
کابل نه ښايسته شوي دي هرات او کتغن ښه
چمن په ګلو ښه ښکاري که ګل په ګلبدن کې
تازه د ګلولښتې چې اغوستې پېرهن ښه
بلبل نه يم چې ووايم نغمې په ګلشنونو
ګلشن زرغونول غواړم د خپل شعر په فن ښه
د چين د ښاپېرۍ غوندې به جوړه مو پښتو کړاى
که تول پښتونخوا کښې مو لېدلاى قدرمن ښه
خادمه که فرصت درته په لاس واى دره غلاى
ګلان به دې د شعر واى کرلي په وطن ښه

کابل: ۱۵ د جدي ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

(د جهانزیب په مینه)

زیبا ګلونه جهانزیب په پښتونخوا کړلي،
تازه بڼونه يې په مينه د بابا کړلي،
بلبلو ځئ هغه چمن له چې صیاد نه لري
بې له اغزو ګل يې په سوات کې تن بيا کړلي
ښکلی وطن ښکلي پښتون ښکلې پښتو ده پکښې
یا په وربل ښکلي ګلونه دي ليلا کړلي
د عشق او مينې په هوا داو د مکيز په سيمه
ګل خندانې د اګلونه په خندا کړلي
قربان د هغه پاکې خاورې د آدم نه شمه
چې درخانې پکښې ګلونه د وفا کړلي
طوطيان به پورته دادم د هغې څمکې نه شي
چې بې ګلونه د نغمو پکښې پخوا کړلي
د افغان زيبه ته باچا وې چې ګلشن دې که جوړ
"خادم" ته ګوره چې ګلان يې په ببديا کړلي

کابل: د جدی ۱۸ شپه ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نه شته يارمې نه شته چې وربل په وروځو خور کړم
تيک د چا دپاره د جبين دپاسه سور کړم؟
نه مې رسي لاس د خداى په چارو بارې څه کړمه؟
ښکلې د تقدير په تندي باندې څنګه نور کړم
هر څه چې پيداشي خو چې ژوند دى هغه نه شته دى
نه پوهېږم څله او د چا دپاره کور کړم
څه به خوشالي د پابسته وي د قصاب په کور
خوله چې وازومه په زړګي باندې مې زور کړم
سخته بې ننګي شوه د پښتون بابا په سينه کې
چا ته څولسي واچوم او چا وته پيغور کړم
تنګه دائره کړه غمازانو د ژوند ون په ما
سوى زړه "خادمه" بې نغمو په څه تکور کړم

کابل جدى : ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ځمه د کابل له سیمې سپینې واورې شوې دي
سرې باغچې د ګلو په باګرام تیارې شوې دي

دغه دروښان ځمکه ده هورې د پښتو په زور
غتې د غرور ککرې ښې هوارې شوې دي

باغ او ځمکه شته دی خو بهار او هنګامه نشته
دلته د بلبلو ترانې کرارې شوې دي

شمعه په سلګو ده انجمن په خپربدو کې دی
شوخې تېزې سترګې د ساقي خمارې شوې دي

مې شته په پیاله کې خو مستي د جنون نه لري
اوس له میخانې نه هدیرې ته لارې شوې دي

یو مې ځۍ ښېبوې ته د توکل اوسید کمال کره
سرې بلې لمبې د نغمو دلته خاورې شوې دي

اورد مینې مرشو د هیواد د زړه په خونه کې
دا په پښتونخوا "خادمه" نوې چارې شوې دي

جلال آباد : ۵ د دلوی ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خوله مې ترخه ده زه په نورو خوږو څه پوهېږم
په غم کې ډوب يم د ساحل په مزو څه پوهېږم
چې رقيبانو سره وخانديږ په مينه هوس
بيا راته وګورې په داسې کتو څه پوهېږم
که راته سُر په سپينه خوله د غمازانو کړې فاش
سر د ركولى شم په نورو قصو څه پوهېږم
خو راته ووايه چې ياريم نو لاډار د څه دی؟
د شونډو لاندې دې په (نه) او په (هو) څه پوهېږم
له دغه سم پښتونه څه شې په غمزو غوارې ته!
چې سم نه وايې په وينا د بڼو څه پوهېږم
لکه بلبل سوری په خار د ګل په مينه کې يم
په زخمي زړه خادمه بې له ګلو څه پوهېږم

جلال اباد ۷ د جدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ډېره مـــې کـــړه تېنـــګه ژړا نـــوره تېنـــګېدی نـــه شـــي
راڃـــې شـــي باټولـــه اوښکـــې هســـې درېدی نـــه شـــي

دومـــره رقیبـــانو مـــــې پـــه زړه داغونـــه ایښي دي
وېره مـــې ده داغ دیـــار د لاس بـــه پکـــښې ځی نشـــي

ســـرې ســـکروټې وګورئ د خولـــې نـــه چـــې بـــاد ېږي
ســـرې بلـــې لمبـــې د غـــره پـــه زړه کـــې ځائیـــدی نـــه شـــي

ســـــته د غـــیرت ســـتنه شـــوه ای خـــاونده خـــیر وکـــې
دا لويـــه مـــاڼۍ بـــې لـــه دې ســـتنې درېدی نـــه شـــي

خپـــل ورتـــه لـــه یـــو پلـــو پـــردی ورتـــه لـــه بـــل پلـــوا
واړه د ښمنـــان شـــوه پښتانـــه لاره مونـــدی نـــه شـــي

ای خیـــبره جـــګک شـــه پښتونخـــوا د مـــخ دســـیمې نـــه
پوزه د دوه سترګو منـځ کښې غرونـه جـوړېدی نه شي

دا غـــږ مـــې پـــه غـــوږ صبـــا "خادمـــه" لـــه هـــا تفـــه شـــو
قـــوم بـــه بـــاقي وي پښتونخـــوا محـــوه کېدی نـــه شـــي

کابل - ۱۳۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرعون ته خطاب

عدالت ورته ښکاریږي ستا ظلمونه چې لېږ څېر شي
ای فرعونه ناموره ! دا مخلوق درپسې ژاړي
تا خدایي په خلکو کړله خو ددوی روزي رسان وې
دا خدایان هم خدایي کاندي هم روزي له نورو غواړي

کابل ۱۳۴۰

# د ننګرهار پوهنتون

چې بادشاه و محمد ظاهر افغان ـ پوهنتون د ننګرهار شولو اعلان
په دې وخت کې وسردارصدراعظم ـ خادم وښودو تاریخ چې و اغښتم
نښانې د نوي عصر د سحر دي ـ له سپین غره په پامیرڅرېکې دنمردي
۱۳۴۱ هـ ش - کابل خادم مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۲

# انګریز او پښتون

انګریز وایي چې زه خدای ددې جهان یم
وایي روس چې نور څه نشته زه انسان یم
اوس دخدای او د انسان په منځ کې جنګ دی
زه حیران ولاړ په غم کې د خپل ځان یم
چې نه خدای او نه انسان یمه نو څه یم
له خاونده تښتیدلی یو حیوان یم
چې انګریز په جهان وي پښتون به نه وي
تښتېدلی دابنده دی له سر کاره
پرې یې بندې تولې لارې دژوندون کړې
په هر خوا چې درومي نشته چېرې لاره
بندګي هومره ګنده شرمندګي شوه
چې نورخدای هم چېرې نه غواړي بنده څوک
خو انګریز د خدای وکیل دی په دنیا کې
چې پیدا کاندي خپل ځان لره ګنده څوک
په نامه د بندګۍ ګندګي غواړي
دغه کاردی په نړۍ کې د شیطان
په تبلیغ د پاک یې وښیي عالم ته
په دغه پلمه یې جوړ که پاکستان

کابل ۱۵ د جدی ۱۳۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دعا

خدایـــــه پښتنولـــــره ورکـــــړې ښه نظـــــام
دغـــه ده دعـــا زمـــا کـــړم یـــې صبـــح وشـــام

ژونـــد مـــو بـــې نظامـــه دی روح مـــو نـــا ارامـــه دی
ای خـــاونده کلـــــه بـــــه، وي دغـــــه ارام

یـــو قـــام او نـــژاد یـــو مونـــږ نـــه خوږیـــږو یـــو پـــه بـــل
وګوره دا حـــــال زمونـــــږ بدموشـــــه انجـــــام

یـــاحق د پښتـــون نشـــته یـــا نشـــته پښتـــون چـــرې
دی پـــــه ازادۍ کـــــښې اوس څلـــــه دی غـــــلام

شـــمعې لـــه پتنـــګ شـــولو ګل بـــاندې بلبـــل میـــن
زه پـــــه خپـــــل مریـــــض لغـــــړ وږي تـــــږي قـــــام

هغـــه ویـــښ زلمـــو لـــره څوک چـــې پـــه دې راز وي پـــوه
زه "خـــادم" پـــــه ډېر نیـــــاز وایمـــــه ســـــلام

۱۳۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دی څوك و؟

لیلا یې په محمل کې وه مجنون یې نه و دی
محفل د زبیدې و خو هارون یې نه و دی
له شورد اباسیند نه مې نغمې کړې ورته سازې
کوکچه مې پرې ورسمه کړه جیحون یې نه و دی
کلي د پښتونخوا د خزانو یې وه په لاس کې
روزل یې ترېنه نه کېده قارون یې نه و دی
کتاب د سیاست او ریاست یې و په غېږ کې
افسوس چې د لوستلو افلاطون یې نه و دی
اعجاز د شاعرۍ مې ورته راوړ له اسمانه
قابل د پوهېدلو د مضمون یې نه و دی
هوما ورله په سر باندې نیولې تاج د بخت و
یا ماو ګشتاسپ وفریدون یې نه و دی
لښکر د همتونو غیر تونو ورپسې و
سرې د پښتونخوا و خوپښتون یې نه و دی
جنت د سعادت او نیکبختۍ یې و په مخکې
راضي له انحطاط په ژوندون یې نه و دی
حشرونه قیامتونه د نهضت یې منتظر وو
لایق د لاړښوونې او لمسون یې نه و دی
خدمت مو په اخلاص د ورورولۍ ورته تقدیم کړ
حاجت یې ورته نه لاره مرهون یې نه و دی ــ

کابل – ۱۰ حمل ۱۳۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوندانه طلسم

اوس د چانه[1] چاته وژاړم فریاد کړم
او د چا د لاسه خاورې په سر باد کړم
شنې لوخړې سرې لمبې مې ځي له سره
څلوېښت کاله زحمتونه چې رایاد کړم
ما اباد ورته رنګین باغ د پښتون کړی
دوی په داسې بې رحمۍ ولې برباد کړم
زه بلبل ومه ثنا مې کړه د ګلو
په نغمو کې نښانه ولې صیاد کړم
نتیجه د تولو دا وه چې یې وینم
ای فلکه ستا له جوره تا ته داد کړم
چې په کار او په خدمت او هنر نه ده
د بنیادیو امید څنګه زه بنیاد کړم

[1] دا نظم د هاغه وخت یادګار دی چې خادم له پښتو تولنې استعفا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ژوندون دی که طلسم که جادو دی
چې په علم نه حل کېږي څه ایجاد کړم
غرونه یو سوري کوی شیرینه بل وړي
زړه مې نه شي ټینګېدی که یې فولاد کړم
په ژوندون کې هسې تنګ شومه چې وایم
یاد تازه د وروستني وار د فرهاد کړم
چې ګلان له تندې سېزي خار زرغون کا
ددې نمر[1] په وړانګو څنګه اعتماد کړم
تول سوبې د چا نه دي روزي شوي
ځان به خاوري کړم خو دا کور به اباد کړم
چې د خدای بنده صلا د عدل او داد کا
زه خادم تا سو په څه ګناه هېداد کړم

کابل ۱۰ د سرطان ۱۳۴۲

---

[1] نمرد شمس مرادف او دهغه وخت کوم نامه او حادثې ته اشاره ده- م

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هوسېږم

ماشوم يمه پروين[۱] او ثرياته هوسېږم
د ځمکې نه مايوس يمه فضا ته هوسېږم

دا ښکلې سپوږمۍ وينمه د شنه اسمان په منځکښې
واوي ده، ګلالۍ- زه يې ښکلاته هوسېږم

د نمر په بېغدلۍ مې زړه له ورځې ځنې تور دی
د تورې شپې سکوت چپې چپتيا ته هوسېږم

په دې خره دنيا کې تور او سپين نه معلومېږي
چې حق کا آفتابي،هغې رڼاته هوسېږم

کرلي چمندونه، سره ښونه د کوکيو!
ګلشن راځنې پاتې شو،بېديا ته هوسېږم

دا هره ورځ چې وينم له پرون نه وي بتره
کوچنی يمه چې نن پسې صبا ته هوسېږم

(کابل ۱۵د سرطان ۱۳۴۲)

---

[۱] پروين د مجروح لور او ثريا د خادم لور ده چې دواړه د خادم په استعفا خوايدې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتون دې ولې کړم

چې خوښ دې مجنون نه ؤ مه مجنون دې ولې کړم
د لطف په خندا سره مرهون دې ولې کړم
چې ماته دې په زړه کې د خوښۍ اراده نه وه
په دومره بېدارۍ سره محزون دې ولې کړم
نه خوښ مې په نغمه او نه راضي په ترانه وې
ګل ښه ومه بلبل د صباوُن دې ولې کړم
زه کله ستا د مهرو محبت سره اشنا وُم
مين دې کړمه څله جګرخون دې ولې کړم
په دومره لوی جهان کې چې پښتون لره ځای نه ؤ
د داسې بدبختۍ سره پښتون دې ولې کړم
په چل کې سامري چې رانه خپل واړه پردي کړل
ګناه په ما کې څه ده نوهارون دې ولې کړم
محمود چې د هر چا شومه په خپل آسماني شعر
لايق د داسې شعر او مضمون دې ولې کړم
جذبې او ولولې دې را عطا د اباسين کړې
مجبور په پته خوله لکه جيحون دې ولې کړم
ګله ېړې په وينا مې په معنايې نه پوهېږې
خادم"د داسې خلکو افلاطون دې ولې کړم

کابل ميزان ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درواغجن

کله اته واره جنته یې په لاس وي　　په بل لاس یې د مصري، توري هراس وي

درواغجن وته رښتین ویلی نشم　　سپین ته تور او تور ته سپین ویلی نشم

کابل: ۲۲ دجدی ۱۳۴۲

## (دمینې لېونی)

چې په رډو سترګو قام ته خیانت کا

نو خادم به یې په ډاګه مزمت کا

هر مین د خپلې مینې لېونی دی

څوك په خاوره- او څوك مینه په دولت کا

کابل : ۲۲د جدی ۱۳۴۲

## سیاست

چې په خوله نشي ویل کېدلای　　کار یې په رمز و په اشارت دی

مور یې پټ ساتي له زوی و لوره　　دا سیاست دی داسیاست دی

کابل- ۱۳۴۲

## تیت شوپښتون

تیت شو پښتون او لاتیتېږي به نور

ښکته لوېدلی دی او لوېږي به نور

نه مشر پېژني نه څې ورېسي

چې داسې وي نو داسې کېږي به نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتنو مشر

خلک مشري کوي عزت غواړي
زمونږ چې مشر شي دولت غواړي
اې چې سودا ده د مشرۍ درسره
قام دې له تا ځني خدمت غواړي

## د قام د خدمت شرط

د قام خدمت اسانه کار نه دی
دا د الفاظو تش شعار نه دی
قام دې دفتر د سوانحو لولي
دا فکر مکړه چې هوښيار نه دی

کابل — سرطان ۱۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مېړنو وطن

دا چې مې لـه سترګو ځي اور دی د اوبـو پـه ځـیـر
اوس چې تېرومه یـې مـرګ دی د ژونـدو پـه ځـیـر
بـې سـره خپلونـه دي نـن د پښتنـو تپـې
مـېـړې د لېوانـو دي ګرځي د رمـو پـه څېر
څوك دي د دانـو پـه غـم څوك د خزانـو پـه غـم
څوك په جیل خانو کې دي ژوند کوي د مړو په څېر
وره کـه لارد ژونـد شـوله نـه مـو شـته رهبر چـرې
یـو یـو تپـرېږي اوس لار کـې د ړنـدو پـه څېر
عقـل د مغـزو زمونـږ راغـی تـل د نـس لـره
غـم د پښتـو نـه کـوي څوك د پښتنـو پـه څېر
هېر شولو هېرېږي مې خوب و کـه تعبیر د خـوب ؟
هیڅ مې خیـال تـه نـه راځي ژونـدو مېړنـو پـه څېر
مړه دي کـه ویده دي ټول ویښ په مینځکښې نه وینم
ټینګ چې په میدان د ننګ ودرېږي زلمو په څېر ـ
لویـه جامعـه رانـه ماتـه شـر منبانـو کـره
اوس پـه دې مـرداره ټول پنـد دي د بـانبو پـه څېر
ګټه د بـېـرون نـه چارانوږ ته وطـن لـره
یو د بـل د جیـب پـسې ځارکـوي د غلـو پـه ځیـر
کاشـکې خـوږ جـهان شـولای دا د مېړنـو وطـن
یو د بـل پـه خـوږ شـولای خـوږ د پخوانـو پـه څېر

سرطان ۱۳۴۲ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خان بابا عبدالغفار خان

د پښتو او پښتنو په لاځه جال و
که ته نه وای ای بابا فخر افغانه

د پښتون شان دې بیا وښودو دنیا ته   تکلیفونه دې د پروګالل بېې شانه
دا دچاپه غږویده پښتون راویښ شو   مارګلې نـه ترهرات او بدخشانه
د تکل په لاره دارله هېڅا نـه شوې   اولوالعزمـه، بـهادره، پهـلوانـه
په افغان کې دې د مینې مشال بل کړ   پلوشې یې پورته کېږي ترآسمانه
د همت تخم دې وکاره پـه ملـك کې   پښتونخوا دې په بل رنګ کړله ودانه
د پښتون توره د ورورپه وینو رنګ وه   د خپل قام په تباهي یې وه مېړانه
کتاري یې وه تـر ملاتوپك پـه ولـي   د تربور د مرګ دپاره سر ګردانه
تاییې توره توپك واخستل لـه لاسه   د تربور کور ته دی بوتللو پښېمانه
دښمــني دې په ورورۍ کړل بدلـه   لاربښوونکیـه، رهنمایه مهربانه
ته د ښمن د استعمار او استبداد یې   رحمتونه دې په تا وي له رحمانه
ته به مرشې، مونږ به مړه شو، تول به مړه شي   د پښتون نوم به ورك نه شي له جهانه
اباسیند به په مستی مستی بهېږي   غورځوي به سپین ځګونه له دهانه
سیندې واورې به په لوړو غرونو اوري   له پامیره، تر خیبره او کـاغـانه
کاروانونـه بـه بهېږي تـل تـر تـله   لـه امونه په خیبر ترهند ستانه
په بل شان به تاریخونه لیکل کېږي   وي هېر شوي به وختونه له هر چانه
خوستا نوم به د پښتون په خوله یاد یږي   ځوځي وي د پښتنو خونه ودا نه

کاشکې نه وای کړه شوې دغه لاره
ای د ټولو پښتنو قـومـونـو پـلاره

کابل ۱۰ د جدی ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه ولیکم

دزړه له درده له افسوسه بیان څه ولیکم؟
ددې نامرد او بې هدفه جهان څه ولیکم؟
د ورونه تېرشول لاپیرې به نورې هم تېرې شي
بهار به نه وي له دې هسې خزان څه ولیکم؟
د هرې ورځې پسې شپه وي خو سهار هم لري
چې نه تیرېږي له دې شپې دهجران څه ولیکم؟
هوښیاران وايي خپل تقدیر دې په خپل لاس کړه بدل
چې نه بدلېږي ددې عصر و زمان څه ولیکم؟
خلک د بند په تورو خونوکې نقشې جوړوي
په ازادۍ کې بې وسې د خپل ځان څه ولیکم؟
خلک تاریخ اوکارنامې د خپلو خلکو لیکي
زه دخپل قوم دغه خواشینې داستان څه ولیکم؟
زه ورته ګورمه آسمان په سمه نه څرخېږي
نوره شکوه ددې کجروه آسمان څه ولیکم
چې خپل تقدیر یې بدل نکړو نو تدبیرشو بدل
اوس د تدبیر د بدلیدلو بیان څه ولیکم؟
دانایان خال ګوري نادان په فال عمرونه ګړه تېر
له دغه زیات فرق ددانا او نادان څه ولیکم
له تندې مرې او د ژوندون اوبه په لاس کې یې دي
له دې ناپوهه بېغیرته افغان څه ولیکم؟
خلک په مځکښې ځي افغان په پیرته دروې همیش
زړه مې خورېږي له دې خوره فغان څه ولیکم؟

کابل- میوند جاده خادم مینه
۳۰ د جدی - ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویه ارزو

واړه پښتانــه یــو، لــوی مــرام دپښتنولــرو- دا لویــه ارزو لــرو
ښکلې پښتونخـوا تـه زړه کښې مینـه د پښتـو لرو- دالویـه ارزو لرو

* * * * *

څوك چې دلته اوسي واړه ورونه دي یو قام دی - یو شان یې مرام دی
څو د خپل هدف پرلوزې تـل هـځه د تلو لـرو- دا لـویــه ارزو لـرو

* * * * *

یـون د اباســیند او دامـو څوك ځنډولی شـي- دا کلـه کېدلـی شـي
ټینــگه اراده لکــه د تــبرو مېړنــو لــرو- دا لویــه ارزو لـــرو

* * * * *

دا د هر ملـت ده وظیفـه او دا یـې کـار دی - څه پـه دې کښې ډار دی
مونږ ویـښ شـوی قـام یـو مرامونـه د ژونـدو لـرو- دا لویـه ارزو لـرو

* * * * *

لـوړ دې دا بیرغ وي افغـاني څوچې دنیـا وي- مخکښې دې رڼا وي
کلـك د ملیـت سـره پیمــان دویـښو زلمـو لـرو — دالویـه ارزو لـرو

جلال اباد د دلوی ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د محمد گل خان مومند په یاد

عمر دې تېر کړلو په نسره د پښتو دپاره
ارواح دې ولاړله په بره دپښتو دپاره
خلکو په دې نیمګړې جوړې کړې ماڼۍ او چتې
تا د مېړونو لار کړه غوره د پښتو دپاره
په ملیونو سرونه خلکو ځان دپاره کړه تیتې
ته په همت تېر شوې له سره د پښتو دپاره
ارزو دې دا وه چې په قام کې شي سرونه پیدا
هود دې په خپله کړو ترسره د پښتو دپاره
کله ورګډ شولې میدان ته چې پښتو وګټې
کله ورتېر شوې د سنګره د پښتو دپاره
د پښتونخوا د باغ مالیاره شه اوچت له خوبه
بابا راغلی له خیبره د پښتو دپاره
چې د پامیرڅوکه یې غواړې اباسیند ورسره
ورځ ده راغلې مقرره د پښتو دپاره
ځوانان راغوند دې په مزار دې محمد ګل مومنده!
مشاعره ده زور وره د پښتو دپاره
واړه پښتون ده ملا تړلې چې پښتو لوړه شي
ښه تقاضا ده خونندوره د پښتو دپاره
ټینګه وعده راسره کړېده ښاغلی صدر[1]
کاشکې رایاده یې شي غوره د پښتو دپاره
خادمه کله به چرګه د پښتونخوا جوړه شي
د پښتنو د زړه پرهار له به دوا جوړه شي

کابل ۲۰ د ثور ۱۳۴۲

---

۱. ښاغلی صدر اعظم ډاکټر محمد یوسف هغه فرمان ته اشاره ده چې د پښتو د انکشاف او تعمیم دپاره یې صادر کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آینده پښتنو ته پیغام

ای اینده پښتنو! ای فهمیده پښتنو!

تاسو بم وپېژنئ[1] که به مو نه پېژنئ

چې مونږه څه کړي دي بد که مو ښه کړي دي

مونږه عاطل وو که نه واړه باطل وو که نه

مړني د خېټې وو ټول د اوږو پېټي وو ټول

اخر سړو څه کړي دغو غويو څه کړي

تاريخ به وښيي دا که به و نه ښيي دا

ستاسو د لارې فکر ستاسو د چارې فکر

مونږ سره و که نه و که و نو هغه څه و؟

په پاك وجدان مې قسم په لوی انسان مې قسم

چې غمخواران مو لړل خدمتګاران مو لړل

چې ستاسو غم يې خوړو د سترګو نم يې خوړو

پښتون لويدلی و چور راپرزېدلی و چور

غټ دښمنان يې لړل ستمګران يې لړل

د استعمار دلاسه ظلم و ادبار دلاسه

توټې توټې پراته وو خاورې ايرې پراته وو

د دښمن جاله پکښې وه لا في الحاله پکښې

---

۱- د (به مو) مخففه محاوره ده ·

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه چې بــه مـونــږه کــړل | دوی به لـه بېخه وهل
رنګ به ی[۱] په رنګ وهلو | نه چې په جنګ وهلو
لوی سیـاســت و قــوي | چل او حـکـمت وقوي
بــل چــوي نــه وه داسـې | باورېږي وکړئ تاسې

* * * * *

چې میرویس خان په توره | مور په دښمن کړه یوره
غربې په غـل شـوبـدل[۲] | په څومره چل شو بدل
غرزی– پښتون واړه دی | دا نور لمسون واړه دی
د غــره اولاد دی کـنــه | دلته ابـاد دی کــنــه
میرویس ملت سازاوه | ټینګ یې دولت سازاوه
څووخت پرې تنګ راغی | دوه څوا پرې جنګ راغی
یـو و لـه خـپـلـو څنې | و لـه عـبـدلـو[۳] څنې
بیل څوا نـاتـار راغی | نــادر افـشـار راغــی
د هوتك کور وران شو | په ظلم زور وران شـو
وار د نادر چې شو تېر | د احـمـدشاه شولو تېر
بـابـاپښتون جوړ کړو | په ښه مضمون جوړ کړو
یـو یـې مغـول ووهـل | مرهټ یې بل ووهـل
یو څوا ایران و په قــار | بل هندوستان وپه قار

۱ به ی د به یې د مخفف صورت محاوره ده .

۲ یعنې غرزي ته غلزی ویل د دښمنانو دسیسه وه .

۳ عبدل: ابدالي کورنی چه دهوتکو یې مخالفت کاوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیکښې انګریز راغی     نوی جنګریز راغی
دري ځله مات شولو     قهر یې زیات شولو
ده سیاست کړو بدل     پښتون یې مات کړو په چل
ذرې ذرې یې کړو مونږ     خاورې ایرې یې کړو مونږ
دښمن یې بر کړلو     زمونږ په سر کړلو
تهداو یې کښېښودو لاړ     نفاق یې پرېښودو لاړ
ورور په خپل ورور وهي     د چل په زور وهي
مسلماني ته ګوره     بې ایماني ته ګوره
انګریز پښتون کاندي     ګډوډ مضمون کاندي
ته به وای[1] ورور مې دی     د سترګو تور مې دی
زړه ته نږدې به دې شي     زوی دادې به دې شي
پس له کلونو نه بیا     پس له عمرونو نه بیا
ګورې انګریز به وي     لاترپښه تېز به وي
دښمن لا تللی نه دی     بېخ یې ختلی نه دی
په هره لاره کې دی     په هره چاره کې دی
احمق یې تللی بولي     هوښیار یې غلی بولي
مونږ یې برباد کړلو     بېخي نامراد کړلو
ډېر نهضتونه شو جوړ     ډېر حکمتونه شو جوړ

---

[1] وای : دوا یې مخففه محاوره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وره ك فساد نه شوو ‌ ‌ ‌ دښمن برباد نشو
صرفه مو نده کړې ‌ ‌ ‌ اسره مو نه ده کړې
لـه سره تېروو مونږ ‌ ‌ ‌ خو سخت راګیر وو مونږ
ورشئ پوښتنه وکړئ ‌ ‌ ‌ ښه ګر و پړته وکړئ
ای د صبا زامنو! ‌ ‌ ‌ د پښتونخوا زامنو!
ستا سو په سرمې قسم ‌ ‌ ‌ په لوی تېر مې قسم
د پښتونخوا په مینه ‌ ‌ ‌ د سپین صبا په مینه
ځان ته مې فکر نه و ‌ ‌ ‌ بل څه مې ذکر نه و
یاوه پښتو یا پښتون ‌ ‌ ‌ یا پښتونخوا و مضمون
افغانستان و بل ‌ ‌ ‌ دغه بیان و تل
انګرېز دا کله منل ‌ ‌ ‌ ده دې بېخوته وهل
انګرېز هر څه غواړي ‌ ‌ ‌ خو پښتون نه غواړي
لاړ د پښتو بندوي ‌ ‌ ‌ د پښتنو بندوي
پښتون جاهل چا کړو ‌ ‌ ‌ خوارو غافل چا کړو؟
توتې توتې څنګه شو ‌ ‌ ‌ ذرې ذرې څنګه شو؟
اوس غم دتن وکړي ‌ ‌ ‌ که د وطن وکړي؟
را تولېده بې شوګران ‌ ‌ ‌ لاپوهېده یې شوګران
داسیاست څنګه دی ‌ ‌ ‌ چل او حکمت څنګه دی
وران یې کلچر شولو ‌ ‌ ‌ اخته په شر شولو
نادان پښتون وګورئ ‌ ‌ ‌ اوداژوندون وګورئ
دا کشاله ده لویه ‌ ‌ ‌ دا سلسله ده لویه

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ بې خبره نه وو

هم بې بصره نه وو

خبره دا وه يوه | خدايږو رشتيا وه يوه
کار په پښتو کېدلو | د پښتنو کېدلو
بې پښتو بله دوا | نه وه چاره او شفا
چې پښتومره وي پکښې | يالاوېده وي پکښې
ملت به څنګه شي جوړ | دولت به څنګه شي جوړ
چې مليت يې نه وي | ملي وحدت يې نه وي
نو به افغان څه وي؟ | افغانستان څه وي؟
انګرېزهم ښه پوهېده | نه دا چې نه پوهېده
بېخ د پښتو يې وهه | د پښتنو يې وهه
ده ويل سوېزدې شي | مال دانګرېزدې شي

*   *   *   *   *

څلوېښت کالو نه شو تېر | يادمې دي نه مې دي هېر
تول د پښتو د پاره | د پښتنو د پاره
ډېر کړېدلي يمه | ډېر ځورېدلي يمه
ډېر په عذاب يې کړم | خراب تراب يې کړم
چې شاګردان مې وو | که رفيقان مې وو
ټول رقيبان مې شول | بدخواه دښان مې شول
دوی معتبر به شول | په ما افسر به شول
کار له بالاکېدلو | پټ به له ما کېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مې د ګل خوړلي　　هم مې رټل خوړلي
ښکاره ستم په ما　　تل به و غم په ما
حق به ناحق شوزما　　لیده مې ظلم و جفا
کله ناکار یه شوم　　راګرفتار به شوم
د سپي او خره په لکی　　ترل کېدم په رسی
زه شرموڼم به یې　　زه ځورولم به یې
په مرګ تهدید شوڵم　　بې څه تبعید شوڵم
ستغې اوسپورې به وې　　داسې لانورې به وې
لوی شواخون و بل　　لاڅیګرخون و بل
چاپ مې اشعارنه شول　　نشر اثار نه شول
زه چې ژړا کوم　　او واویلا کوم
په خپل فطرت ژاړم　　په بدقسمت ژاړم
ګل د دامان ومه　　نه د باغوان ومه
په ښه د چا نشوم　　د دلربا نه شوم
خرواو غویو وخوړم　　خاورو ایرو وخوړم
د پښتو حال داو　　زمونږاحوال داو
خیانت موکړلی نه شو　　ځان مو بایللی نه شو
پښتو ته لاز نه وه،　　بله مو چارنه وه
یوازې زه خو نه وم　　چې په دې جال کښېوتم
د پرښه ځوانان شوه دل　　پهلوانان شوه دل
ښکاره دوران و دا　　په ټول افغان و دا
"إمان" افغان څه شو　　"فخرافغان" څه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادر افغان ګوره — "محمد ګل خان" ګوره
"صمد" په جهل کښې پروت — "فرهاد" په ښکېل کې پروت
"کوثر" حیران شولو — "همیش" خزان شولو
ایپي چې سپك یې کړو — باجوړ وره ك یې کړو
د کندهار احوال — د ننګرهار احوال
جلاحساب غواړي — نوی کتاب غواړي
بلخ کې نهضت نه و — هرات کې پست نه و
زمونږ وزیر به نه و — څوك چې بې پیرېنه و
څوك به چې غل نه و — دغلو به مل نه و
کله په کار به نه و — د سترګو خار به نه و

❀ ❀ ❀

دوست د پښتو کله — چا پرېښودو کله
وه د پښتو دښمنې — د پښتو د ښمنې
شرط د لوړتیا زمونږ — دا عتلا زمونږ
لوړبه شو ټیټ چه به شو — جګ به شو ټیټ چه به شو
یوخوا... و ناست — بل خوا ... و ناست
دوه افغانان وو دوی — مګر څه شان وو دوی
یو به پارسي ویله — بل انګریزي ویله
دواړو بهانه جوړه کړه — نه افسانه جوړه کړه
د هندوستان په نوم — پښتونستان په نوم
پښتون راګیر کړو دوی — له تیغه تېر کړو دوی
یو سرخیوشان کړه دل — بل ویښ زلمیان کړه دل
ای ایښده پښتو! — ای هسهمیده پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷۳

د وطن بنو زامنو! د پښتنو زامنو!
تاسو نه چارډې شم په ځو ځو وار دې شم
اوس نتيجه واخلئ تر ينه پخه واخلئ
سرد قيصې چرې دی؟ د مشورې چېرې دی؟
چيرې خطا نه وځئ بېرته تر شا نه وځئ
چې ځو ملت نه شي جوړ خپل ثقافت نه شي جوړ
کار به په چا وکړو ؟ د خوار، گدا وکړو
ځو چې قوت نه وي ملي وحدت نه وي
د غلو علاج څه دی زمونږمعراج څه دی؟
کار همتونه غواړي پاخه فکرونه غواړي
په غل اتبار مه کړئ تېښته او دارمه کړئ
کاني به پوست نه شي دښمن به دوست نه شي
په پښتو غوږونه اوسئ په وطن پنډ اوسئ
بيا لوی پښتون جوړ کړئ عالي مضمون جوړ کړئ
دا ملك سو ئيېز نه دی مال د انگرېز نه دی
د ويشـيا د پساره تولې دنيا د پاره
د ارتقا لاره ده د اعتلا لاره ده
د استعمار علاج د استثمار علاج
فقط دا کاردی بس دا مې اظهاردی بس
نور دی سلام زما دا دی پيغام زما

کونځوانا روغتون
۱۹ د قوس ۱۳۴۴ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځوانانو ته بلنه

یاځاروان د قافلې شه !
یا روان شه په کاروان کښې

اخر ته هم یو انسان یې — کار په مثل د انسان کړه
په دې لوی جهان کښې اوسې — لږ څه غم د خپل جهان کړه
په شخصي سودا کښې ګیره — تګ په لاره د کاروان کړه
همېش لافې د ځوانۍ کړې — لږ خوکارهم لکه ځوان کړه
یا د بل پسې روان شه — یا نور ځان پسې روان کړه
ښه پوهېږه هوښیار یې — سرېتوب غواړي جهان کښې

یاځاروان د قافلې شه!
یا روان شه په کاروان کښې

عمر تېر دې په سوداکړ — خو مېړه د عمل نه شوې
نه دې لاره څه پیدا کړه — نه د بل سره په تله شوې
خوشې شین شوې خوشې لوی شوې — خوشې دل لکه وابښه شوې
هو پیسې خو دې پیدا کړې — مګرنور وایه چې څه شوې
منډه هلته منډه دلته — نه ددې نه د هغه شوې
د اقدام درکښې کمی دی — نور ځوښه یې په خپل ځان کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷۵

یاځاروان د قافلې شه!

یاروان شه په کاروان کښې

مونږ دې وینو فکر کړی شي — تل خبرې د وطن کړي

د خبرو خو هسم ځای وي — کله شین به دا چمن کړي

ځان به سپك كړي په خبرو — كه هر څو خبرې من كړي

په تنقید به دا ونه شي — چې ځان بل ته قدرمن کړي

مونږ خو غواړو چې وطن ته — ځان په مثل دکوهکن کړي

یا دا فکر سودا پسرپړده — یا راګډ شه په میدان کښې

یاځاروان د قافلې شه !

یاروان شه په کاروان کښې

تذبذب یولوی مرض دی — ځان دې خلاص کړه له وسواسه

توکل د نرو کار دی — په همت سره راپاسه

د میړونو کار خدمت دی — عزم وکړه له اخلاصه

دا نامردي اسرې پسرپړده — بیخ د طمعې له زړه باسه

لږ خو فکر ځان ته وکړه — دا څه ژوند دی بې اساسه

د ایمان دیوه بلېږي — نه مره کیږي په طوفان کښې

یاځاروان د قافلې شه

یاروان شه په کاروان کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا رښتیا د وطن غل شه    په ښکاره داړه ماري کړه
بې ایمانو سره مل شه    چور چپاو او خونخواري کړه
وجدان لاندې کړه له پښونه    چې کوی شې مرداري کړه
د پیسو په زور که ژوند کړې    چل فریب او غداري کړه
بې لاري هم یوه لار ده    ورشه غوره بې لاري کړه
که دا نه کوې نو ګوره    چې څه حال دی په افغان کې

یا سالارو د قافلې شه
یا روان شه په کاروان کښې

نه اخلاق شته نه قانون شته    نه رواج نه دیانت شته
وطن ټول لوڅک فضول شو    نه تقوی نه متانت شته
حرمت پاتې چاته نه شو    نه انسان نه کرامت شته
پښتو والو ته له منځه    نه غیرت نه چا کښې پت شته
دروغ به خلقه درته وایم    نه دولت او نه مِلت شته
زمینه ښه ده تیاره    که څه مټره وي په ځوان کښې

یاسالار د قافلې شه!
یا رووان شه په کاروان کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پـــره بـــده بـــه لادا وي چـــې کـــار نـــه کـــوي پخپلـــه
کلـــه هـــلې کلـــه دلـــې خـــبريال يـــې يـــو لـــه بلـــه
پـــه ورانـــۍ د جـــور کـــارونو قـــبر کـــنې ځـــان تـــه خپلـــه
دســـم کـــارقدرت دې نـــه شـــته خـــو ورانـــي کـــوي تـــر تلـــه
دا چلـــند تاتـــه بـــلا دی شـــې بـــه خـــتم زمـــا ګلـــه
د "سوشـــل" دلـــې تـــه راشـــه مـــنل شـــوې‌ده افغـــان کښـــې

يـــا ســـالاد قافـــلې شـــه !
يـــا روان شـــه پـــه کـــاروان کـــې

د "خـــــادم" دغـــــه ارزو ده چـــې افغـــان بېـــرته افغـــان شـــي
شـــوکېدلي تـــر هيدلـــي ســـم پـــه لا بېـــرته روان شـــي
ورډ فکـــر او د عمـــل شـــي ډوب پـــه غـــم کـــې د خپـــل ځـــان شـــي
يـــو مـــلت يـــو يـــې هـــدف وي پـــه رښـــتيا افغانســـتان شـــي
د پـــردو لاســـونه لـــنډ شـــي د خپـــل ځـــان واك يـــې دځـــان شـــي
نـــو خـــادم بـــه پکښـــې فـــردوي څـــه چـــې کـــړي پـــه دې جهـــان کـــې

ياســـــالار د قافـــــلې شـــــه
يـــا روان شـــه پـــه کـــاروان کـــې

کابل ۲ دجدی ۱۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملی ارشاد

څلـوېښت کالـه مـې ووې چـې ازاد يمـه ازاد يـم
خـو مـا غوندې انسـان چرې ازاد نـه شـي کـېدلای
منمـه چـې بـيرغ د اسـتقلال مـې پـه سـر رپـي
خونـن د ازادۍ دغـه مرادنـه شـي کـېدلای
يـو قـام چـې ازادېږي ازادۍ بـاندې ژونـدون کـا
دا کـار بـې د مېړانـې لـه جـهاد نـه شـي کـېدلای
اسـير چـې د يوقـام وي ثقـافت د بـل پـه لاس کـښې
هېڅکلـه پـه ملـي بـنه ابـاد نـه شـي کـېدلای
دولـت چـې د ملـت پـه ثقـافت بـاندې محکـم شـي
د عصـر لـه صدمـو څخـه برېـاد نـه شـي کـېدلای
وحـدت چـې پـه ملـت کـښې د عمـل اوفکـر نـه وي
کـامل يـې پـه هـېڅ قسـم اقتصـاد نـه شـي کـېدلای
ملـت اوحکومـت چـې پـه دولـت کـښې سـره يـو کـا
بـل شـی يـې لـه تـاريخ ورتـه بنيـاد نـه شـي کـېدلای
پـه رنګ د مليت کـښې خپـل پردی سره يـو رنـګ شـي
تفريـق يـې بيـا د رنـګ او د نـژاد نـه شـي کـېدلای
تـاريخ او ثقـافت او روايـات بـېخ د وحـدت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار په چال او زور او په تضاد نه شي کېدلای
اساس ددغو ټولو رښتیانې دیموکراسي ده
چې نه وي صداقت حل دمراد نه شي کېدلای
یوقام چې لاس و بل ته د ډوډۍ دپاره نیسي
همداورلره بس دی چې ازاد نه شي کېدلای
سوشل دیموکراسي که افغانیزم سره مله شي
بیا هېڅ په دغه فکر انتقاد نه شي کېدلای
که څوك د زړه په مینه طلبګار دحقیقت وي
رښتیا چې له دې زیات ملي ارشاد نه شي کېدلای
هېڅ لوبه بدبختي به له دې زیاته بله نه وي
په طرحه د ((خادم)) که اعتماد نه شي کېدلای

۳۰ د جدی ۱۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استعمار زمزمه

هر څه چې شي ودې شي افغان درنه ملت نه شي
لوخ دا حقيقت نه‌شي
ګوره که ويده زمري راويښ شو بيا به څه کوو
هيڅ خير به ونه کوو
پرېږده چې ويده وي په هيڅ شان درنه اوچت نه شي
لوخ دا حقيقت نه شي
ګوره په ويدو کښېنې يې چاره کوه بيدار شه
ښه ورته هوښيار شه
کله که شي ويښ هم چې پيدا ورته فرصت نه شي
لوخ دا حقيقت نه شي
علم خو څه ورکړه خو چې تش خالي ګفتار وي
نه چې سمه لار وي
پوه که په هرڅه شي خو چې پوه په سياست نه شي
لوخ دا حقيقت نه شي
مورکه شه په ګېډه نو بيا فکر د صبا کوي
يو تر بل سلا کوي
تول دې يو پر بل اخته وي وره ك ورنه رشوت نه شي
لوخ دا حقيقت نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینی خلك ښه کېږه دغه نوردي په عذاب وي
پرېږده چې خراب وي
هغه بیا د دوی په خوله کښې ورکېږه چې راحت نه شي
لوځ دا حقیقت نه شي
لوی فساد دې فکر دی؟ پښتو،پښتونستان دی
دا کار هم اسان دی
نوم خو یې بدنه دی خو چې جوړ ملي وحدت نه شي
لوځ دا حقیقت نه شي
ګوره تربیه ددغو خلکو افغاني نه شي
جوړه شیطاني نه شي
نور څه ورته ښیه خو دا کار درنه غلط نه شي
لوځ دا حقیقت نه شي
واوره اداري دپاره تل تکره سړي ګوره
چاغ لکه غویي ګوره
هر څه دې کوي چې را پیدا چرې نهضت نه شي
لوځ دا حقیقت نه شي
هو افغان دې نه وي مهاجر که بې نسب وي
خو پوه دی په مطلب وي
خیر دی که پښتو وایې چې ټینګ په ملیت نه شي
لوځ دا حقیقت نه شي
لوڅه دښمني هم د پښتو او افغان مه کوئ
سپکه د ځان مه کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# واړه افغانان يو

واړه افغانان يو

ټول مسلمانان يو

ګران هېواد زمونږه لکه ګل افغانستان دی!

ځکه له کل جهان دی

څه ښايسته فضا لري د جـنـت هـوا لـري

ډك له نعمتونو دی حـسن او ښکـلا لـري

ځومره چې وطن ښايسته دی هو مره يې انسان دی

ځکه له کل جهان دی

* * *

لوړغرونه دري ښکلي واورې او چينې ښکلې

ډك سيندونه هر طرف دروميي ترې ولې ښکلې

ښار او کلی هر خوا په باغـونـو کښې عيان دی

ځکه له کل جهان دی

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار دی د قومونو دا　　　　مور د نهضتونو دا
خپور تري ارین شولو　　　　ځای د عظمتونو دا!
دلته سرېتوب لوی شوی هغه کوهستان دی
جګ له کل جهان دی

* * *

هر قسم غلې لري　　څه ښایسته مېوې لري
شاتوله‌شودوډکې　　تل جاري ویالې لري
دا ملك د مالدار او د باغوان او د دهقان دی
جګ له کل جهان دی

* * *

دا دی د یاما وطن　　　　دا دکانشکا وطن
راغی سکندر پسې　　　　دادی د سوماوطن
دلته جام اوبه د ژوند - او ژوند د سپین تمان دی
جګ له کل جهان دی

* * *

بیا به یې ودان کړو　　　　په علم او عرفان کړو
ښکلی له ارم ځنې　　　　دا افغانستان کړو
واړه خویندې وروڼه ، یو ملت دی چې افغان دی
جګ له کل جهان دی

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیــــــرې او ډیــــــرې دي لــــــــوړې او ژورې دي
واړه جواهـــــــــــر دي لمــــنځې کـــه تنیـــترې دي
هــــرکانی یـــــا قــــوت او لاجـــورد لعـــــل و مـــرجان دی
جګک له کل جهان دي

* * *

ځومـــره چـــې افغـــان قـــوي دومـــــره ې ایمــــان قـــوي
هېـــڅ پـــه دام کـــي نــه نښـلي لــوړ دروهـــي مـــرغان قـــوي
وړی یــــې پــــه نـــره اســــتعمــار ځــنې میــــدان دی
جګک له کل جهان دی

* * *

شــــرم دې بدظـــــن وکـــړي فکـــر دې دښمـــــن وکـــړي
دا ده اراده مـــــــــلــــــي غـــم بـــه د وطــــن وکـــړي
ډار پــــه دې کنبــــې نــــه شـــته د "دخـــادم" دغـــه اعـــلان دی
جګک له کل جهان دي

کابل- خادم مبنه ۲۸ د حوت ۱۳۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپین سترکی

په خوله وایي چې افغان یم     له افغانه خبر نه دی
عجیبه شاني، سړی دی     له خپل ځانه خبر نه دی

دی تسوم، لوی تاریخ او عضمت ته یې شا کړی
تل مستغنی بذلې وایي له تاوانه خبر نه دی

نور په هر څه ښه پوهیږي د ملت په حق کښې ړوند دی
د توحید کلمه وایي له یوتیا نه خبر نه دی

دتوحید کلمه څه ده دغه سوال مې ورنه وکړ
مسئلې او له جواب او له ملانه خبر نه دی

د جهان په نورو ژبو د توتي غوندې ګړیږي
خودخپلې ملي ژبې له لوی شانه خبر نه دی

د پښتو مې ورته ووې ده سویس راته یاد کړ
له فرانس او له انګلیس او له ایرانه خبر نه دی

ځمکه ارته ده ارض نه ده دا اسمان هم همسکن دی
بیچاره ورلاندې ګرځي له اسمانه خبر نه دی

فلسفې د عصر وایي د تاریخ دورونه ستایي
خو د خپل ښکلي هېواد افغانستانه خبر نه دی

د پیسو په تولولو د بنګلو په جوړو لو
ښه پوهیږي خو د قوم له لوړتیانه خبرنه دی

د وطن له بده حاله ښه خبر دی چې ابتر دی
خو دخپل قوم له شعوراوله وجدانه خبرنه دی

خودخپل قوم له شعو ر او له وجدا نه خبر نه دی
په شعور ددغه قوم کښې حشرونه روزل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضا واره طوفاني ده له طوفانه خبر نه دی
وايي نن کار غنيمت دی د صبا کار به صبا شي
فخر کا چې ابن الوقت يم له صبانه خبر نه دی
هو د خان په ډول ګډېږي ښه زيرک موقع شناس دی
څه چې خان وايي هغه کا له بل چانه خبر نه دی
هر نهضت کښې دا ځلېږي خو د خپل مطلب دپاره
د ملت د ايديال او مدعانه خبر نه دی
د ربنتيا و په لباس کښې په درو غو تل چلېږي
ډېر ماهر دی په دې کار کښې له بل خوانه خبر نه دی
د خپل ځان په پرسولو د عالم په تير ايستلو
کښې استاذ دی خو د عصر له رجحانه خبر نه دی
په فريب او په ريا او په ايما کې يګانه دی
له راستي او له اخلاص او له ايمانه خبر نه دی
تل دامونه ږدي صياد دی په چانسونو کښې نراد دی
دروغ په دروغو هضموي تل له افشانه خبر نه دی
چاپلوسي او خوشامندو چلوتو باندې روان دی
د سر کس په رسي خېژي له لوېدانه خبر نه دی
له دې ټولو ښه خبر دی، ما چې ووې خبر نه دی
خو سپين سترګی مرتجع دی له حيانه خبر نه دی
دی مغرور دی چې ملت به غولومه چې څو يمه
دخادم د انتقاد او له بيانه خبر نه دی

کابل ۱۰ د حمل ۱۳۴۵

(c) keṭabton.com: The Digital Library



# انسان او کائنات

(د فطرت غوټې)

ځنګه راپیدا ځمکه اسمان شو؟
بیا پکښې پیدا ځنګه انسان شو؟

سل زره خبرې هر چا وکړلې — دا رازچې و پټ په هغه شان شو
سَرد جاذبې خو څه ښکاره شولو — سُرهم د خلقت ګوندې عیان شو؟
برق خوله ایتمه پورې کشف شو — کشف یې سُر کله په انسان شو
وینمه میګنیټ ورته حیران یمه — دا کشش له کومه نمایان شو؟
زړې وي دانه وي بیازرغونه شي — اصل کیف له مونږ پنهان شو؟
داسلسله ځنګه او له کله ده — بیا پیدا هګۍ کښې ځنګه ځان شو؟
هر څه به ژوندي وي مړ به یو نه وي — او که وي نو مړ ځنګه حیوان شو؟
ما ته ازلي ابدي مه وایه — تر هه مې په زړه راغله حیران شو
څوک چې میکانیك باندې ایمان لري — سست یې را ښکاره دغه ایمان شو
دا میکانیکي عمل له کومه شو؟ — ځنګه ترې پیدا دغه دوران شو؟
څومره عالمان فلاسفه چې دي — هر یو لکه طفل راعیان شو!
دا دنیا روانه ده روانه ده — ځنګه او تر کله ښخي ګران شو
لویه د طلسم کار خانه ده دا — ګیر په دې طلسم کښې انسان شو
دا تیاره کوټه خو د لیدونه ده — بیاهم را په سر دا امتحان شو
برخه په تیاره کې دی سفر زما — عقل تېرېږي ، سر ګردان شو
څه خو مې په دې تیاره کښې وموندل — ژوند پرې شو مذ ګل او که اسان شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره په یقین راته ښکاره نه ده
ژوند لکه یو بحر بې پایان شو
علم و عقل دواړو دارې وایستې — یو طرف که سم شو بل مو وران شو
هسې لـه تولو تېرو تجربو څخه — دومره تکي مونږ ته نمایان شو
غوټې د فطرت د سپړو دلـو دي
څه که نه دي څه د حل کېدلو دي

* * *

خوار انسان د غم په دام کښې ګیر دی — پوه دی که فقیر او که امیر دی
هر خوا بلاګانې ورته وازې خولې — ډېر په غم لړلی یې تقدیر دی
څومره مصائب تېر نه چاپېره دي — دا کمبخت په منځکښې یې اسیر دی
څه وکړي اخر د ژوند چاره څه ده — ژوند دده په غاړه کښې زنځیر دی
غورزي، پرزي، دړومي، تلوسه کوي — تل لکه ابشارد ځان په ویر دی
وګوره خندا به لږه ووینې — چغې دي، سلګۍ دي او نفیر دی
نه پوهېږم څله په رسمي خندا — تېر له خپله ځانه او ضمیر دی
هېڅ حق په ناحق حاصلېدی نه شي — نه پوهېږم کوم پلو ته ځیر دی
څوك که څوك بدبخت کـسې نوخوشبخت به شي — دا تکی په زړه مې لکه تیر دی
څوك وا یې انسان جوړ له بدیو دی — بد دده فطرت او هم ضمیر دی
څنګه له نېکیه څخه انکار کوي — وینو ژوند د ښو بدو بصیر دی
ښه وینو چې ځینې خرابي کوي — مخ د چا د څمکې په تعمیر دی
مونږ که دا فطرت چور اړوی نه شو
ګوندې تحول هم څه کوی نه شو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه سودا چې خامه د انسان ده    دغه "خوشبختي تنها پرځان" ده
چاته خوشبختي چې څه ممکنه ده    دا يوازې نه ده د انسان ده
هر څه زوراور کولای شي مګر    دا لار د انسان که د حيوان ده؟
څوک چې ژوند يوازې خوردوخواب ګڼي    دغه نقيصه يې د ګومان ده
ژوند او خوشحالي دي مرادف سره    ښه خوښي د روح او دوجدان ده
روح که معذب وُ خوښي نشته دی    دا معنی واضحه نمايان ده
هوسايي ښه ده ضروري هم ده    نه مګر هغه چې دکوم خان ده
خوښ وي هرانسان خپله تولنه کې    دا څه پټه نه دَه ښه عيان دَه
ښه جامعه څنګه جوړېدلی شي    دا کشاله مخکښې د افغان ده
لويه معضله ده د ځېرلو ده    هوزمونږد فکر او د توان ده
ښه شي جامعه چې حکومت ښه شي    پرېکړه دا ددې عصروزمان ده
شان د حکومت او قام که يو نه وي    ورانه مسئله بوله بل شان ده

هله يو ملت خوشالبدلی شي
واک که د خپل ځان خپله کولی شي

کابل، خادم مېنه- ۸ د سنبلې ۱۳۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه دې په پته خوله هم پېژنم قسم مه کوه
رقیبه خدای دپاره نور دغسې چم مه کوه
خورېږ خبرې د هېواد له حاله ځله کوې
څه خپلې لوبې کړه د نورو خلکو غم مه کوه
مادې سجدې د نس د بت دپاره ېنې لېدلې
ماته خبرې د کعبې او د حرم مه کوه
له اباسینده ترامو دا سیمه چیا وېشلې
وایې غازي ماته بحثونه د تسور خم مه کوه
یا په داسپینه لاره دروه چې پرې دروم سره
کنه نه بحثونه اروږه رقم مه کوه
بې له پښتو به یوه نشي د پښتو داسېمه
دا یو قسم دی هره ورځ په ما قسم مه کوه
چې د امو په مخ کښې نښې د یامو شي کتې
خادم ته ځله وایې غم د جام جم مه کوه

د خان غازي کابلي سره مشاعره، ۱۲ د قوس ۱۳۴۳

## ځورولی مې شي

زه نه پوهېږم ځورولی مې شي
له تېتو خلکو تېتولی مې شي
رقیبه دا هم راته ووایه چې
د عشق له لارې اړولی مې شي؟

عقرب ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کابل ښار

ای د حسن د وفا جوړه کابله پسرلی دریاندې اوسه تل ترتله
د افغان د اعتلا او عظمت کوره په لمنو کښې دې تل ګلونه وو‌ره
په سینه کښې دې غیرت د پښتنو شته په تامینه د بابا د پرګنو شته
ای کابله هر یوغر دې ګلالی دی هریو کانی یې له ننګه جوړغمی دی
هر یو سر یې د غازی تیغه شمله ده هره تیږه د شهید په وینو سره ده
په خولی کښې دې هغه ولس اباد دی چې دننګ په هسك دستوروغوندې یاد دی
ای کابله هر نفر دې محترم دی هره پیغله دې درخو زلمی آدم دی
که پغمان دې د ښکلاو ائینه ده زوړ حصار دې د ننګونو خزینه ده

غیرتونه دلته خاندي په ښکلا کښې
خدایه داسې ملك به کوم وي په دنیا کښې

(۲)

ای کابله ستا ماضی‌باندې نازیږم مستقبل ته دې له ورایه خوشالیږم
ولس د محبت نه دې ځاریږم ستا دخاورې د پاکی نه قربانیږم

وایم سترګې مې له شوقه سپینلی شوې
ستا د حسن ننداروته لوګی شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)

ستا په مینه کښې تهمت دی که سزاده    په خندا قبوله کړې مدام ماده
ولې ای زما کابله د زړه سره    د مشرق د تندي خاله منوره
که ته ټول ښایست ښایست غیرت غیرت یې    همګي وفایې مینه محبت یې !
زه په مینه د پښتو کښې مست ملنګ یم    په هر ځای کښې د خپل زړه دلاسه تنګ یم
لیونی زړه مې خبرې رانه غواړي    دپښتو ځو مرغلرې رانه غواړي
په ګلونو کښې د پټ رنګونه ګوري    په پښتو کښې دغیرت رنګونه ګوري
له ربابه غواړي لاس د ادم خسان    دښایست پرده کښې سیل کړي دجانان
فریب نه خوري د خبرو دسیپو نه    مرغلرې راوباسي له چپو نه
په خوږو او په ترخونه دوکه کېږي    خپل مرام پسې روان دی که وره کېږي
نه منت مني نه زور او نه زاري    لټوي په هره لاره کښې یاري
د هر باده سره تلل دده زده نه دي    په هر سُر لا ګډېدل دده زده نه دي
دی د خپل سپرلي په طمعه په مسکا دی    په خزان کښې هم تازه لکه لالا دی
دا زړګی مې ای کابله د پر ماشوم دی    دا منمه چې هم خوار دی هم محروم دی
ولې مست دی د چا مینه کښې ملنګ دی    بې پروا له تاج وتخت او له اورنګ دی

هغه ځمکه ورته تخته ځنې نه ده
چې په وینو د غیرت کښې الوده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

دا زړګی مې ستا لمنه کښې خفه شو — د باغچې دا تازه ګل دې پژمرده شو
ده ته بوی د ګل محسوس شو کومې خوانه — ده څه واوربدل په غوږو د صبانه
راته وایي چې دا څه ښکلی کابل دی — ولې نن دی که صبادی راته بل دي
دا هغه کابل خو نه دی چې پرون و — چې پښتو دده لیلاوه دی مجنون و
دا هغه کابل خو نه دی چې د یار و — هره ځانګه کښې یې زړی د بهار و
پرون نظم وې او نن لکه غزل یې — دا زړګی مې راته وایي چې بدل یې

○

ستا د حسن تعریفونه به کومه — مستقبل به دې دعاکښې یادومه
د ولس په خوشالی به دې نازېږم — د بچو په ارامی به دې خوښېږم
په ناموس به دې مئین یم له هر چانه — خدای دی بچ ساته له هرګرمې هوانه
ولې څه وکړم بدله دې هوا ده
دا بدلون دې راته لویه معما ده

(۵)

بس دی ځمه لتاځمه دا دی ځمه — ستا بدلون ته ارماني سلام کومه
زه چې چېرته یمه ته به رایادېږې — په زړګي به مې سحر مابښام وربږې
خدای دې تاکړي زر هغه درته به راشم — په والله نه یم خفه درته به راشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر تور اوسپین افغان بلا دې واخلم
د حصار او د پغمان بلا دې واخلم

یادګیرنه: دا نظم ۱۳۴۵ په حوت کښې چې زه پېښور ته تللی وم د شاعر اجمل خټك له خوا ماته اهدا شو زه یې په افتخار سره په خپله مجموعه کښې ساتم- خادم

# د نوي فکر ماشومان

د هجرت شمسي تاریخ چې جوړله (غم شو[۱])
زما عمر دری شپېتو کالو ته سم شو
قیمتي بې بازخواستي وه ظلم زور و
اطمینان د چا په مال او نه په کور و
چې کول هغه کول به حاکمانو
بغاوت له شرعې کړی و قاضیانو
د رشوت او فحاشۍ ګرم بنازار و
له افغانه ځنې تللی شرم عار و
حکومت سرغړولی و شورا نه
په خپل سر خو کابینه ده له پخوانه
بس سودا د عیاشۍ او د پیسو وه
قصه ختمه د غیرت او د پښتو وه
د ملت خبرې جرم وې ګناه وه

---

(۱) ۱۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغان باندې نازله دا بلا وه
د ((مشرانو جرگه)) کښې زه راگیر وم
د بر خوابدی د خپل عمر په تبذیروم
مونږ تخڅ په خپلو پښو باندې وهله
د ملت د نجات سعیه مو کوله
د افغان ملت جاري مو جریده کړه
بې له فکره حکومت مصادره کړه
دیارلس میاشتې د افغان ملت د پاره
سختو تړو کښې مو واېستله لاره
افغان سوشل دیموکرات پکښې مرام وُ
چې منلی د ملت هر خاص وعام وُ
ابتکار وُ په افغان کښې بنه مثال وُ
دا تفصیل د ویښ زلمو دایدیال وُ
که تاریخ و د زلمو شل کاله وړاندې
خولاوې ددغې ونې څانگې تاندې
یو وازان وُ د افغان دوېښېدلو
د ملت په نوي ډول جوړولو
وه د نوي ژوندون نوې رڼا څرېکه
یا دوره ك شهید له کومې تړې کړیکه
شنوه خپره که نسیم په گلستان کښې
انگازه د خوشالۍ شوه په افغان کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل نهضت دلته د پښتون مسلمان ؤ
وربې نهضت د سوسیال افغان ؤ
د مسلك دوېښ زلمونه راپیدا شول
خو په لږه زمانه کښې بیا فناشول
لکه نور چې وو مات شوي دا هم مات شو
د افغان ملت د ډلې کور میرات شو
های افسوس دلته دا کار دی له پخوانه
نهضتونه ماتول بولي میړانه
فنا نه شي که پناه شي له نظره
هره میاشت چې یوځل وخبږي دېره
چې یوځلې چیرته وځي غره کښې لاره
عالمونه بیا پرې دي درومي تل دپاره
چې دفکر تخم یوځلې زرغون شي
په مشکل بیا له مغزوڅخه بیرون شي
ترقي نشونما کوي لوئېږي
چې کوم فکر په مغزو کښې زرغونېږي
که ښکاره له منځه لاړل نهضتونه
په دماغ کښې د ملت یې شته تخمونه
له مغزونه د قلم په لاره سرکا
له دې لارې بیا ملت متاثر کا
په افغان کښې چې جذبه د ملیت ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ددغـــــو کارنـــــامو پـــــه بـــــرکت ده

ماشـــــومان د نـــــوي فکـــــر پـــــه مـــــلت کـــــې

خبـــــرېدلي دي پـــــه مينـــــه د خدمـــــت کـــــې

دا بـــــه لـــــوي شـــــي نوابـــــغ بـــــه د افغـــــان شـــــي

هو.نـــــو هغـــــه وخـــــت بـــــه جـــــوړ افغانســـــتان شـــــي

۳۰ د جوزا – ۱۳۴۶ — خادم مېنه

## تعصب او ايمان

رقيبه دا چې تعصب يې بولې دغه ايمان دی د پښتو په ژبه

زه له ايمانه تېرېدلی نه شم چې ځان ښکاره کړم د پردو په ژبه

اسد ۱۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د شاعر زړه

ډک له ارمانونو دي          نه پوهېږم څه غواړي
راز داستانونو دي          نه پوهېږم څه غواړي
غم د ټول جهان کوي          نه پېژني ځان خپله
لوی تر جهانونو دی          نه پوهېږم څه غواړي
خلك دي چې مره پسې          دی ورته نظر نه کا
مات په سوالونو دی          نه پوهېږم څه غواړي
سود يې په پيسو نه شي          کار يې په ټنګو نه شي
دغه د پيسو غټان          نه پوهېږم څه غواړي
تېر له دې کارونو دي          دا د منصبو غټان
دوی ته په فکرونو دي          نه پوهېږم څه غواړي
جګک ځي د هوما په شان          نه نښلي په دام دچا
ټل په پروازنو دي          نه پوهېږم څه غواړي
ځغلي په بنګلا پسې          نه ځي په ليلا پسې
مور له نعمتونو دي          نه پوهېږم څه غواړي
غواړي څه خو غواړي ټل          وره کښې پسې ژاړي ټل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم په سمو غرونو دی — نه پوهېږم څه غواړي
ژاړي د مظلوم سره — دروميي د محروم سره
ژوندي په دردونو دی — نه پوهېږم څه غواړي
سپړي هغه غوټۍ چې — چانه دي سپړلي هېڅ
ډوب يې په چرتونو دی — نه پوهېږم څه غواړي
غورزي پرزي ګرځي تل — نه غواړي ارام د ځان
تل په عذابونو دی — نه پوهېږم څه غواړي
وايي چې دوزخ زمونږ — ولې دي جنت نه شي؟
تنګ له دې غمونو دی — نه پوهېږم څه غواړي
کله په کتاب کتبې ډوب — کله په سحاب کې ډوب
کله په شعرونو دی — نه پوهېږم څه غواړي
دا جهان خونه غواړي — بل د دېنه بنه غواړي
زړه دی د شاعر دغه — وګورئ چې څه غواړي

۸ د اسد – کابل – ۱۳۴۶
خادم مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غوره لار

ترټولو مخکښې راته وايه چې افغان يې که نه ؟
بيا وريې به وايو دا چې مسلمان يې که نه؟
د اخرت سوال به هلته په اخره کښې شي
اوس راسره په افغاني لاره روان يې که نه؟
دا زه او ته چې پکښې اوسو افغاني ځمکه ده
فرزند ددې ښکلي هېواد افغانستان يې که نه؟
که مې افغان او پښتون وروريې نو بيا دا ووايه
چې څه خبر هم د ملت په سودو زيان يې که نه؟
په کومه لاربانديې چې درومو خطري خولري
څه هم په فکر د ملګري او کاروان يې که نه؟
په څه شان نور قومونه درومي د ژوندون په لاره
ته هم د ښې ورځې په فکر او ارمان يې که نه؟
د مليت نه پرته بل قسم کاروان به څه وي
چې ټول وګړي شي پرې غوند دغه عنوان به څه وي
هو دا منم چې اقتصاد وي د دولت په ګټه
ولې دولت دې وي ښېشکه د ملت په ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکومت وظیفه دا ده چې بنودنه وکړي
نه چې ارم وي ځان دپاره د دولت په ګټه
چې زور ور د ځان دپاره ګټي وټي کوي
هیڅ اتکا نه شي کېدای د حکومت په ګټه
کاریګر کله کوي کار چې اطمینان نه لري
بلا لګېږي د ملت د ثروت په ګټه
چې بنه نیت نه وي وطن کښې برکت هم نه وي
وطن چلېږي د قاچاق او د رشوت په ګټه
د استعمار لاس شي را اوږد چې ملت شي ضعیف
علاج دکار دی تشبث د ملیت په ګټه
که خلک غواړي چې ملت دې شي محکم اوقوي
سره دې یوشي د ملت د ثقافت په ګټه
د افغاني دنیا دپاره ډېره غوره ده دا
چې د ملت په لاره سم شي بېخطره ده دا

کابل ۲۳ د سنبلی ۱۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګوډ خر

## او

## دپامیر سفر

څه چې سفرو کوو لږ څه ګذر وکوو
لږ سیل د شپو او ورځو شام او سحر وکوو
سترې ژوندون ترکومه
دا جګر خون تر کومه
څله به چاته ګورو یار او اشنا ته ګورو
څو به د مرګ په تمه صبا بیګا ته ګورو
چاته په کار نه یو مونږ
یاورږ د کار نه یو مونږ
تا ته خو خر وایي د مېچ وزر وایي
ماته د حال په ژبه له تا بتر وایي
زه ستا په ځل ترلی
ته یې پر بل ترلی
قدر د کار نشته د خدمتګار نه شته
مونږ ته د زیار په خوله یو پوټی عار نه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څه د خوارۍ په طرف
## دا زادۍ پــه طــرف

دا جګګ سرونه ګوره　　کوږکږنګونه ګوره
کــــږه وږه لاره ده　　خپل قدمونه ګوره
ځوبــه پــه بــره بــره
ان د پامیر تــر ســره
دا هــیــبــتــنــاکــه لاره　　ډکه له خوف او ډاره
مونږ ته راپیښه ده دا　　خــورامشــکله چاره
زره تیسنګــول دي پکار
پــورتــه ختل دي پکار
شهســواران پــراتــه دي　　ښه ښه ځوانان پراته دي
سپیني ښونبدلي دلتــه　　پــهــلــوانــان پــراتــه دي
بــې هــمــتــۍ وهــلــي
دي مــایوســۍ وهــلــي
په پــورتــه تلــل ښایـي　　اوچت خــتــل ښایي
دغــه وطن دی زمونږ　　ور رسېدل ښایـي
د ازادۍ مېنــــه ده
د خــوشالۍ مېنــه ده
دا د ګلونــو ځــمکــه　　د نعمتونو ځمکه
ډکه له شانتر شــودو　　د جنتــونــو ځــمکــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د ډېوانو وطن!
د ښاپېريانو وطن!

جګ لــه جهــانه دلې　　کوز له اسمانه دلې
ارام به اوسو پکښې　　بې له سودانه دلې
اى ګوډه خره زمــا!
د زړګي سره زما !
پــه تـا بـه ښارنـه وي　　ما ته به عار نه وي
راته زخمي شــابه دي　　د سترګو خار نه وي
اى ګوډه خـره زما
دزړګي سره زمـا
ژوند به پخپلـه کـوو　　ګيلـه بـه ځلـه کوو
چې ځان ته کار وکوو　　خوراك به هلـه کوو
ځاى به د خپلې سينې دغه چمن راکې
اخربـه سپينې واورې راتــه کفـن راکې

کابل ۱۵ د حمل ۱۳۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه شته دی دلبر

نه شته دی دلبر چرې تل ګرځمه زحمت سره
یو دبل دوستي د عالم وینم په دولت سره
مینه عاشقي له منځه لاړه رسوایي شوله
نه کړي افتخار زلمي د قوم په خدمت سره
هومره زما مینه په رخسار د جانان زیاته شي
څومره چې زاهد په ارمان وینم دجنت سره
ومې کړې خبرې د ایمان و مسلمان لره
وې کاته وماته رانه جګ شو په نفرت سره
نه شته دی شاعرچې په احوال د پښتون وژاړي
کاشکې چې مې نه لیدای خپل قام په دې حالت سره
کوزه پښتونخوا په خپلو وینو کښې غرقابه ده!
ژوند په برپښتون کښې دخادم دی له حسرت سره

کابل ۲۷ د قوس ۱۳۲۳

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوړ غرونه او لوړ فکرونه

حیران یم چې انسان ولې حیوان شو لو خاونده!
بې خونده بې مزې ولې جهان شو لو خاونده !
رڼا یې دا چهان کړو خوتیاره دده وجدان شو
په کومه کنده سر دغه انسان شو لو خاونده!
د ګلو منځکښې ناست دی په مانۍ کښې د مرمرو
افسوس دی چې د مینې کوربې وران شو لو خاونده!
یرغل دی په خوارانو چېرته ځای د ژړا نه شته
ویده په توره شپه کې پاسبان شو لو خاونده!
پروازکړي په فضا کښې د ګنګټ په وزرونو
نظر یې په ناولو د ډېران شو لو خاونده!
سودا د مینې نه شته تجارت دی هلې دلې
حرم او میخانه کښې هسې شان شو لو خاونده !
حکمت د چل فریب هومره اوچت لاړودنیا کښې
قیامت په مخ د ځمکې دا زمان شو لو خاونده!
لذت دنفس ونس شو سعادت په دغه عصر
ادم دومره منحط لکه شیطان شو لو خانده!
قران یې دی په لاس کښې وارخطا ګوري هر خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکمن په خپله لاره مسلمان شولو خاونده !
تیاره په رڼا باندې مسلطه هره خوا شوه
یا عکس د شفق دی پکښې ډوبه پښتونخوا شوه
چې شپه په تېرېدو شي نو صبا پسې رادرومي
ظلمت چې انتها شي نو رڼا پسې رادرومي
هېڅ څیز په دې جهان کښې تر ابده نه پائېږي
نوبت چې ژړا تېر کا نو خندا پسې رادرومي
ځلا له ښکیه راغله ورو ورو ډوبه شوه مغرب کښې
تورتم به همېش نه وي بیا ځلا پسې رادرومي
په وچ ډاګو نو بیا اوبه رادرومي پسرلي کښې
په خوړ چې اوبه تېرې شي نو بیا پسې رادرومي
میراته باوري غ[illegible]ه نوي رنګ ظهور کا
نهضت د پښتونخوا دغې رڼا پسې رادرومي
جنبش دی حرکت دی په مغزو د پښتنو کښې
څه نوې فلسفه کمال ته رسي لوړو غرو کښې

کابل ۲ د حمل ۱۳۳۸

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زړه مـــې بېشـــانه نـــاکرار دی څنـــګه وکـــم؟
د تـــورو زلفـــو تـــوره دار دی څنـــګه وکـــم؟
یـــو پلـــو اور د عاشـــقۍ دی ســـوزمه پـــرې
بـــل خـــو پښتـــواو ننـــګ وعـــار دی څنـــګه وکـــم؟
لکـــه پـــاره ســـتا ښکلووتـــه زړه مـــې رپـــي
مـــخ دې لمبـــه دی ســـورانګار دی څنـــګه وکـــم؟
زه عندلیـــــب یمـــــه د ګلوســـــودا لرمـــــه
هلتـــه د ګل پـــه خـــوا کـــښې خـــار دی څنـــګه وکـــم؟
ســـپینه خولـــګۍ دې خزانـــه ده ســـوالګر دې یمـــه
خـــو ســـور پـــېزوان یـــې پـــېره دار دی څنـــګه وکـــم؟
هلتـــه اشـــنا مـــې بېګانـــه شـــو پـــروا نـــه کـــوي
دلتـــه خفـــه رانـــه ربـــار دی څنـــګه وکـــم؟
داباســـیند پـــه غـــاړه ناســـت یـــم لـــه تنـــدې مرمـــه
وایـــي "خـــادم" نصیـــب مـــې خـــوار دی څنـــګه وکـــم؟

۱۳۴۱ کـال ۴ د حمل

*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شاعرويره

ای د غــیرت او همتونــو ځمکـــې! ای د تــاریخ د عظمتونـو ځمکـــې!
ای د ربنا او دتنویـــــــــر وطنـــــــه ای د اخلاقـــو د تعمـــیر وطنـــــه
ای د ایثـــــار او د نیکـــــی وطنــــــه د صداقـــت او دپاکـــی وطنـــــه
د نــــهضتود هجرتونـــو ځمکـــــې! د لــوړو لــوړو بــیرغونو ځمکـــې
ای د فطـــــرت د ننـــــدارو وطنـــــه ای د اد م د شـــــاهکارو وطنــــــه

د ابتـکـار او د قـوت ښـېتـنـه!
ای د ښکلا او شجاعت ښېتنه!

دعقابـــانو پـــه جـــاګیر مـــې قســـم پـه لــوړه څوکـه د پـامیر مـې قسـم
ستا په شبېراو په خیبر مـې دې وي بیاپه کسي اوپه سپین غرمې دې وي
په پټه خوله ستا د جیحون مې قسم پـه ارزوګانـو د ژونـدون مـې قسـم!
د اباســــیند پـــــه ګډېدامـــــې دې وي د ســپینو واورو پـه خندامـې دې وي
د هریــرود او د هیلمنـــد پـــه چپـــو د لویـــو غـــرو پـــه هیبتنــــاکو درو
پـــه تـــا عاشـــق یمـــه دلـــداره زمـــا شـیرین لـه مـوره اولـه پـلاره زمـا

ستا په عظمت باندې ويسالرمه
خوزره کښې لږ شانې سودا لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کښې ويره د خپل سر نه لرم　　د چاله توري او خنجر نه لرم
نه چې اقدام به څوك په ماو كوي　　يا به يې په مېنه د بابا وكوي
ګوندې ازاد پښتونستان به نه شي　　تر سره دغه لوی ارمان به نه شي
يا به مانې اوسرکونه نه وي　　او يا به ښکلي محلونه نه وي
يا به سواد په پښتنو کښې نه وي　　يا به په ژبه د پښتنو کښې نه وي
رقص سرود او مشغولا به نه وي　　جلوې د حسن او ښکلا به نه وي
علم ادب او مدرسه به نه وي　　شعر حکمت او فلسفه به نه وي

دغه اساني دي اساني به شي
خوچارې نورې دي چې وراني به شي

په پښتنو کښې هسې چارې وينم　　زړه مې بوګنېږي چې دا لارې وينم
مشق د درواغو،خوشامندې کوي　　شرم يې نشي چې دا شندې کوي
قصې پرېږدي د پيسو پسې ځي　　څوك دکلدارو د لوټو پسې ځي
بې ننګې وګوره چې سوال کوي　　څوك د خپل پلاړ سره لاچال کوي
قام اندې اندې په ميدان کښې دی　　زلمی پښتون په غم د ځان کښې دی
ځوانان چېرګورې دي دانې ټولوي　　سپين ږيري ځان ته خزانې ټولوي
چې حال ته ګورمه په ډار کښې شم　　خدای ږوسرګومه په خپل کار کښې شم
وايم چې دغسې وي حال زمونږ　　ګوره چې څه به وي مآل زمونږ

چرې پخپله مړ افغان نه شي
خوشحال په مونږه د ښمنان نه شي


(c) ketabton.com: The Digital Library



قام به ژوندی وي ساه به نه وي پکښې     ساه به په خوله وي آه به نه وي پکښې
زړه خو به وي خوحرارت به نه وي     سر فروشي په ملیت به نه وي
پښتو به وي پکښې معنی به نه وي     خبرې د پرې خو رښتیا به نه وي
ځوانان به درومي په خوندونو پسې     نجونې به ځي په فیشنونو پسې

لرې له مونږه دغه شان دې وي،
په شهامت سره افغان دې وي،

کابل ۸ د حمل ۱۳۳۹



(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو نظر کړه په ما

په هجران کښې دې شومه ستومانه
یو نظر کړه په ما ګل خوبانه

دا ستاغم له غمونو ازاد کړم    په مثال یې مجنون یافرهاد کړم
خبرنه یمه زه له خپل ځانه
یو نظر کړه په ما ګل خوبانه

عاشقي خپله درد هم دوا ده    پیښ په هغو چې وایي سودا ده
بې له عشقه دنیا ده افسانه
یو نظر کړه په ما ګل خوبانه

تیاره شپه ده امید دسحرکړم    لاره نه شته هرخوا چې نظر کړم
رابنکاره کړه رخسار دې روښانه
لږ نظر کړه په ما ګل خوبانه

نه شاعر نه صوفي نه ملاشته    نه پښتون نه هغه پښتونخوا شته
ساقي ډکه پیاله کړه مستانه
یو نظر کړه په ما ګل خوبانه

ډیرافسوس مې افغانه په تاشي    ستا په حال اواحوال مې ژړاشي
بوي د وینو ځي ستا له بوستانه
یو نظر کړه په ما ګل خوبانه

شاعري د خادم زرګري ده    دې نغمه کښې ژړا دپيري ده
یاشوې حورې بیرون له جنانه
یو نظر کړه په ما ګل خوبانه

علی اباد ۱۶ د جدی ۱۳۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاعر او قوم

هر ملت چې شاعرنه لري نادار دی
خو شاعر چې قوم نه لري نو خوار دی

په خپل سر به څوك عالي مرام سر نه کّا
چې روان د قام په سر کېني شي سردار دی

چې په لاس کښې يې د قوم سرمايه ده
نو شاعر که وي غريب هم دنيا دار دی

چې په نظم سره درومي نو ملت شي
خو بې نظمه که کاروان وي هم بې کار دی

د شاعر مصرې دارو د هغه قام دي
چې ورك شوی ترېنه ذوق د ابتکار دی

د حکمت ګولۍ ته پوښ د شعر ورکړه
ای د قام طبيبه قوم دې بيمار دی

چې توتې توتې ملت سره پيوند کا
دا خادم د هغو خلکو خدمتګار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دارو پکښې د قام دخوږو نه وي
تف په داسې شاعرۍاو په هنر شه

په دې غم خپلې قوم کښې یو تنه یې
د جهاد قلم په لاس کړه رابهر شه

که دښنه دې لکه تور غرونه په مخکښې
ستا بلا د دغو تورو غرو په سر شه

د خیبر غوندې غلیم ته لار ورنکړې
لکه سد د سلیمان او د سپین غر شه

پښتونخوا دې غوږ قلم ته دې نیولی
نوري تولې اسرې خاورې شوې خبر شه

د ملت د زړه پرهار له مالګو ډک دی
ته پخپله ستنه تار د دې پرهر شه

ای شاعره معجزه درلره بنایي
فکر پوخ ژبه پخه درلره بنایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوبانو صفتونه راته څه کړې
که پښتون یې خو هغوی هم پښتني دي

د سپین مخ او سپینو لېچو غم کښې ګیره
د حیات او به ظلماتو کښې پرتې دي

د فراق او د وصال خبرې پرېږده
دا خبرې هم ورې دي هم زړې دي

څه پیغام د آمو یوسه اباسیند ته
په زړه شوې مې لرغونې افسانې دي

د پښتو او پښتنې دنیا سندرې
که خورې دي خو له هر څه نه خورې دي

پښتنې پېغلې زلمې په دې خبر کړه
د ملت د بنا ستنې نن کړې دي

ای شاعره د ملت سندرې وایه
پښتونخوا د عظمت سندرې اویه

کابل – ۲۵ حوت ۱۳۳۹

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه شوه یارانه

څه شـــــوه یارانـــــه هغـــــه ژونـــــدون څه شـــــو؟
عشـــــق د لیـــــلا او د مجنـــــون څه شـــــو؟

ســـــرخوږې پیـــــدا شـــــو دا د عشـــــق لـــــره
لاړ چـــــې پـــــه دولـــــت پســـــې قـــــارون څه شـــــو؟

مســـــت چـــــې پـــــرې زمـــــری د لـــــوړو غرونـــــو وو
شـــــور د اباســـــیند او د جیحـــــون څه شـــــو؟

جـــــنګ شـــــه فتـــــح خانـــــه پـــــه رابیـــــا پســـــې
زور دې د بـــــرېڅو د شـــــبخون څه شـــــو؟

لاس کـــــښې یـــــې برېښنـــــا او تندرونـــــه وو
اوس د پښتونخـــــوا هغـــــه پښتـــــون څه شـــــو؟

رابـــــه شـــــي دوره د پښتنـــــو الـــــې بیـــــا
مـــــه وایـــــه خادمـــــه دا مضمـــــون څه شـــــو؟

کابل ۲۴ د قوس ۱۳۳۴

*    *    *    *    *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سم به نه شي

څوك چې په مینه گرفتار نه شي سم به نه شي
بندچې د زلفو په زنار نښني سم به نه شي
مریض د عشق لړه گولۍ د قبوت مه ورکوئ
پسیر دمغمان ویل چې خوارنشي سم به نه شي
د کسرورزلفو مار خوړلي بل علاج نه لري
چې سورپېزوان یې هوده دارنه شي سم به نه شي
دلته مجلس دی درندانو خود غرض څه کوي
څو چې همدغلته سنگسار نه شي سم به نه شي
کوږ ددنیا له تاودمیني محبت دی پکار
تود چې د میني په انگار نه شي سم به نه شي
په ژبه نرم په زړه سخت دی رقیب وپېژنئ
چې رابنکاره یې تول اسرارنه شي سم به نه شي
غرض او مینه په یو زړه کښې ځانېدلی نه شي
څوك چې "خادم" غونډي سرشار نه شي سم به نه شي
کابل ۱۳۳۵

* * * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاړې قافلې

پــــه وطـــــن ژاړمــــــه زه    پـــــه وطــــــن ژاړمــــــه زه!
ســـردې راپورتـــه کـــړه افغانـــه    لاړې قـــــافلې واړه لتانـــــــه
ســــتا ملیـــــت څه شـــــولو    قومـــــي غـــــیرت څه شــــولو
پښتـــودې مـــه پریـــږده نادانـــه    لاړې قــــافلې واړه لتانــــــه
اول وې خــــان پــــه جـــهان    اوس شـــوې خــزان پـــه جــــهان
لـــږ وشـــرمېږه لـــه خپـــل ځانـــه    لاړې قـــــافلې واړه لتانـــــــه
ای د هــــــــرات پښتونـــــــه    ای د ســــــوات پښتونــــــــه
پـــه مونـــــږه ګران بلـــوچـــستانه    لاړې قــــــافلې واړه لتانـــــــه
خلـــــك كارونـــــه كـــــوي    پښتـــــون خوبونــــــه كـــــوي
د "خـــادم" زړه چـــوي لـــه خفګانـــه    لاړې قـــــافلې واړه لتانـــــــه

کابل میوند واټ -- خادم مېنه

۱۳۳۳ -

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځوانان راټولوم

خرابې میخانې له ره مستان راټولوم
د مینې کاروبار ته عاشقان راټولوم
حجرې د پښتنو شوې ګډې وډې پښتونخوا کښې
کوڅه په کوڅه ګرځمه ځوانان راټولوم
تاخچې نه رالوېدلې پاڼې پاڼې په محراب کښې
د زړه په شواخون سره قرآن راټولوم
پښتو مسلماني له منځه تللې پښتنو نه!
ځوله ورم هدیرو له شهیدان راټولوم
غوري په لوړو غرو کښې لودي ګورمه ملتان کښې
عسکر په بنګاله کښې د شیرخان راټولوم
پرې ایښې شعر بیا شموندوته راغللو غادمه
ورځم مشاعرې ته رفیقان راټولوم

کابل میزان ۱۳۳۳

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پامیر د لوړې څوکې نه

چې مې قام سره یو ځای شي ماته دغه متاع راکړه
څه که زه یې په قیمت کښې ترمې ترمې لکه ګل شم
د وطن بڼ مې سمسور کړه د ارزو په سرو ګلانو
پروا نه شته که په خاورو لکه تخم وشیندل شم
څومره څومره زماني شوې په ګناه د حق غوښتلو
په ناحقه له باطله په دې حق بانديې کړل شم
تیغ په سر به را بهر شم زه پوهېږمه پښتون یم
د دانې غوندې په زوره که په ځمکه ومنډل شم
د پښتون د بهار زړې که په خاورو مې څوك وکا
سره ګلونه شنه ځومبك به د غاټولو د غندل شم
د تهذیب معلم زه وم چې مې وښودو جهان ته
اوس دا زه په ټول جهان کې بې تهذیبه وښودل شم
اناالحق به مې د وینو هر یو څاڅکې ندا وکا
که سل ځله د منصور غوندې په دار وځړول شم
اباسیند په غاړه ناست وم په مستې یې راته ووې
زه به ځمه ځمه که هر څونې و تړل شم
د پامیر له لوړې څوکې نه مې سترګې جهان څارې
سپین سحر دی راختلی له مشرقه لارې لارې

کابل – سنبله ۱۳۳۶

* * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قوم تباهي

چې هلاك د كوم يو قوم چه څه وخت راشي
د دولت او قـوت خـلـك يې گمراه شي
د گناه فسق وفجور شرم ترې ورك شي
نو د دوی په شاميت ټول قوم تباه شي

## د ليډر پېژندنه

بې له عقله بې له علمه بې منطقه
هيڅ يوكس دچا رهبرنه شي كېدلای
بې جراته بې خدمته بې اخلاصه
بې همت سړی ليډر نه شي كېد لای
۸ عقرب ۱۳۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اجمل ته

ما پېژندلي په پښتو باندې اجمله وروره په نغمو باندې
مسحور په چغه د غیرت دې شومه په افغاني ننګ و همت دې ومه
دا دې لاښه خه نعره وکړله له پښتونوالي دې توبه وکړله

## د غیرت چغه

زه دې مین شوم د غیرت په چغه نه وم خبر له حقیقته ځني
چې څوك پښتو او پښتانه نه مني نو څه هیله کړي له ملته ځني
۲۸ د جدی ۱۳۴۶

* * *

هر څوك د ځان پسې جهان پېژني په ژوندانه کې سود او زیان پېژني
دا څه بلا شوه په پښتون نازله چې نه خپل ځان او نه جهان پېژني
۲ د عقرب ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې ته راځې

"مشاعره"

نسیم راوړلو زېرې د مزې چې ته راځې
خپرې شوې په گلشن کښې اوازې چې ته راځې
نسیم بلبل خبرکړلو پخپله خوره ژبه
هر خواته کړلې جگې انگازې چې ته راځې
سوسن دې لاره ساتې، د نرگس پیاله په لاس ده
غوټیو په مخ پورې کړې غازې چې ته راځې
په لارو کښې ولاړ دي زړه بایلو دي په اسره کښې
چې کله به په دې لاره راځې چې ته راځې
دوه سترگې شوې څلور د امیدوارود دیدن دي
راوځې به له کومې دروازې چې ته راځې
څوک مړه څوک به ژوندي شي د محشر ورځ به برپا شي
د څینو به شي پورته جنازې چې ته راځې
پېرزوېې چې په ښکلیو د گلشن ستا دیدن نه دی
شي زړونه د هغو به ترازې چې ته راځې
سل واري دې خادم سره وعدې دغسې کړي
خو شنې به یې په قبر وي خازې چې ته راځې

د هیواد: د ۱۳۴۲ کال - ۳۸۶۳ گڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیاست څه دی؟

لاسـتـور سیاسـت څه دی سیاسـت خوهمدغـه دی
د قـام وطـن دپـاره چـې سـړی څه لـه پـه کـار شـي

تذخـیر او پـس انـداز د ګونګټیانـو هـم ښه زده دی
خـو فـرق یـې د انسـان سـره پـه پـاك او پـه مـردار شـي

دروغـو تـه حـاجت پـه ژونـد کـښې هیڅ نـه لیـده کـیږي
پخپلـه بـه دا دروغ وي کـه سـړی ورتـه نـاچـار شـي

څه حصـر پکـښې نـه شـته سیاسـت خـو مصلحـت دی
افسـوس دی چـې بـې فکـره څوك پـه فکـر اسـتوار شـي

د قـام نـه چـې بـهر وي کـه پـه قـام کـښې وي خادمـه
پـه مثـل دمـاهي دی چـې پـه بحـر کـښې مـردار شـي

له دینـه بـده پـښه بـه لاڅه وي پـه ژونـدون کـښې
خدمـت د قـام وطـن کـښې کـه څوك بـل تـه انتظـار شـي

یـا لیـار بـه وي غلطـه یـا نیـت بـه سـهي نـه وي
د حـق پـه پـیروی کـښې کـه حـایل وېره او ډار شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅ لاره په ژوندون کښې چرې نه شته بې خطره
ترخه خپله خواږه په پل نظر او اعتبار شي

دوزخ جنت کېدې شي که ايمان سره عمل وي
جنت ورته دوزخ شي چې د بل په اختيار شي

حيران شم چې کوم ځوان له اقتصاده شکايت کا
چې لاس څوك خوځوي باور مې نه شي چې بې کار شي

مخلوق په عقيده فکرو مرام سره يو کېږي
وحدت چې پکښې راشي لوي ولس په يوه لار شي

بهاد هر يو څيز د انسان خپله اعتنا ده
تولنې ته قيمت : ده د نفعې په مقدار شي

تميز د خيروشرهله وره کېږي په ملت کښې
چې واګې د کولتورې د پردو په اختيار شي

زلميه وطن خلاص کړه له فتنې د استعماره
نو هله به آرام شي قام وطن به دې په کار شي

ژوندون لکه دريـاب دى مرغلره دا يوه ده
"د قام وطن ديـاره چې سړى څه له پکار شي"!
۲۵ د سنبلې ۱۳۴۷

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه او ورورمې

چې په ورور باندې ژړل مې — اوس پـخـپـلـه د ژړا شـوم
راشـــئ وګورئ و مـــاتـــه — د عـالـمـو د خـنـدا شـوم

## مرګيه

مرګيه خوښ يمه لټا چې خاطرې هېروې
د زړه خوږونکو آرزوګانو سلسلې هېروې
نه چې مېلمه شې مشکلات له سرې کډه کوې
خوږې ترخې تللې راتلونکې مرحلې هېروې

* * *

۴ د جدی ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شاعر او دولتمن

زما و فکر ته په فکر کې دی وایي دا شعرو ذکروفکر نو څه
زه هم وده وته هیښ پاتې یمه وایم چې مال وجاه و بکر نو څه
ده خو د تیر و مانی جوړه کړله ځان یې محکوم خپله په بند کړلو
خو دې سپاده زړګي مې ماته په یاد د ازادۍ او خدمت خوند کړلو
دی ازادۍ ته حماقت وایي چال او فریب ته لیاقت وایي
ده وته فضل و هنر توکې ایسي مال و چوکۍ ته فضیلت وایي
ما د خدمت ورته تقریر وکړلو دی په بریتونو کې مسکی غوندې شو
چې خپل موټر او خپل چاکر ته شو ځیر خدای رو بیا ماته لږ چرګی غوندې شو

کابل – ۷ د جوزا – ۱۳۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ډیوه د زړه مې په سلګو شوه ته به کله راځې
د ارزو شپه په تېرېدو شوه ته به کله راځې
ماتوله شپه ستا په ارزو باندې سپوږمۍ ته کتل
لاړه اوس مخ په ډوبېدو شوه ته به کله راځې
دزړه په سر مې درته وکړل ګلان د مینې
اوس مې باغچه په توئیدو شوه ته به کله راځې
چې دا ورو ستی هیله هم نورو غوندې خاورې شوله
ارزو له پاسه په سلګو شوه ته به کله راځې
ای د افغان د خوشالۍ او سعادت ساعته
ساه د ولس مو په سکیندو شوه ته به کله راځې

۱۵ د دلوی ۱۳۴۷

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي انقلاب

سل ځله تېر شو عسکري انقلاب　　اوس دی راغلی کولتوري انقلاب
د پښتونخوا په بدقسمته ځمکه　　چېرې ونه شولو ملي انقلاب

* * *

ځله ناکام شي هر ملي انقلاب ؟　　همېش په تاکوي پردي انقلاب
پښتو نه وينې شه د فطرت په اواز　　چې درنه غواړي پښتنې انقلاب

* * *

چې په ژوندون کې انقلاب نه وي　　د نهضتونو پېچ و تاب نه وي
ژوندی يې مه بوله په مړو دی حساب　　په کوم ملت کې چې شباب نه وي

* * *

اغيار پرسته ای خود کش پښتونه　　د اباسيند او هندوکش پښتونه
څومره بدلون درکې پردو راوستي　　خالي کالبوته له ساه تش پښتونه

* * *

ځان کړه خبر له هر حسابه ځنې　　نوې رڼا نوې کتابه ځنې
علم و هنر دې بېهوده ګڼمه　　که وي خالي له انقلابه ځنې

۱۳ د جدی ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انقلاب خبرې

ډېرې مــوو کـړې د کتاب خــبـرې
لرې بـه واورو د حساب خبرې

هغه نه ما او نـه د تـا غـوږونـدې وي
چې ځوك کوي د انقلاب خبرې

*　*　*

چې تحول په ځان کې نه شي کړلای
د انقلاب خبرې ځلـه کـوي؟

چې اجتهاد يې پـه فطرت کې نه وي
تش د کتـاب خبرې ځله کوي؟

*　*　*

مونږ تـه تقرير د انـقـلاب کــوي
پـه ده پـخپـلـه انـقـلاب شــوی

کلك دی ترلی د تقليد پـه رسی
غافل دځان له احتساب شوی

*　*　*

ځوك چې ځان نه پيژني څه غواړي
په پټو سترګو بد کـه ښه غواړي

مــخ دې ملت پلو تـــه وګرځوي
که دانه کبږي نور دې نه غواړي

*　*　*

۲۲ د ثور ۱۳۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درچمن

بفصل گل بشدم صبح تا چمن بیرون    که تازدل کنم آن عقده کهن بیرون
زمین بمثل فلک طیلسان سبزگر    میان آن شده گلهاي سیمینتن بیرون
نسیم صبح نوید بهار عمر آرد    بسوی من چوشود از گل سمن بیرون
شگفته است چومن غنچه امید چمن    توگویي زوشده ناگفته این سخن بیرون
بهار تازگی زندگی رسید اخر    چوشاه عدل[۱] شد از جنت عدن بیرون

زاعتدال هوا گلشن وبهار اید
زلطف ومهر چنین نکته صدهزارا ید

ضیای شمس زرخ ابرتیره فام زدود    به رنگ سبز چمن تا بپیش طلا افزود
زبرگ بید تنك نور بر زمین افتاد    درین زمردی ذریفت عکس بلبل بود
شدم بسوی خیابان خمار عیش بسر    بدست تیغ یکی صورتش من بنمود
گیاه سبز که باشاه گل نیا زي داشت    زبیخ کند وبرانداخت گفتنش ای بي سود

نه خادم استي و نی خود تو دلرباهستی ر
تهی زمعنی خود قابل فنا هستی ا

کابل ۵ – ۱- ۱۳۱۵

---

(۱) مراد اعتدال هوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان بدلون

کـــه څوك مـــې مړكـــړي مړكـــولاي مـــې شـــي
خو پښتون نخـــوا څوك وره كـــولای نـــه شـــي
زه بـــه لـــه قـــبره دا نعـــره وكړمـــه
چـــې پښتـــون قـــام دی بدليـــدلای نـــه شـــي

۵ دلو ۱۳۴۶

## خادم او حمزه

ديـــوه مـــې د ســـخن قيـــام الـــدن ده بلـــه كـــړي
د ذهـــن تصفيـــه امـــير حمـــزه كـــړې زمـــا
خـــادم د سياســـت لاره راوښوده پـــه علـــم
حمـــزه د ديـــن دلاري تربيـــه كـــړې زمـــا

محمد عمر سيماب شينواری
د لواړگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لایې هم نه منې

اسمان ته سیخې مې زیغې کړې لایې هم نه منې
ورته ښکاره مې معجزې کړې لایې هم نه منې
توره تیاره وه لاره ډکه له خطر څنې وه
ما یې تر مخ بلې ډیوې کړې لایې هم نه منې
په ګړنګونو باندې سرو ورلوېدلو پکښې
مایې راټینګې دواړه پښې کړې لایې هم نه منې
د دښمنانو په خوله کاندې چې څه کاندې همېش
د ښمن چړې ورته تېرې کړې لایې هم نه منې
په ورانه مېنه د پښتو مې بڼ ودان کړو هسې
چې بلبلانو پرې نارې کړې لایې هم نه منې
نوې ژوندون ته نوې لار نوې رڼاوه په کار
ما پکښې ډېرې شپې رڼې کړې لایې هم نه منې
دښمن یې راوستلو کورته نو حیران شو ورته
زه وم چې سترګې مې پرې سرې کړې لایې هم نه منې
چې یې تکل چېرته د سر او هم د مال کېدلو
مایې په سر باندې پېرې کړې لایې هم نه منې
هر څه مې پرېښوده و ده ته د پښتو په عوض
په ټینګه لوړه یې وعدې کړې لایې هم نه منې
ځان مې "خادم" کړ خپله تیر شومه له ټولو ګټو
دده تر لاس مې خزانې کړې لایې هم نه منې

کابل قوس ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عمر شپې

ډېرې شپې د عمر تېرې شوې تېرېږي
په تېر عمر مې زړګوتی تل خورېږي
ما د قام خدمت ونکړ های افسوس دی
په هغه نبوغ چې خاورې ایرې کېږي

* * *

حکومت زه د مرغۍ غونډې بندي کړم
خو پخپله دی بندي د بل په لاس دی
یو بندي بل بندي څنګه خلاصوی شي
ای افغانه دا کلام مې په اخلاص دی

۲ د جدی ۱۳۴۷

## خوار افغان

زه افغان یمه افغان یعنې پښتون یم
د جفا د زمانې نه جګر خون یم
قافلې د ملتونو لاړې وړاندې
زه لا پاتې په خپل ځای خوار و زبون یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اولاد ته

که پښتنو، پښتنو مو پرېښودو زاوزاده
په قیامت به زموږ لاس ستاسو ګریوان وي
مونږ ته پاتې له نیکونو نه جهاد دی
ټول قومونه په جهاد باندې ودان وي

* * *

کورنۍ دې د خادم "خدمت" شعار کړي
په مقاد د ټول افغان دې هر یو کار کړي
له زحمت او له تکلیفه دې ډار نه شي
هر عمل دې په اخلاص او په ایثار کړي

۲ د جدی ۱۳۴۷

* * *

## د پښتون اصل او نسب

پښتون په اصل کې ټول غلجي دی
له غره پیدا دی دغه یې ځای دی
د "پښت" له پښته راټوکېدلی
که خوږ خهاك دی او که کاسي دی

۱۶ د دلوی ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محشر

نـــاکرار زړه مـــې انقـــلاب غـــواړي
نـــوې رڼا نـــوی کتـــاب غـــواړي
د اســـتعمار دنیـــا چـــې ګډه کـــاندي
داســـې محشـــر داســـې حســـاب غـــواړي

* * *

بـــې لـــه پښتونـــه جـــهان دې نـــه وي
دا خـــره ځمکـــه آســـمان دې نـــه وي
چـــې یکـــبنې خـــواروي دا ســـاهو قـــوم
هســـې زمـــان او مکـــان دې نـــه وي

* * *

۱۶ د دلوی ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی جهان

(۱)

پــه بـرمك خـالـد بـابـا د خدای رحمت شـــه — چې تائید یې په همت خراساني کړ
د کسرو د قــبرخاوروته سلام دی — چې سرلوړی یې خپل قوم افغاني کړ
دوی د خاورې او وطـــن په پاکه مینه — سر اومـال او اولاد واړه قربـاني کـړ
ځوازادې کړ وطن د غیر له لاسه — لوړ بیرغ یې په اخلاص مسلماني کړ
په مرکز د خلافت کې برمکیانو: — په مشرق کې دا خدمت شنسباني کـړ
هم په غورهم په ملتان کې پښتانه وو — چې خدمت یې واسلام ته ایماني کړ
تردامنغ سبکتګین بیرغ اوچت کړ — چې اعلان یې پر خلاف د ساماني کړ
محمودداسې ناکردې په پښتون وکړې — چې هم غور او هم ملتان یې تاواني کړ
د غزني سیاست واړه لباسي و — په دې کار یې ځان بدنام جاوداني کړ
فردوسي غوندې حکیم یې دربه درکړ — هم یې مات د غور پیمان په ناداني کړ
شهزادګان د غور یې مړه کړه په ناحقه — خپل فریب یې د خپلوی پرې اعلاني کـړ

دریـــا ځادر چـې رنګ یـې د ادب و
په غزني باندې خپور شوی دا غضب و

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۲)

په غزني کې خورد و خواب او عیاشي وه
عشق بازي سازوسرود او مینوشي وه

غلامان وینځې رقصونه محفلونه — د دربــارحمدو ثنــایې شــاعري وه
د اسلام له سپین بیرغه مراد دلته — استعبادمال ومنال او خونخواري وه
د مرکز د خلافت اطاعت نه و — د قران ژبه مغلوبه په فارسي وه
د افغان د اخلاقي حکومتونو — پسې لمسه هم په هند هم په غزني وه
ابوالفتح محمد یې شهیدان کړل — له غوري او له لودي یې تریګني وه
د پښتو مخه یې بنده کړه په ظلم — د پښتون سره خپلوي یې لباسي وه
استثمار یې د ادب پر فردوسي کړ — کناره له دربار کړې سنا بیې وه
تل به پټ و بوعلي له غزنوي نه — چې ردکړې د دربار یې غلامي وه
فردوسي ورنه کسات په قلم وکېنښ — خو پښتون علاوالدین کړې مردي وه

دزړه تاو یې د غزني په لمبو سوړ کړ
تردې پس یې په ډیلي کې ځلی جوړ کړ

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)

تشې وينې غوري نه دي بهوولي
منارونه د اسلام يې درولي

د ګپتا د خاندان عبادت ګاه هم     داسې نورې غوري تولې دي ساتلي!
نه يې هسې چور چپاو دی چرې کړی     نه ددوی په وخت شراب دي چا خوړلي
فحاشي او نورکارونه چې حرام وو     دوی همداسې په همدې شان وو منلي
دغوريانو د لوديانو دربارونه     هيڅ ليکوال په بدعمل نه دي ښودلي
خوافسوس چې له پښتوځنې غافل وو     نور يې تول واړه کارونه وو ښاغلي
دعمل پښتو پکښې وه خو د ژبې:     په باب دوی کارونه ونکړه ستايلي
ولې بيا هم په بهلول باندې رحمت شه     چې اخلاق د پښتنو يې وو ساتلي
چې نوبت شيرشاه ته راغئ نو قلم مې     له خوښيه رحمتونه په ده نولي
ډېر افسوس دی چې د برق په شانې تېر شو     داسې ستوري کله کله دي ختلي
بيا لا هم جلال الدين غلجي پښتون و     دربار يانو ته يې داسې وو ويلي:
په "دربار کې د پښتو خبرې ښايي"     بې پښتنو يې له درباره وو شړلي
خانجهان په پښتو ژبه ځان قربان کړ
خو تاريخ د پښتنو يې زر افشان کړ

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

پـه روښان د ملیت دوره رادرومي
د شعور او حرارت دوره رادرومي

سل وشـل کاله جهاد په پښتو کاندي   بیسا ورو، ورو د حریست دوره را درومـــي
خوشال خان له تېرتاریخه عبرت اخلي   د مغـول نــه د نفـرت دوره رادرومــي
د خوشال لـه قلم مښـك عنبراوري   په افغان کې د نهضت دوره را درومي
چې رحمـان بابا قـلم په ګوتـو اخلي پــه پښتــو د عذوبــت دوره را درومــي
فارسي وان ورته حیران ګوته په خوله شي   په ادب کــې د قــدرت دوره را درومي
د روښان خوشحال مکتب بل رنګ قبول کا   پــه رحمــان د برکــت دوره رادرومـــي
د سړین او کرلاني په هر یو فرد کې.   وینـه ځغلـي د غــیرت دوره را درومي
د خیبرنه ښکته پورته پښتونخوا کې   د افغــــان د ســعادت دوره را درومـــي
د شـاعر او دلیـډر په کـوششو نو   د پښتـون د حکومـت دوره رادرومــي

چې مې نوم د میرویس خان جاري په خولې شي
لــه ادبـه مـې بـدن خـولــې، خـولې شــي

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۵)**

ميرويس څه وئ د پښتون د ژوند پيام وئ
تول ساز شوی له پښتو او له اسلام وئ

ه نامه يې زما روح و تن فدا شه — دی فدا د پښتانه ئه ننګ نام وئ
ول غيرت وئ تول تدبير و تول همت وئ — دی پښتون وئ او په‌ړه کې يې خپل قام وئ
، پښتون ننګ وناموس وئ په خطر کې — قام راتول يې په حجره صباماښام وئ
، ميرويس د زړه تنور په غرغرو — خو په خوله يې د فرصت او وخت کلام وئ
، ايران او د مغول دواړو تر منځه — راګير شوی په دوه لومو کې د دام وئ
واړو واخستو کسات له دې مظلومه — نه څه رحم وئ په چا کې نه اسلام وئ
پښتون نجات مشکله معضله وه — دوه قومونو تقسيم کړی وئ غلام وئ
پښتون په پاکو وينو پښتونخوا کې — هر ميدان لکه شفق د صبح و شام وئ
وريل پلوته تللی وئ د عصر — د پښتون نه ګرځېدلی ساقي جام وئ
.دا دومره مايوسی او بې کسی کې — ټينګ ولاړ ميرويس د عزم په مقام وئ

په تدبير سره يې الله اکبر کړ
خدای غيور دی په ګرګن يې مظفر کړ

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۶)

په داهسې لوی تېر د پښتنو کې!
په رښتیا یو ته پښتون وې میرویس خانه

د غیرت تله درنه دې ترهر چا وه        د تدبیر نه دې خالي نه وه مېړانه
د پښتو او پښتنوالي نمونه وې        فضیلت دې و موندلی له سبحانه
خزانه د پښتنو د ټول تاریخ وې        ته پخپله صحیفه وې له آسمانه
افغانیزم ملیت له تانه پاتې        یو سبق دې عالي لویه سلطانه
د شاهي تاج دې په سر کړلو پښتون ته        ځان دې مشر د جرګې کړو نمایانه
په پښتو پښتنولۍ دې ملت سازکړ        لوی قائده لوی زهیره لوی افغانه
ستا د خړ ځادر له لویه برکته        دښمن بایلوده صحنه تراصفهانه
ځنګه هېر به شاه اشرف او شاه محمود کړي        ځو چې وي د پښتنو خونه ودانه
ابدالي سره سلوک یې دوروړۍ کړ        که هرڅو یې کندهار کړلو ستومانه

افغان ستا په نامه ویاړي تر دې دمه!
د افغان د ازادۍ بابا ادمه!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷)

د پښتون د کور ډیوې شوې تتې!
خدایه دلته مازیګر او که سحر دی؟

نمر به ولوېږي تیاره به لا شي ډېره    که دا خره پره زېږي د کوم نمر دی؟
منزل ډېر دی د پښتون سترې کاروان ته    او که دا چې ښکاري مخکښې دغه غر دی؟
د پښتون دا بده ورځ به لړه ښه شي    که صبا مو لیدلې ورځې لا بتر دی؟
ناسور شوي پرهارونه یه مو روغ شي    او که نه همدغه تول رامقرر دی؟
بل یو ور به چېرته پرېته شي پښتون ته    او که مخکښې ترلې هر یو ور دی؟
پښتونخوا ادې به تولې نجونې زوکړي    که په ګېډه کې یې پاتې کوم یو نر دی؟
کوم د خیر ساعت مو شته چېرته په برخه    که همداسې لا د شر د پاسه شر دی؟
نه پوهېږو د صبا به څه پیغام وي    نن زمونږ وملیت ته لوی خطر دی؟
د فارسۍ سیلاب د پاسه راراون دی    د اردو طوفان راووښتی په خیبر دی!
د فساد مبدا پیدا په هغه ورځ شوه    له پښتو چې خالي شوی مو دفتر دی!

میرویس خان پښتو داخله په دفتر کړه!
احمد شاه بابا ژې بیرته رابهر کړه!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۸)

احمد شاه بابا بناغلي ؤ هر ګوره
داغ يې نه ؤ په شرف او په وقار کښې

هم بابا د پښتو ژبې لوی شاعر ؤ — مرغلرې يې پيئيلې په پښتو تار کښې
بابا تول پښتو پښتو عزم و همت ؤ — ولې پښې يې شولې ښويه په دې لار کښې
په پردې ژبه ملي حکومت نه شي — بابا څنګه وکړه سهوه په دې کار کښې
د رقيب ژبه يې څنګه بيا رسمي کړه — ګېچ وګول يم پاتې شوی په اسرار کښې
تول درانه قومونه وو همدلته — دا کار څنګه شو کېدلی کند هار کښې
د پردو تاثير څوك څنګه شي منلی — په هغه بادشاه چې قوم يې ؤ اختيار کښې
خدمتونه د بابا څه همره نه دي — چې يې دلته شم راوړلی په اشعار کښې
احمد شاه بابا افغان هېواد تکميل کړ — هم يې قام کړو تر قومونو په قطار کښې
خپله ژبه د افغان ملي حق ؤ — بابا پوه و د هر څه نه په دې چار کښې
له ادبه خادم هيڅ نه شي ويلای — د بابا په لوړ حضور او په کردار کښې

وايي دومره پښتون تللي دي ډوب بېړي
د پښتو ازار وهلي دي وره کېړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۹)

چې تیمور پایتخت نقل کړ کابل ته    دا سبب د پرېوتلو د پښتو شو
ایرانۍ میندې موناستې وې کورو کښې    تربیت مو تول په ژبه د پارسو شو
په دفتر کې ئې مرزا د پارسي ژبې    سپکاوی د پښتو ژبو پښتنو شو
حل و فصل د کارو چې په چرګه ؤ    اوس پخپله د بادشاه په اشارو شو
د بادشاه په خوا کې ناست خوشامند ګروو    هر یو کار به په تزویر او د سیسو شو
د قومونو رهبران واړه مایوس شول    هر چا ځان ساته په فکر د ابرو شو
د بناغلي تیمور شاه غازي تر مخه    بساط خپور د عیاشۍ او د مزو شو
دا غرض ؤ د دربار د نمکخوارو    چې زمري غونډې انسان لکه پیشو شو

د تیمور دور چې تېر شو زمان راغی
د بهار ورځې وې تېرې خزان راغی

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰)

دتیمور غوندې زمان هم خوارۍ وکړې
خو مرکز چې څنګه وران ؤ هسې وران ؤ

مملکت ټوټه ټوټه له لاسه ووت — نن لاهور صبا کشمیر او بیا ملتان ؤ
وریسې بیا پیښور رانه جلا شو — د انګریز له دسائیسو دا بحران ؤ
چې فتنه شوله محکمه پیښور کې — نو مرکز د استعمار بیا په ایران ؤ
له دوه خواؤ په افغان باندې یرغل ؤ — د انګریز لاس کې ایران او هندوستان ؤ
دښمنان وومنظم افغان خراب ؤ — نه مرکز نه اتفاق او نه سامان ؤ
آفرین د شیرعلي په لوړ همت شه — چې انګلیس ته دربدلی په میدان ؤ
په دې دومره تنګ ساعت او اضطرار کې — کار یې وکړو د ملت چې څو یې توان ؤ
په افغان باندې داهسې دور راغی — چې انګریز او هم افغان پکښې سنومان ؤ
تر دا منځه راپیدا عبدالرحمن شو[1] — څه عجیبه کار یې کړی تر دا میان ؤ
بې پراو یې له تېرې تورې نه تېر کې — څوك چې پاتې له انګریزه په میدان ؤ
ابدرامانٌ خپلې کنځاوې په پښتو کړې — تغر ټول نور له کابله د افغان ؤ

چې پښتو له منځه لاړه خوار افغان شو
د افغان په خوارۍ خوارافغانستان شو

*   *   *

---

(۱) عبدالرحمان خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۱)

په دنیا کې چې یو نوي شان پیدا شو!
د افغان پرخونه هم امـــان پیدا شـو

سخت کوشش او سخت جهاد یې په سر واخست — د ملت په مرکالبوت کې ځان پیدا شو
ده بیا ګوتې د پښتو په رباب کښښوې — قام راځکه شو پکښې نوی توان پیدا شو
په دریم ځل یې انګلیس له خاورې وایست — په دې ځمکه باندې بل آسمان پیدا شو
د پښتو د ملیت د پر طرفدار و — شرق یې وینې کړ چې امان افغان پیدا شو
د امان اعلحضرت له ګرمه عشقه — د انګلیس و استعمارته زیان پیدا شو
د امان وبدنامې ته یې ځان جوړ کړ — ناروغ شوې ملک ته بیا تاوان پیدا شو
امان لاړو په لمبو د اغتشاش کې — تخته واووښته یو بل جهان پیدا شو
په وطن کې چې اور مړ په تدبیر شو — لړ د فکر و عمل بیا زمان پیدا شو
بیا پښتو پښتو بازي شوه خو چې ګورو — څه عجیب غوندې زلمی او ځوان پیدا شو
هر څه شته دی خو هیڅ نه شته غني خدایه — د خادم لا په ځان بدګومان پیدا شو

څه بدل غوندې زمان او مکان وینم
په دا منځکې یې سرګومه افغان وینم

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۲)

چې راتلو به د توپونو د زهار کښې
نن را درومي په رباب او په سیتار کښې

استعمار بنه بدله کړه هر ګوره — فرق یې راغی په حمله او په ګوزار کښې
دام بدل شو دانه هم شوله بدله — فرق مشکل شو په اختیار او په اجبار کښې
های توبه توبه د دې عصر له علمه — لا هغه چې وي په لاس د استعمار کښې
یا ګیر کیږي یو ملت په سرورو کښې — یا ګیر کیږي د تاجر په استثمار کښې
یا یې ځوان ورته ګمراه کړه نسوکار کیږي — یا یې نور داره مار کښېښنوه په لاز کښې
د یوه ساعت مزل ورته د شپو کړه — چې شي ورك لاره ونه مومي په ښار کې
که په ګېډه دې کړوږي یا عیاش شو — بیا شرف ورځني واخله په بازار کښې
دیموکراټ یې کړه چې تل خوشي قصې کا — په شورۍ او په اعیان او په اخبار کښې
یا یې سپی کړه یا یې بند د خره په دُم کړه — نو یې پریږده یا دې ګرځي په هر ښار کښې
دا خو شعر نه دی خادمه چې یې ته ښکې — بل جهان دی ستا د فکر ابتکار کښې

نن په هسې دسیسو کښې افغان ګیر دی
خو لا هم نه دی د ځان و حال ته خبر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳)

چې پښتو او پښتون مره شوه کندهار کښې
سر يې هسك له و تمانزو او له نوبهار کړ

سور بيرغ بابا راواخستو اوچت شو ——— د پښتو او د پښتون غرېږې په جار کړ
خان باباعبدالغفارسره خداى مل شه ——— چې يې چور له استعماره نه انکارکړ×
ورسره په محمدګل د خداى رحمت شه ——— لاهمداسې په ضمد چې يې دا کار کړ
د بلوڅ پښتنګان څې وسورانګار ته ——— د برمهرونو خان ستي په دې انګار کړ
د ولي قدم بد نه و، په اول کښې ——— خو افسوس خپلو ملګرو رادوځار کړ
په دويم او په دريم قدم کښې ګير شو ——— په شطرنج د سياست کښې يې ايسار کړ
څنو داسې چارې وکړې چې په زوره ——— يې خپل قام له خپل مرام څنې بېزار کړ
د خيبر نه پورته څه وايم چې څه دي ——— څوك ويده شول چادننه سر په غار کړ

يوخادم په خپلسه لار درومني روان دی
په نظر يې چېرته بل "نوى جهان" دى!

• • •

کابل خادم مېنه — ۲۰ د جدی ۱۳۴۷ هـ ش

× ده وويل زمونږ پروګرام نشنلېزم، ديموکراسي او سوسياليزم دى؛ خو چې له بنده را خلاص شو له پښتونولۍ يې انکار وکړ او په اردو لګيا شو. دغه وخت يې وويل پښتو زمونږ پروګرام کې دزيم او څلورم قدم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنیا واره تګي ده

راځرګنده پـه دنیا واره تګي ده　　پـه عالم کښې تـن صبا واره تګي ده
لور دمور سره تګي کا زوی له پلاره　　خور و ورور ترور وکاکا واره تګي ده
په خنداسره ګذران دخاوندښځې　　په بستر کښې مشغولا واره تګي ده
عاشقان او معشوقې د دنیا واره　　اشـنایي د هـر اشـنا واره تګـي ده
ماهرویان چې په غمزو زړونه وباسي　　د رقیـب سـره خـندا واره تګـي ده
لاپې شاپې، محبت او دا وفا شي　　مـالیدلې شـاوخوا واره تګـي ده
کورو کلی محله مې تجربه کړه　　راشـه درشـه د هـر چـا واره تګـي ده
شاګردي او استاذي کې مزه نه شته　　یـو تـر بلـه پـه سـې شـا واره تګـي ده
د پیری اوموریدی نه مې زړه توردی　　لټـوي پکښـې دنیـا واره تګـي ده
د بازار معاملې ته مې نظر کړ　　هـسې شـان سـودو سـودا واره تګـي ده
بې اخلاصه عبادت تلاوت واره　　دا ذکـرونه او تقـوی واره تګـي ده
زرګري اوخیاطي زمیـنداري هم　　ملایـي د هــ مـلا واره تګـي ده
مجلسونه صحبتونه د یارانو　　ده، د سپینې ورځـې غـلا واره تګـي ده
ملکانو د خانانو حـال تـه ګورم　　هـسې چـارې نـاروا واره تګـي ده
د ډاکټر طبیب انصاف ته مې نظر شو　　دمریض په حق کښې دا واره تګي ده
محکمې ته د قاضي، مفتي حاضرشوم　　فیصـله، شاهد، د ...ی واره تګي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۵۳

دحاکم په محکنبې دا د دمظلوم نه شي — د رشوت سودوسودا واړه تېکي ده
مامورين د خپلوخپتو غم کښې ډوب دي — د ملت سره يې دا واړه تېکي ده
د بادشاه نه تنخواه خوري رعيت نه غوښې — غداري د خپل بادشاه واړه تېکي ده
بيا ناري د قوم وطن وهي په زوره — د اسلام پوري خندا واړه تېکي ده
هر ماتحت د خپل مافوق نه برخلاف دی — د نوکر او د مولا واړه تېکي ده
رعيت د خپل بادشاه نه په فراق دی — دبادشاه د روغو رشتيا واړه تېکي ده
دا وعدې او سفيران د بادشاهانو — يو له بله خدايږو دا واړه تېکي ده
تجارت او اقتصاد چې ورته وايي — گټ کېږي ده ناروا واړه تېکي ده
خوش تقريره مقالې د اخبارونو — صداقت پوري خندا واړه تېکي ده
دروغ، کذب، پروپاگند درې واړه يو دي — صحافت د کل دنيا واړه تېکي ده
چې بيان شودغه واړه سياست دی — سياست نومې بلا واړه تېکي ده
چې د حق حب وهراس يې وپه زړه کښې — هغه نه شته نن صبا واړه تېکي ده
يا ايمان دی په خاوند ياسرتوب دی — بې له دې شورو غوغا واړه تېکي ده

چې ايمان د چا په ځان نه په خاوند شته
اې خادمه نن په دا واړه تېکي ده

لوار گي: ۱۸ د روژې ۱۳۵۲ قمري

يادگېرنه: دا شعر زما د لومړنيو افکارو څخه دی چې ۳۵ کاله مخکښې ليکل شوی دی. هر کله چې په خپل حقيقت پاتې دی او نشر شوی هم نه دی، نو د مرغا و اميل له مسودې څه رانقل شو.

کابل: ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خادم وايي:

نــه ډالــر لــرم نــه پونــډ او نــه کــلداري
پښــتون ومــه پښــتون يمــه او پښــتون مــرم
دا ايمـــان، دا اراده، دا مـــې عمـــل دی
په خپل هوډ مرم، نه د خلکو په لمسون مرم

۲۰ د دلوی ۱۳۴۷ هـ. ش



(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابل او پښتو

چې پښتو نه لري افغان به څه وي — لا بې غیرته مسلمان به څه وي
ځکه مئین زه په پښتو شولمه — چې خودي نه لري انسان به څه وي

*   *   *

یون دې کابله وکوم لورته دی — دا څه کانې دي چې په تاوشولې
چې پښتو عامه شوه تا سسته کړله — دا دی اجبار که په صلاوشولې

*   *   *

کابله زړه د کوم هېواد یې ته — د چاله فیضه نه اباد یې ته ؟
لږ خودې ځان اوبیا پښتو وګوره — دا چا ازاد کړې که ازادیې ته ؟

*   *   *

ته خو پښتون وته افغان وایې — پښتو ته هم ته افغاني وایې
چې خان افغان کړې ماپښتون وګڼې — بیا دپښتویه ځای فارسي وایې

*   *   *

پښتو ددې هېواد ملي ژبه ده — بیا ورسره لاهم رسمي ژبه ده
مخالفت د پښتونه دی روا — چې دا ددې خاورې بومي ژبه ده

*   *   *

بېل دی بښتون او افغان ولې کړلو — ځان ته حیران دې جهان ولې کړلو
یوشی دی حقیقت دغه دی — دا حقیقت دې بل شان ولې کړلو

*   *   *

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک افغان وي نو پښتون به وي هم    چې پښتون نه وي نو افغان په څه شو؟
لکه جرمن او د الـمان لفظونه    چې څوک جرمن نه وي المان په څه شو

* * *

کله دې وخوري په زور کابله    اوس رانه شوکه کړې په شور کابله
د تعصب او د فاشیست په چیغو    ځان دې کړو سپین او مونږ دې تور کابله

* * *

بس دی کابله ضدیت مه کوه    د پښتنو مخالفت مه کوه
د نیم نه زیات در کښې پښتون دی اباد    د حق سره مقاومت مه کوه

* * *

ای د افغانستان افغانه وروره    ای غیرتي ای مسلمانه وروره!
ملي وحدت بې پښتو نه شي راتلای    زما د ښکلي هېواد ګرانه وروره!

* * *

قومونو ځېل پرابلمونه کړه حل    دنیا یې خپله کړه په علم وعمل
پښتو خوستن ده د وحدت د بنا    وهل یې نه ښایي په زور او په چل

* * *

اعلان مو دا دی بل اعلان نه شته    په پښتو ژبه کښې تاوان نه شته
چې یې مرکز په ملي ژبه نه وي    داسې وطن په ټول جهان نه شته

* * *

جلال اباد ۲۸ د دلوی ۱۳۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سید حسن خان د قبر ډبره

په ادب باندې تېرېږه ای زلمیه درته وایم
د حرمت او شرف ځای دې زه یې په ګوته درته ښایم
دا دخاورو ډېرۍ ګوزه پکښې لعل د بدخشان دی
مرور ورته راغلی پکښې پروت سید حسن خان دی
د وطن په هوډ کښې مړ دی، مړ یې مه بوله ژوندی دی
لوي عالم دی، لوی شاعر دی، لوی پښتون دی، لوی سړی دی
خوله یې ډکه له خندا ده: خو په زړه یې دي غمونه
د وطن په غم غمجن دی چاته نه وایي حالونه
په محفل کښې د یارانو د ډیوې غوندې بلېږي
په هېڅ وخت یوازې نه دی پتنګان پرې راټولېږي
په خندا خندا په توکو د عمل درسونه وایي
د ادب دسیاست او د تاریخ بابونه ستا ښیي
لوی جنرال دی لوی قائد دی نیشنلست دی وطنپال دی
نه یې کور شته نه یې اور شته مسافر دی دا بې حال دی
د وطن په مینه مست دی له هر څه نه بې پروا دی
په دې مینه له سرتېر دی دغه کار له ره پیدا دی
د خوږې ژبې خاوند دی بنه ملګري بنه اشنا دی
ټوله مینه محبت دی مهربانه په هر چا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه سید دی نه باچا دی نه د کوم بابا اولاد دی
کلک پښتون دی میړنی دی نر فرزند د پښتونخوا دی

نه منت مني نه عذر نه یې خوک شي اړولی
داولس یو فدایي دی څوک یې نه شي ډارولی

اشنایانو دي تګلای خپلو ورونو تېر ایستلای
بې ارځی خوابدی کړی څوک یې شي پخلاکولای

په زندان کښې یې ساه ورکړه نه یې عذر نه فریاد کړ
دهمت هېر شوی درس یې دوباره مونږ ته رایاد کړ

وایي خښ مې په ډېران کړئ چې میدان کښې شهید نه شوم
څه پروامې ده له مرګه خوافسوس چې سعید نه شوم

ځئ چې غونډ یې شو په قبر ورته ښکته کړو سرونه
لاس یې ښکل کړو پښې یې ښکل کړو ورته وکاندوعذرونه

۳ د حوت ۱۳۴۷



سید حسن خان وکیل رئیس حربیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ای د دې جهان خاونده

(۱)

دا جهـان د استـعمـار دی؟ که ستا هم پکښې اختیار دی!
ای د دې جهان خاونده
ستـــا بنـده پـه کـړاوونـــو او دده بـنـده راحـت کښې
ستا بنده دی په دوزخ کښې او دده بـنـده جـنـت کښې
ستـا بنـده تـه مـقـــرردي قـسـم قـسـم عـــذابـونـــه
چې بـنده د استعمــار شـو رنګار رنګ یې نعمتونـه
له هر خـوا لارې پرې بندې ستا بنده ډېر په ضرور دی
اور یې بل په روح و تن دی دا جهان پرې سورتنوردی
ستـا بـنـده ډېرکـړه مـن دی د ژړا لـوري یې نـه شتـه
لـه هـرخـوانـه عـذابـونـه نـا هیـلی او کـړاوونـــه
دا جهان د استـعمار دی؟ که ستاهم پکښې اختیار دی
ای ددې جـهـان خـاونـده!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۲)

چې څوک ستا کلمه وايي — د انګرېز په تور اخته شي
په هر شان خورول کېږي — په عالم کښې مسخره شي
لړ خو وګوره جهان ته — پکښې څه ظلم و ستم دی
دده هر بنده خو شاله — ستا بنده په غم غمجن دی
دی د خپل مريي له حاله — د ېر په ښه شانته خبر دی
بده ورځ ورلره نه شته — هره شپه لکه اختر دی
هم شاهان هم عالمان شول — دښې ورځې خاوندان شول
بندګان د استعمار ټول — د ېر سرلوړي په جهان شول
چې په دغه درقبول شي — نور نو څله مشقت کا
دکوڅې سپي خوبې ګوره — په شاهانو حکومت کا
وفادار چې د اغيار وو — هغه واړه نېکبختان شول
د لعلونو جواهرو — د قصرونو خاوندان شول
دا جهان د استعمار دی؟ — که ستا هم پکښې اختيار دی

ای ددې جهان خاونده!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)

ای ددې جهان خاوندهٔ! لږ خو دې جهان ته ګوره
ستا مخلوق خوار و زبون دی خپل جلال او شان ته ګوره
استعمار پکښې مزې کا دې چپه دوران ته ګوره
څوک واکدار ددې جهان دی؟! تریخ بېخده یې ژوندون شو
وران ددې ځمکې نظام شو ورک له هرچا یې مضمون شو
تاپیدا ازاد جهان کړ چې هرڅوک پکښې ژوندون کا
خو انګریز له خپلې خوانه په هر څه باندې شبخون کا
چې دده له غږونه دي ته سرو باسي قصابي شي
یا خوراک شي د لېوانو یا په غرونو کښې وحشي شي
ته یو څه غواړې جهان کښې دی بل څه کا په دا میان کښې
دا جهان د استعمار دی؟ که ستا هم پکښې اختیار دی
ای ددې جهان خاونده!

*　*　*

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

مذاهب یې دي په لاس کنې　　فلسفې شي جوړولای
نبغ ولاړ دی په هر دین کې　　هر سړی شي تېرابستلای
څوک مرشد اوڅوک پېشواکا　　څوک لیډر څوک راهنما کا
څوک واکدار کاندي په نورو　　پرې د قام خونه تالا کا
څوک رسول څوک پیغامبر کا　　څوک مرتداو څوک کافر کا
د هر چا سره جوړېږي　　خود خپل مطلب دپاره
په دوستۍ که دښمنی وي　　خو بس خپله مدعا کا
د پېر اوږده اوږده دامونه　　غځوي په فرېبونو !
یکښې نیسي ملتونه　　دولتونه د ملکونو!
تاریخي قومونه وژني -　　نوي نوي راپیدا کا
دی مئین په خپل مخلوق دی　　بل مخلوق ځینې ابا کا
چې خودي په چا کښې وینې　　چې دا فرد وي که وي د له
لولیه شي سره لمبه شي　　له غضبه له حسده
بل خود دار وایي چې نه شبته　　دا انګریز دی چې خود دار دی
یاداري او سرداري او -　　واکداري هم دده کار دی
چې د خدای او پیغامبر او　　د قرآن واوري خبرې
نو موسکی شی بیا له قهره　　یاندې راشي سره لړې
وایي دا جهان زما دی　　بل جهان ځان ته پیدا کړه
دا جهان د استعمار دی؟　　که ستا هم یکښې اختیار دی

ای ددې جهان خاونده !

*　　*　　*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۵)

دا جهـــان دده تېکـــه دی    او کـه تـا ورلـره پـرېښود؟
تابیـسرغ د واکـــداری خپـــل    دده مخکښې ځله کښېښـود؟
بـې پسروا پـه سرنوشـت د -    ملـــتونو لوبـــې کـــاندي!
څوک اوچت او څوک راټیټ کا    د چـا غوځـې کـاندي مـراندې
هغـه څـه چـې تـا کـول بـه    اوس یې دی کا پـه دنیـا کښې
د قومونـو ژونـد او مـرګ دی    د انګرېـز پـه تـولا کښــې
هـم تـاریخ شـي سـازولای    هـم کـلچر شـي ورانـولای
قـام چې مرګـا بیـا لـه خـاورو -    یې بـل قـام شـي را ابـتلای
د قومونـــو ژبـــې وژنـــي    چـــې انګرېـــز اراده وکـــا
ور پیـــدا کـــا نـــوې ژبـــه    چې کـوم قـوم نـوی شـته کـا
چـې خـلاق او رزاق دی شـو    نـو تـه څـه شـوې ای څښتـنـه!
دا جهـــان د اســـتعمار دی؟    کـه سـتا هـم پکښې اختیار وي
ای ددې جهان خاونده!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۶)

په رګونو د انسان کښې     لکه وینه داسې ځغلي
بلکه روح غوندې په وینه     کښې جاري اوهم ساري دي
په کالبوت کښې د قومونو     ننسو ځي بیا نښا کیا
په هرشان په هردستور کښې     انګرېز خپله مدعا کا
درته نه وایي چې وکړه     نه دا وایي چې دا مکړه
خو چې څه کوې په نفعه     د انګریز بابا یې وکړه
جریان داسې جوړوای شي     چې هرڅوک پکښې رغړېږي
څوک په پوهه څوک ناپوهه     د انګرېز په ډول ګډېږي
نتیجه د هرنهضت با-     یدپه نفعه د انګرېز وي
که دا نه کېږي نهضت به     له یو مخه رېزمرېز وي
که یې لاس دستي برنه شو     د سل کالو انتظار کا
چې جریان دده په نفعه     شي نو خپله مدعا کا
نیشنلست دی سوسیالست دی     خوبیا هم کاپیتالست دی
سیاست دده مذهب دی     حقیقی ایمپیریالست دی
هسې لوبې په شان شان کا     داسې چارې په جهان کا
دا جهان د استعمار دی ؟     که ستا هم پکښې اختیار دی؟

ای ددې جهان خاونده!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۷)

د جهان په تول قومونو | يې غوغا څو ځلې کړې
د ميدان غوټو سکه دوی نه | يې په څوڅو ځله وړې
اوس له ډار د استعمار نه | غوړ څوک نه شي خوځولای
لا په کورکې څوک د ښځې | سره نه شي ګړېدلای
څوک په دين څوک بېديني کې | د انګرېز کلمه وايي
څوک خپل قام وژني په ډاګه | که څه هم په زړه کې ژاړي
ستا په خمکه برخلاف ستا | کودتا نه ده نو څه ده ؟
د فطرت په قوانينو | ناروا نه ده نو څه ده ؟
ځله ته ورته سکوت کړې | بل افغان ورته پيدا کړه !
د پر له تاشولو خود سره | وېره نه لري له سره
دا جهان د استعمار دی؟ | که ستا هم پکښې اختيار دی

ای ددې جهان خاوندە!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۸)

د افغان وحال ته گوره — چې تو ته توته جلا شو!
یو وجود شو اندې اندې — بل جهان ترینه پیدا شو!
هلته گوره هندوستان ته — ورسره بیا پاکستان ته
د کشمیر انجره گوره — د پښتون ناوره گوره
بلوڅ ژاړي و خپل حال ته — سیند ته گوره هم بنگال ته
د ډیورنډ وکارته گوره — مېکماهن هو بنیارته گوره
په ایران کې واویلا ده — د ملت د سر قیضا ده
هلته څوک ناست دي څه کاندې — څه سطرنج دی لاندې باندې
چا تیوکره تیوکره عرب کړ — سوکارنو چا په ادب کړ؟
اسرائیل له کومه ځایه — چا حاضر کړل فلسطین ته؟
چا چیلنج ورکه قران او — د اسلام وښکلي دین ته؟
د لارنس ابتکارونه — په اسلام یې گوزارونه
په تاهسې مسخرې کا — تول کارونه بې اسرې کا
داجهان د استعمار دی ؟ — که ستاهم پکښې اختیار دی
ای ددې جهان خاوندە !

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۹)

شوروي ته يې جوړ کړی          پرابلم په اروپا کې
فارموسا ده تېره غشی          چې چوخېږی د چين خوا کې
امريکا يې راپيدا کړه          قسمي يې په خپل خواکړه
د انګريز بې مصلحته          هيڅ يو کار نه شي کولای
ته دده د غږوندي نه          چېرې سر شي غړولای
مال او سر د امريکا ځي          د انګريز په تولا کې
هره ورځ ورته پېښېږي          لوی کارونه په دنيا کې
په ويتنام کې يې کړه ګيره          حال يې ګوره کوريا کې
منځني ختيځ ته ګوره          امريکا ورته راکاږي
دا قصرونه د لندن دي          افريقا ورته راکاږي
دی په چين کې تجارت کا          امريکا لمسوي جنګ ته
خان به روغ سلامت يوسي          که يې واچوي ګړنګ ته
که تبعيض دی که نفرت دی          که تضئيق او که شدت دی
ده يې تخم دی کرلی          ستا په دې بنګلې دنيا کې
دا جهان د استعمار دی؟          که ستاهم پکښې اختيار دی

اې ددې جهان خاونده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰)

ډزيـــې وركـــړ جرمـــني تـــه تېس يې ووېست لـه جاپانه
ســـوكارنو يـــې راپـچـــاړ كـــړ د ناصـــر خونـــه شـوه ورانـــه
د يـورپ پـه ګـډ بـازار كــې لـه دوګـول څخـه لـړ تـنګـه دی
نـــور كاملـــه مطمـــئن دی ټـول عـالم تـرې چنګ پـه چنګ دی
څومره څير دي پـه دنيـا كـې د انســـان پـــه پېژنـــد لـــو
ښـه سـياس اوښــه نـباض دی د عـــــالم د تېراېســــــتلو
اداره كـــې ډېـــر ماهـــر دی بې بې سـي تـه خويـې ګـوره
كـــار پـــه رمـــز او اشـــاره كـــا دې شـپېلۍ تـه خويـې ګـوره
هـر موريـد تـه خـو يـې ګـوره څومره تېنګ دی و خپـل كـار تـه
هېڅ مطـلب بـه تـرې وانخـلي كـــه يـــې راكـــاږې ودار تـــه
بې پـروا دی نـور لـه هـر څـه بـــې لـــه چـــال او سياســـته
ټـول جهـان يـې تېراېسـتلی لايـــې ګـــوره تـــر قيامـــته
تكـــبر دده خاصـــه ده ډېر مغـرور دی وخپـل ځـان تـه
دا جهـــان د اســـتعمار دی؟ كـه سـتا هـم پـښـې اختيار دی

ای ددې جـهـان څـاونـده!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۱)

خدایه خیر کړې رقیب راغی د افغان کور ته دننه
لا به نور په مونږه څه کا اوس له چا وکړو پوښتنه
تش یو نوم دی راته پاتې نور خو هر څه رانه تللي!
که پښتو رانه وانخلي نور مو هر څه وربخښلي!
خو افسوس دی چې پوهېږم پښتو هم رانه اخلي
په دې یاس او ناهیلۍ کښې یوه هیله راخلېږي
په دې سخته بې ارځۍ کې پښتون لږ شانې پوهېږي
خپله ژبه به پرې نږدي که تول ستې شي له یو مخه
په دې توره شپه ظلمت کښې دا یوه سپرغۍ بلېږي
ستا په نوم دي تباه شوي لږ پرې ورحمېږه خدایه!
د خوارۍ یې اتنها ده لږ پرې ولورېږه خدایه!
ستا په نوم یې دغه حال شو ژوند وده وته وبال شو
دا جهان د استعمار دی؟ که ستا هم پکښې اختیار دی
ای د دې جهان خاونده!

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۲)

ای ددې نړۍ انسانه    که رښتیا ازادي غواړې
ښه ژوندون دې مدعا وي    د آدم ابادي غواړې
افغان مه پرېږده چې مړ شي    دا یو قام دی په دنیا کښې
مخالف د استعمار دی    مخالف د استثمار دی
د مېړانې ژوندیې خوښ دی    غلامۍ څخه بېزار دی
دی مؤمن په سرپتوب دی    سرپتوب دده مذهب دی
ښه سړی دی ښه ملګری    همدغه دده مطلب دی
خوخلاصون یې اسان نه دی    د ښتره لویسته معما ده
راګیر کړی استعمار دی    پېرې راغلي ابتلا ده
یو وجود توټه توټه شو    بیا هر یو په ځان اخته شو
په مذهب یې غولوي تل    په شان شان یې ځوروي تل
له خپل ځانه بېګانه شو    په عالم کښې افسانه شو
د آسمان و لورته ګوري    تل دغه یوه وینا کا
دا جهان د استعمار دی؟    که ستا هم پکښې اختیار دی

ای ددې جهان خاونده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۳)

لوی عذابه‌ودې نرۍ ته   استعمار دی استعمار دی
چې نرۍ نن پکښې سوزي   دغه اور دی دغه نار دی
له تېري د استعماره   زور زیاتی دی په جهان کې
استعمار شلېدلی‌کټ دی   ترمیمېږي انګلستان کې
یو افت توره بلا ده   په نړۍ نازله شوې
دیوال پای توره خپسه!   پر انسان راتاوه شوې
چې د بل ګټلي اخلي   یا په زور یا په چالونو
دا وګړي بېغیرته   دې شي یاد په لعنتونو
چې خدمت یې مرادنه وي   او په نورو حکومت کا
سړی ځلنه ځان ته وایي   چې دا هسې خیانت کا
بې له زیاراو بې له کاره   تمول له نورو غلا ده
څوک چې داسې دولتمن شي   د ولس په ځان بلا ده
د پیسو او چوکۍ مینه   ښه چې کښېني په کوم زړه کې
د انسان او د حق مینه   نه ځائېږي بیا په ده کې
حیرانېږم پیسه دار ته   استعمار او استثمار ته
د ژوندون نه جوړ عذاب کا   ځان ونور وته قصاب کا!
دا څه علم څه شعور دی   تري وګړي په ضرور دی
دا جهان د استعمار دی؟   که ستاهم پکښې اختیار دی
ای ددې جهان خاونده!

* *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۴)

جهان ستا دی ای وګړیه — ای زو زاد د بابادمه !
رښه ستا په مخ ده ځمکه — له لرغونه تردې دمه !
ته قدرت ددې جهان یې — ته ثروت ددې جهان یې
جهان تا باغ ارم کړ — سردې جګ شو تر اسمانه
پرابلم په مخکښې څه دی — فکر وکړه ای انسانه
تول اولاد د بابادم دی — یو کهول اویو وطن دی
د هیچا دپاره نه دی — خو د ټولو ګډ میراث دی
چې په کار او سرپټوب یې — اینبود شوی پوخ اساس دی
که څوك نه خوري د بل ګټه — هر یو یوسي خپله څټه
باداري او ظلم پریږدي — له اوږی نه وسله کښیږدي
کار په عقل او علم ساز شي — ورك له منځه نه غماز شي
تعرض او فسادنه وي — دا جهان به څومره ښه وي
که چل ول له منځه ورك شي — دغه شان سیاست سپك شي
د نفرت پرځای دوستی شي — ورك حسد او د ښمني شي
څه به ښکلی جهان جوړ شي — خدای رو هر یو به ښه موړ شي
د تذخیر فکر که نه وي: — همکاري وي په جهان کښې
نو تخریب به څله کیږي — دا ځیږنه ده اسمان کښې
ملائکي د اسمان دي که د علم خاوندان دي — دوب په فکر د انسان دي دوب په فکر د انسان دي
دا جهان که څوك و جنګك ته — کښوي دا انسان نه دی
چې فساد غواړي په ځمکه — چې شیطان نه دی نو څه دی؟
دا ممکن دی چې جهان نه — یو د ځمکې جنت ساز شي
څومره ښکلې به فضا وي — که درواغ نه وي ربښتیاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاسکانه تر جاپان نه — سائبیري تر هندوستانه
که څه فکر لږ بدل شي — ورك له دې نړۍ به غل شي
دا جهان به ګلستان شي — له تېري به په امان شي
دا نړۍ ځای د عمل دی — تیارخور ربنتیا چې غل دی
څله یو انسان مرئي شي؟ — بل بادار او بنه سړی شي؟
دا جهان د بابادم دی — چې په علم وعمل سم دی
ټول دې زیار او ټول دې کارکا — په نوبت دې واك اختیار کا
ته واکدار ددې جهان یې — که پوه شوی یې انسان یې!
جهان ستا ستا د ابا دی — ای کارګره دا ندمنده!

ای ددې جهان خاونده

کابل : ۱۵ د حمل ۱۳۴۸

یادګیرنه :

خادم "د مرغلرو امېل" څخه د پښتو د شعر په کلاسیك فورم کې د توسیع پیدا کولو لاره نیولی وه، په "ځاروان" کښې دغه کوښښ لوړ معیار ته ورسېد او په دې مجموعه "بلکا" کې دغه زیار بله بنه غوره کړه چې هغه باید د پښتو شعر دپاره د کلاسیکي قیودوڅخه د خلاصون دوره وبولو په دې ډګر کې دا شعر لومړی ګام حسابېږي. هیله ده که موانعو مخه ونه نیوله په اینده کتاب : "نوي دب" کې به پښتو شعر د بایزید روښان او هخامنشي اناساتو له لارې د اسیا او ژند ستائل او بیا بېرته د ریشیانو عنعنوی معیارته ورسول شي ـ چې د هر قسم حیاتي افکارو ګنجایش به لري.

قیام الدین خادم - جلال اباد ۲۰ د حمل ۱۳۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کامل مومند

د انګرېـزنامـراد تعـلیمه! پوه پښتون چې دې عاطل کړ
په غـربي تعـلیم لیـګي شـو خـو پښـتو ادې فاضـل کـړ
لـه نـرې رنځـه ممـنون یـم غټ مومند یې چې کامل کړ
لـوی کـرم ؤلـه اسـمانه چې پښتو تـه یـې مـائل کـړ

* * *

۲۸ د جوزا ۱۳۴۸

## تولنیز افغان

چـې وطـن ژبـه مـلت درځـه لاړ شـي
نـو بـه څـه شـي درتـه پـاتې شـي افغانـه
خـلک پـه ژبـه راټولېـږي پـه وطـن کـې
بیـا پـه دوی شـي د ملـت خونـه ودانـه

* * *

اقتصـاد کـبـه مـلیت کـبـه حکومـت دی
دغـه تـول دي تولـنیز تولـنه غـواړي
چـې تولـنه جـوړه نـه شـي سـمه نـه شـي
څـوک پـه څـه د نېکبخـتي راتلـنه غـواړي

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سعادت

پـه څـلور څيزه کـې سـعادت دی    عـلم، تقـوی کـار او خدمـت دی
حرص دې کم کړه خود خواهي پرېږده    کـار او عمـل کـړه څو دې طـاقت دی

## حاضر عصر

دا عصـر څـه دی؟ـ دمـليت دی!    فـرد نـن وتـلی لـه فـرديت دی
ايدیـال، حـزب پالیسـي غـواړي    تکميـل پـه دغـو دشخصـيت دی

## افغاني سياسيات

سياسـت چاتـه تـابع د ثقـافت دی    او څوک وايي چې نه مخکښې سياست دی
څـوک پـه غـم د اقتصـاد دي بې تمهیـده    څوک لا وايي چې دا بنه وخت د غـارت دی
افغانـان پـه يـوه خولـه يـو فکـر نـه دي    اجنبيانو تـه دا ښـه وخـت د فرصـت دی
اسد ۱۳۴۹

## حبيبي او پښتو

حبيبي پـه پښـتو ژبـه نـامور شـو    خو اخر لـه خپلـه کـاره لاس پـه سر شو
خدای زده کوم ظالم ستومانه په خپل کارکړ    د پښـتو قـلم يې کښېښـود مـرور شـو

## بختاني او پښتو

بختاني پـه کار د ژبې ښه پوهېږي    چې دا بد حـال د پښـتو گـوزي څورېږي
زړه يې غواړي چې راڅکه شي په ميدان کې    د اسـلافو حـال چـتې وگـوزي داريـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بېنوا پښتو

چې را یاده مې پښتو د بېنوا شي  سره ګلونه د بهار سترګو له راشي
د ادب په بې قدرۍ داسې خفه شم  خوږين زړګی مې په سلګو کې په ژړا شي

# دالفت شاعري

چې پيدا مو پښتو ژبه کې الفت شو  د پښتو ښکلا خوب مو حقيقت شو
چا نامراد کړو دخپل قوم په خدمت کې؟  چې شاعر رانه اخته په سياست شو

# سليمان لايق

لاندې ځمکه پاس اسمان دی  منځ کې پروت "د پښت" جهان دی
د پښتـــو لايـــقـــان ډېر دي  ښه زلـمـــی يـې ســـليـمـان دی
د افســـــوس ده دا خبـــره  پـــه پـــښتـــو نـامـهـربـان دی

# خادم څه دی؟

څه پوښتنه د خادم کوئ چې څه دی  په پنجره کې بندي شوی يو مرغه دی
د پښتو په کبيره ګناه کې ګير شو  څوک خبر نه شو چې څنګه دی او څه دی
۱۸ د دلوې ۱۳۴۸

## حبیبي او د پښتو تاریخ

ورک تاریخ د پښتو ژبې یې عیان کړ　　حبیبي په پښتو ژبه لوی احسان کړ
په دې کار ترهغه وخته څوربدلو　　چې په کړو خدمتو یې پښیمان کړ

## جهان وایي

راته وایي دا جهان دې ولې جوړ کړ؟
د پښتو ژبې کاروان دې ولې جوړ کړ؟
چې ویل موهم هغه به دې کولای
دې کاروان لره ښاروان دې ولې جوړ کړ؟

*　*　*

### پښتانه او د پښتو مخالفت

څوک ناپوه شو څوک محتاط او څوک بد بین شو
د پښتو بیاض چې سپین پاته وسپین شو
پښتانه د پښتو ژبې مخالف شول
سرنوشت د پښتو دغسې تعین شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو نتيجه

نــه پوهــاند نــه بــه رئيــس نــه بــه وزيــر شــي
هــر پښــتون چــې د پښــتو طــرفداري کــا
هــو، دا تــول تــري جوړېــداى شــي خــو شــرط دادى
چــې څرګــنده د پښــتو نــه بېــزاري کــا

۲۰ د لوی ۱۳۴۸

*   *   *

## زور د استعمار

زور د استعمار په پښتــو ژبـه دی    ځکه چې تول کار په پښتــو ژبه دی
هرڅه شــو ازاد او پښتو بنده شــوه    دومـره انحـصـار پـه پښتو ژبـه دی
داکاروان به ځي يا بـه ولاړوي تـل    ولـې؟ چې بـار پـه پښتو ژبـه دی
نـه شتـه ازادي بې لـه پښتـو څني    دغـه مو شـعـار پـه پښتـو ژبـه دی

وګـوره خـادمــه د ادي شـعر دی؟
او که سور انګار په پښتو ژبه دی

جلال اباد ۲۲ ددلوي ۱۳۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شاه محمود د زهرا زوی

شاه محمود مي په زړه داغ شو مړزمونږ د کور چراغ شو
یا په پلار او مور غمجن شوم یا په ده ډیر کړه من شوم
۱۳۴۸

## زما زړه

خوشالي تري کیده وکړه واړه درد شو
دا د شعر او د ادب وروستی ثمر دی
د قسام غم به په لعلونو بدل نکړم
ریښتیا دا ده چې اوس زړه زما دمرد شو

* * *

## د خلکو مینه

چې د بسل د غم په اوښکو تازه نه وي
داسې سترګې دې بینا مه وای ړندې وای
ناخبر چې د تودو اوښکو له خونډ وي
ددې خلکو خولې د مرګ په سوک کړې وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تکلیفونو دنیا

څــــــه پکــــــار ده دا دنیـــــا د تکـــــــلیفونو
د دردونـــــــــو مصـــــــائبو عذابونـــــــــو
نادانـــــان لاخوشــــالي ورپکښـــــې غـــــواړي
همدغــــــه زمونــــــږ ســـــبب دی د غمونــــــو

## د پښتو میناں

داســې څــوک دي چــې هــر څــه لــه پښــتو ځــار کــړي
محمدګــــل یــــا باچاخـــان یـــا صـــمدخان دی
بـــل یـــو کـــس کـــه لتـــوئ پـــه پښتـــنو کـــې
یــــو خـــادم دی چـــې ولاړ پـــه دې میـــدان دی

* * *

## سیاست او پښتو

د پښـــتو، نــه بــه لاس اخــلي چــې ســیاس شــې
سیاســـــت او پښـــتو ژبـــه متضـــــاد دي
شـــاعران او ماهـــران ورنـــه پـــه شاشـــول
دپرښاغـــلي پښـــتانه زمـــا پـــه یـــاد دي

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تور دېو

د تور دېو په لاس یې ورکړه پښتو ژبه
ورته وګورئ په څه د پاب کې ښوري
د پښتو په تالونه یې ځان غټ کړ
بېغیرته قام لا اوس هم ورته ګوري

*　*　*

## د حافظ نصرالله پښتو

د حافظ نصرالله خان شعر مې خوښ دی
لکه پاکه چې چینه غره کې بهېږي !
توتکی ده بې ازاره ښایستو کې
چې په ځانګه باندې ناسته ده وئېږي

*　*　*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سيلاب او پښتو

څومره ښه قريحه خداى وركړه سيلاب ته
څو قدمه يې هم واخستل په لاركې
رډې ستركې دښمنان د پښتو ژبې
چې يې وليدل سركومه شو په چاركې

* * *

## رسا او همېش

دٔ رسا په شاعرى او ليكوالى كې
چې مې وكتل هم ډار هم ابتكار شته
خو همېش د پښتو ژبې فدا كار دى
كه رشتيا چېرته پښتوته فدا كار شته

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پخواني جاه وحشم

چې غم لـه دې پيدا کړم نـو يې زغم هم رالـه راکړه
په تخت د جم خوناست يم جام جم هم رالـه راکړه
جهان تـول بتکده شـو خـو دا زه لابت شـکن يم
يوځل خـو بيا هغـه جاه وحشم هـم را لـه راکړه
رانده دې مريضـان دي تپـر پرې ورتـه ګـورم
چې کار د مسيح غـواړې نـو يې دم هم رالـه راکړه
هماغه يم چې وم کـه جهـان تـول پـريله واوړي
چې پوخ عهد و پيمـان شي يـو قسم هم رالـه راکړه
بـاغوان ددې خـزان وهـلې ځمکې چې دې زه کـړم
تاثير د پسرلي د صـبحدم هـم رالـه راکړه
چې غم د تـول وګـړي دې په زړه رالـه انبار کـړ
تفـوذ په دې جهـان د بابـادم هـم رالـه راکـړه
بې زاره مې زړګـی ددې جهـان لـه فلسفو دی
رښـا او تـوې لار سره همـدم هـم را لـه راکـړه
وزر دې رالـه راکـړه د آسـمان د الوتـلو
کفـران به وي کـه وايـم چې درم هم رالـه راکـړه
خـادم لکه مـلوک چې په دېوانـو کې دی ګيرکړم
لېکـر د ښاپېـريانو د ارم هـم رالـه راکـړه

* * *

جلال اباد ۱۵ د ثور ۱۳۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روښان به شم

یو ځل که پښتون شومه انسان به شم
خپله لار به بیرته کړم روان به شم
ګل په خپل هر بوټي کې ښایسته ایسي
نه مې شوکوه خو شي خزان به شم
خوله کې مې نغمه د ارمانو نسو ده
بنده دي که کړله په ارمان به شم
ستا رقیب خو جوړه مغولواله کړه
زه ورته مجبور یمه روښان به شم
څه چې د یار خوښه وي کوی یې شي
دا فکر دي نه کا چې پښیمان به شم
زه میر مامی نه یم د وطن په سر
مه رابانديې بلوسه ادم خان به شم
څو که تکوی مې زه فولاد یمه
نور څه که جوړ نه شومه سندان به شم
بې ست وصلا خواره پښتونه ده
ست که راته وکړې نو مهمان به شم
وګوره چې میینه مې له ویني ده
پس له پیژندلو در ته ګران به شمه شم
تیست کتلی نه شمه افغان یمه
پوخ په عقیده کې مسلمان یمه

کابل ۱۴ د سرطان ۱۳۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مذهب او قوم

مذاهب لکه سیلاب قوم دی ځمکه
که زما قوم "پښتون" لري فکر وکه
نېږدې راز ي د ځمکې بویه له سیلابه
نه چې ځمکه سیلاب یوسي له ما لکه

* * *

## شرع او لار

که مذهب دی که مسلک که طریقه ده
تعبیرات دي مختلف معنی یوه ده
د ژوندون دا ورکه لاره چې سرک شي
دغه لویه لار هم شرع هم جاده ده

* * *

## نیم سوسیالیست

ته یې وې چې ته خو هم نیم سوسیالیست یې
ساوي هر څه مې چې بولې خو افغان بې
بېل ویشل د خودفروشو فکر بویه
دویل زه هم و دغو ته حیران یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## استعمار او پښتون

استعمار هر قام ژوندی کړ پس له مرګه
خو پښتون کمبخت یې مړ کړ تر ابده
هیڅ شریان د قومي ژوند یې نه خوځېږي
په دې لاش پاندې اخته دي تېول په ګنده

* * *

## د پښتون تاریخ

اوس به په سوه شوم د پښتون تاریخ ورکېږي
ای پښتونه ستا په حال مې زړه خورېږي
دښمنانو درته خپل هم د ښمنان کړل
لا به څنګه په دې کار څوک نه پوهېږي

۵ د سرطان ۱۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ته یې وینې که نه ؟

دا چې نن کېږي څه کاني دي ته یې وینې که نه؟
ملي تخریب ته بهانې دي ته یې وینې که نه ؟
له هرې خوانه استعمار مونږ کې لاستونه وهي
ورسره بېلې ترانې دي ته یې وینې که نه؟
مونږ ته هر چا دامونه ایښي د مرغانو په څېر
پې اچولي یې دانې دي ته یې وینې که نه؟
د ایشیا د منځ په څو شپږو ملیونه افغان
د ظلم څومره زمانې دي ته یې وینې که نه
بې ادبي ده د ادب چېرې محفل نشسته دي
وطن کې څو پاګل خانې دي ته یې وینې که نه؟
د وطن مینه مې ګناه ده څوربدلې یمه
ښکېپاره یې واړه تښتانې دي ته یې وینې که نه
کارغه ګونګې په ازادۍ ګرځي سیلونه کوي
په خوله یې څومره افسانې دي ته یې وینې که نه؟
قمري له ظلمه د صیاد نه په نغمو کې ژړل
ویل یې دا څه زمانې دي ته یې وینې که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل وطن کې خوارو زار چې ګدا يې کوي تل
د بل په لاس کې خزانې دي ته يې وينې که نه ؟
د خلکو وينې څښي ليوان دي انسانان خونه دي
چې يې په لاس کې پيمانې دي ته يې وينې که نه ؟
دا په مونږ څه وشول دا چاوکړل د څه دپاره
ښارونه دي ويرانې دي ته يې وينې که نه ؟
مملکت وران شو اجتماع ته خدمت دغسې وي
دا خوشې خوشې بهانې دي ته يې وينې که نه؟
که څوك خدمت کوي دنيا کې مشالونه شته دي
خادمه دغه څه کانې دي ته يې وينې که نه؟

۱۰ د قوس ۱۳۵۶

يادګېرنه ـ د داود خان د جمهوريت کانې پکښې يادې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو دلته او هلته

روغه پښتو ماته شوه دلته هم او هلته هم
خونه مو ميراته شوه دلته هم او هلته هم
چېرته چې پښتو نه وي څه به ترې اميد کوو
دا ارزو مو پاته شوه دلته هم او هلته هم
دلته مو پارسي وهي هلته مو هنکو وهي
ژبه مو وفاته شوه دلته هم او هلته هم
ګرڅو حکومت پسې درومو په دولت پسې
نن چار مو صباته شوه دلته هم او هلته هم
زورپه ثقافت کې دی نه چې حکومت کې دی
لاره مو بل خواته شوه دلته هم او هلته هم
وايي پښتو شاړه ده دا ژبه ويجاړه ده
دا ملنډه زياته شوه دلته هم او هلته هم
خوان کول مو غويمي کوی زوړ راکې پلمې کوي
هيله مو ملاته شوه دلته هم او هلته هم
شرم رانه لاړلو مړشولو غيرت زمونږ
مخه ناروا ته شوه دلته هم او هلته هم
مړ محمد ګل خان شولو زوړ فخر افغان شولو
مخکښې پښتو شاته شوه دلته هم او هلته هم

کابل ۱۵ د جوزا ـ ۱۳۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ځان عیبونه

خو تا راته ویل چې د پښتو شعرونه لیکه
خبرې د بدرۍ او د ملوک خوبونه لیکه
د ګل او د نسیم او د آسمان د ښکلیو ستورو
ضمیر راته ویل چې د ژوندون رازونه لیکه
په مخکښې مې پښتون وژ خورېدلی ترهېدلی
پښتو راته ویل چې د پښتون غمونه لیکه
درخو د خپل وطن چې ګیره شوې مې لیدله
قلم راته ویل زما په خوله اورونه لیکه
په شوندو دې خه نه وو خو د سترګو اشارو دې
ویل چې لیکه لیکه دا د ځان عیبونه لیکه

۱۳۵۲/۴/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمهوریت تاسیس

جمهوریـــــــــــــت ؤ آرزو د خـــــــــــلکو
مـــــــــلي نهضـــــــــت ؤ آرزو د خـــــــلکو
ســــيال چــــي افغــــان کــــا د نــــور قومونــــو
داســــــي دولـــــــــت ؤ آرزو د خـــــــلکو

* * *

۲۶ د سرطان ۱۳۵۲

یادګېرنه ـ دا او ترډې وروسته اشعار د داؤد خان د جمهوریت په وخت کې لیکل شوي دي ـ فکر دې وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولي محمد خان مخلص په ياد

شاعره ستا ښکلی صورت مې شو یاد ستا د مزې ښایسته صحبت مې شو یاد
د کندهار د سیمې ستوری وې ته په خوارو خلکو باندې سیوری وې ته
رښتیا زهیروې په ملت باندې مښین د خلکو په خدمت باندې
څومره ازاد وې ستا فطرت شاعره مولا درکړې وه قدرت شاعره
طمعه او ډار دې طبیعت کې نه وه سازشي کار دې په فطرت کې نه وه
وې ائینه د پښتنې تولنې تل به دې کړې د ارتقا څېړنې
کله ولاړ به محافلو کې وې مصروف د خلکو په روزلو کې وې
کله به ګړ په کار بارکې شوې کله ورګډ به په دربارکې شوې
حرص دې وژلی وه ازاد شاعره څکه دخلکو یې په یاد شاعره!
هر څه دې کړل خو دملت په مینه نه دپیسې نه د دولت په مینه
په زړه مې ګرځي ستا خوږې خبرې له میني ډکې د مزې خبرې
ځان به دې وور که د کوچنیانو سره دروند لکه غروې د لویانو سره
ډېره د جمعې د یارانو وې ته تندر په سر د مغرضانو وې ته
ستاپه ښکنځاوکې حکمت پوښلی وه تولو خلکو ته عبرت پوښلی
وې د مومنداو د داؤدملګری د قام د ګټې او د سود ملګری
راته یادېږي ستاروان شعرونه د محافلو قهرمان شعرونه
بالفعله شعر په محفل کې ویل لوړ مطالب نظم و غزل کې ویل
وه ستا د طبعې لوړمثال شاعره چې پکښې زور وه هم جمال شاعره
دخدای رحمت ستاپه مدفن دې وي ستا په اروا لا په کفن دې وي

واخله سلام دې د خادم مخلصه!
نوم دې ژوندي اوسه دائم مخلصه!

کابل = ۱۴ د اسد ۱۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امیر حمزه شینواری

چې مین په پښتو ژبه او مسلک دی
چې رشتیا په پښتنواله باندې کلک دی
د خیبر د ادب پلار امیر حمزه دی
چې یې هر تالیف ددې لارې محک دی

* * *

## محمد عمر سیماب

په سیماب محمدعمر مې زړه زهیردی    د خوږې ژبې شاعر مرض کې ګیردی
قومیت عالي احساس دپښتنوالې    دا شعری نغمه اواز یې د ضمیر دی

## مراد شینواری

ښایسته ګلونه واشول په خیبر کې    کاشکې داسې ګلان شنه شوای په شبېر کې
د مراد د تاترې شعر به ستا یې    دقیقې که بیا ژوندی شي په باختر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

صلحه عدالت او که جنګرېز بنه دی مـــرګ تـــــه... او چـــنګېز بنـــه دی
زيات د پښتونخوا په دښمنۍ کې څوک مخکښـې دی...او کـه انګرېـز بنـه دی
شـــاړو وچو څمکـــو د افغـــان لـــره بـند د اباسيند او کـه کارېـز بنه دی
څه به دې په مات زړه غبرګ کې ونيسم ماتــه دې خــندا او يــو مکېــز بنـــه دی
يـو خـو بـه پـه سلوکـې سـر ووهـي هـر مـلي شـاعر لـه تخمرېـز بنــه دی
څه چې ديوانو نه سړی ډک کې پري يـو شـعر بنايســته او د لاوېـز بنــه دی
سـرچې دسـهاک اودزردشت نـه وي ډک لـه هيـندوانو څخـه پالېـز بنـه دی

ما چې د اغيار په کور کې وليدل
دې غريـب خـادم لره دملېزبنه دی

جلال اباد = ۳۰ د عقرب ۱۳۵۳

## غزل

ووايـــه څـــه نـــوي دې راوړي دي مـه وايـه چـې دا او دامـې کـړي دي
وينم د ليـډر او د واکـوال پـه لاس تـول د اسـتعمار د عصـر پـړي دي
وخت دسرېتوب او ابتکاردی اوس بـــندو، کــه ډکی وي اوبــو وړي دي
نه شته دی فولاد د پښتون سيمه کې څه چې دي چوون او وسپنځري دي
بيـا يـې غولـوه دا بـې همته قـام دا کـاتې زرګونــه خـلکو کـړي دي
ووېـل شـو وخـوړل شـو وځيـــل دا چـــې افغانــان دي واړه مــړي دي
مـا تـه نـن خـادم ووېـل دغـه دي دغــه چـې کـرم يـې نـوي زړي دي

اول د قوس ۱۳۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مات قلم

قلم مات و، توره نه وه غیرت غلی وُ په کنج کې
نه ملت نه جامعه وه یو کالبوت وبې له ساه نه
نه تهذیب نه تمدن وُ نه تاریخ نه ثقافت وُ
غارت شوي وه دا خاوره د مادي هم له معنانه
ساه ختلی تر هډلي سترولس د پښتنو وُ
نه خبر وُ له خپلې ځانه نه له حاله د جهانه
وږي تږي لوڅ لپړ وو راګیرشوی په لوی جال کې
بې له څوره بې له جبره نور څه نه و له بلانه
سره لیوان وو راتوی شوي پررمه چې شپون یې نه وُ
ماتیدل په پته خوله به بې له آه و له فغانه
نه تعلیم نه تربیه وه نه هدف نه مفکوره وه
دا د هیچا خاوره نه وه د هرچا وه له بل خوا نه
له لعلونو جواهرونه دا ډک وطن خراب وُ
خرابي وه له هر خوانه هر سړي وُ پریشانه
مرضونه نفاقونه دښمنۍ اختلافونه
په دې ځمکه راڅپاره وولکه وربخې له اسمانه
پوره دوه سوه کالونه بل په دې ځمکه سور اور وُ
په هغه ورځ چې شوه پاته له میرویس او احمد شاه نه
احمد شاه په پاني پت کې استعمار ته ماتې ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونمسو یې په درې واره کړو بهر له پښتونخوانه
چې په مخامخ جدل کې استعمار کامیابه نه شو
جوړ شو داسې دسیسوته چې ګوزار و کاله شانه
هیڅوک پوه په مونږه نه دي پرهغه دی چې ناکام شي
مونږه ولتې خبر نه وو د خپل عصر له رجحانه
فلسفې د نشنلزم سره جنګ کله کېدې شو
په شاهي مطلق رژیم چې رنګیدی شي په اسانه
که افغان غوارې چې سیال شي د سیالانو په قطار کې
په ښه شان دې خان خبر کا له فکرونو د دنیانه
په ملي خمود کې نه شي حل د ژوند پرابلمونه
دا دنیا د انقلاب ده انقلاب باندې ودانه
یو ملي انقلاب بویه چې محکم په ملیت وي
او په ګټه د ملت وي تیره کنبېږدي ابتدانه
که سانچه په افغانزم کې سوشل دیموکراسي شي
ای خادمه مشکلات به راته واره شي اسانه
ملتونه نهضتونه همېشه لیډران غواړي
خو چې مړ قام راژوندې کا مسیحا دزمان غواړي

* * *

کابل ۲۵ د اسد ۱۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیسو غلام

ابرو دې خرڅه کړه ایمان هم د پیسو دپاره
قام دې رسوا کړلو او ځان هم د پیسو د پاره
مونږ نه پوهېږو چې دا دومره پیسه څه کوي ته
وجدان دې وقف کړو جودان هم د پیسو دپاره
تا د پیسو دپاره څه وو چې دې ونه کړل؟
هېواد دې پرېښودو افغان هم د پیسو دپاره
ته نه پوهېږې چې دوره د پیسو ختمه شوله
ځمکه بدبینه ده آسمان هم د پیسو دپاره
که مسلمان وای خو حلال کسب منصب یه ؤ ستا
تا خولا خرڅ کړلو قران هم د پیسو دپاره
پیشه د ژوند ده وسیله تاخو ژوندون ګڼلی!
په عصرینې ږدې په زمان هم دپیسودپاره
خلک پیسې په خپل مسلک او په مذهب لګوي
ستا ؤ شعار د مسلمان هم د پیسو دپاره
دښمن چې راوړلې پیسې بې ایمانانو لره
تاورته ځان کړوبې ایمان هم دپیسودپاره
چور او چپاو غلاخیانت چې تا کولو دلې
هېردې ؤ حکم دوجدان هم دپیسودپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ د حساب او د کتاب ده پیسه څومره لږې؟
څه راته راکړه امتحان هم د پیسو د پاره

مولادې روند کړه دا وطن مستعمره خونه وه
چې تا ګټلی و د ځان هم د پیسو دپاره

ای پیسه داره سرېتوب دې په پیسه کړو بدل
یقین دې خوشې وګومان هم د پیسو دپاره

د پیسه داروحکومت کې سرېتوب چرې وي
فضل ودانش خرڅ شي ارزان هم دپیسودپاره

په دې غریب وطن کې داپیسې له کومه کړې تا!
راوړه دلیل او څه برهان هم دپیسو دپاره

تـا چې دا لوی اولس دښمن ته په پیسـو ورکـوو
وخت دی چې سردې کړې قربان هم د پیسو دپاره

* * * * *

جلال اباد ـ اول د میزان ۱۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هاتفي آواز

هاتف راته بېګا د ازادۍ په باب کې ووې
بېواکه يو انسان چرې ازاد نه شي کېدلای
بېرغ د استقلال د ډېرو خلکو په سر ربسي
خو نن د ازادۍ دغه مراد نه شي کېدلای
يو قام چې ازاد پرې ازادۍ باندې ژوندون کا
دا کار بې له مېړانې او جهاد نه شي کېدلای
جهاد د ازادۍ ته لاربنوونکی مېړه بويه
بې سره د افرادو اتحاد نه شي کېدلای
د قام دلاس او پښو نه زولنې چې ماتې نه شي
بل شی په داسې حال بې له فرياد نه شي کېدلای
اسير چې د يو قام وي ثقافت د بل په لاس کې
هېڅکله په ملي بنه ازاد نه شي کېدلای
دولت چې د ملت په ثقافت بناندې محکم شي
د عصر له صدمو څخه برباد نه شي کېدلای
وحدت چې په ملت کې د عمل او فکر نه وي
کامل يې په هېڅ قسم اقتصاد نه شي کېدلای
ملت او حکومت چې په دولت کښې سره يو کا
نور څه بې له تاريخ ورته بنياد نه شي کېدلای
په رنګ د مليت کې خپل پردي سره يو رنګ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفریق یې بیا د رنګ او د نژاد نه شي کېدلای
تاریخ او ثقافت او روایات بېخ د وحدت دي
دا کار په چال او زور او په تضاد نه شي کېدلای
یو قام چې لاس و بل ته د ورورۍ دپاره نیسي
همدا ورلره بس ده چې ازاد نه شي کېدلای
بې علم او بې له فنه ددې عصر چاره نه شي
د بل په رنګ کې مونږ ته استادنه شي کېدلای
سوشل د یموکراسي که افغانزم سره ملېه شي
بیاهیڅ په دغه فکر انتقاد نه شي کېدلای
د ځان له پېژاندونه پس جهان پېژانده بویه
په تش خالي تقلید کار د هېواد نه شي کېدلای
که څوک د زړه په مینه طلبګار د حقیقت وي
رشتیا چې له دې زیات ملي ارشاد نه شي کېدلای
هیڅ لویه بدبختي به له دې زیاته بله نه وي
په طرحه د خادم که اعتماد نه شي کېدلای

* * *

میزان ۱۳۵۲

نوټ: دا یو مخکېنی نظم دی چې ترمیم پکښې شوی دی.

* * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغاني جمهوریت

(۱)

ای جمهوریته سلامونه دي — تا ته د ملت احترامونه دي
لوړ دې وي بیرغ ستا دافغان په سر — تاج د افتخاره د انسان په سر
تا دنیا اوچته کړه اسمان لره — خپل حقونه وبخښه افغان لره
تادنیاکې ختمه غلامي کړله — ور که له انسانه دې خامي کړله
سم دې کړو ناداره د بادار سره — ودې نمانځه دی په افتخار سره
لارد ارتقا دې ورته سمه کړه — خوا دې د هر چا تړوله راجمه کړه
بیرته لاردفضل واستعدادشوله — ور که زورگویي په عدل و داد شوله
کله چې ازاد فضل وکمال شولو — زر د انسانانو یېدل خال شولو
هر سړي په خپل شخصیت برشولو — لوړ په دې نړیه کې هنر ورشولو
تا دیموکراسي کړه د قانون سره — یو ځای په دنیا کې د ژوندون سره
مات چې دې زنځیرد استبداد کړلو — خلاص دې بنیادم له استعباد کړلو
هر شي کې ازادتفکرات وشو — زراختراعات او ایجادات وشو
ته وې چې کړه دنیا دې سمه کړه — خلاصه دې دنیاله لویه غمه کړه

ای جمهوریته سلامونه دي
تا ته زموږ خاص احترامونه دي

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲)

تـه جمهوريـتـه څـه مهمـان نـه يـې    نـوی نـا اشـنا خـو پـه افغـان نـه يـې
لاره کـسـې اغـزي وولاره بـنده وه    ځکـه د ژونـدون مـزه بېخوندـه وه
تـه پـه افغـاني دنـيا کـې لوی شولې    بـنـه خـبر زمونـږ پـه خوی وبوی شولې
بـسـپنې جـرګـې د افغـاني نـړۍ    دا وې نبنـسـانې د جـمهـوري نـړۍ
ټول کارونـه مونـږه پـه جرګو کـړي    نـه مـو پـه پيسـو او د سيسـو کـړي
وبنيسـه زمونـږ سـرمايه دار، نـه و    هېڅوک پـه هيڅ وخت کې مو بادار نه ؤ
نـه مونـږه پـه خـلکو بـاداري کـړې    وګوره مونـږ څومره هوښياري کـړې
مـلک د ازادۍ او حـريت ؤ دا    تـل ودان پـه کـار او پـه زحمت ؤ دا
دکې مـو حجرې پـه ميلمنو وې تـل    سـختې وظـيفې دکوربـنووې تـل
سيمه وه مصـونه د افغـان ولـس    نـه پکښې اجبار ؤ پـه دهقان ولس
بـرخه د هـر چاپکښې معلومه وه    هـم د بېغيـرت بـرخـه معدومـه وه
دلته وه سـيالي پـه ښـو کـارونوکې    داسـې وېښـتون پـه محفـلونوکې
وروسـته بيـا لـه مونږه مرور شولې    شکر چې بيا راغلې معتبر شولې

ای جمهور يته سلامونه دي
تا ته د افغان احترامونه دي

* * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳)

راشه ته اوس زمونږه چارې سمې کړه
روغې را تـه نن واړه بـرهمې کـړه
مخکينۍ معارف کړه- د افغان په لار
بيا ورسره سم د مسلمان په لار
تول علم وتنويرکړه د وطن په خوا
ته دې وې هېڅ شي دمبرخمن په خوا
بې علمه وطن خو څه وطن نه وي
بې ګلوګلشن خو څه ګلشن نه وي
علم چې وطن لره وي ينار وي
هنر پوهاند چې غير لره وي مار وي!
مونږ په دې وطن کې رښا يې غواړو
نن د علم وفن اکاډيمي غواړو
هرقام تـه هيواد مولا ورکړی دی
دا جنت يې مونږ تـه پېرزوکړی دی
امرکړه چې مونږه وطنخوا اوسو
ګرد سره زامن د پښتونخوا اوسو
څوک چې بلـه لاره باندې يون کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دې وبښي به د پښتون کوي
بې سمې پوهنې ملیت نه وي
بې له ملیت ځنې ملت نه وي
ژوند د هر ملت دې په کولتور سره
غوندوارې ولس دې په دستور سره
نه شته اقتصاد بې له کولتور ځنې
نه شته دی کولتور بې له دستور ځنې
ژوند دی په کولتور او اقتصاد ولاړ
هر ملي نهضت وي په بنیاد ولاړ
ای جمهوریته راشه سم موکړه
سیال بیا د سیالانو د عالم موکړه
مونږ د نیا کې ژوند په اطمینان غواړو
ځان غواړو افغان غواړو جهان غواړو
ای جمهوریته دې سلام زمونږ
ستا ملي بیرغ ته احترام زمونږ

کابل ۳۰ د جوزا ۱۳۵۳

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغاني وطن

ښکلی دی او ښر دی افغاني وطن هر ځای نه بهتر دی افغاني وطن
ډک دی د لعلونو جواهرونه څه وښوه که غر دی افغاني وطن
بام د دې دنیا ده د پامیر څوکه تل (په مېښ) او نمر دی افغاني وطن
لوړ غرونه سیندونه ځنګلونه دي لمنځې او ښیتر دی افغاني وطن
شګې د سیندو یې له طلا ډکې خاوره شګه زر دی افغاني وطن
وګوره انسان که ښاپېری دی دا حسن جلوه ګر دی افغاني وطن
مور د تمدن پلار د قومونو دی اریس تبر دی افغاني وطن
ځای د سپېڅلیتوب او د اخلاقو دی کور د زر تشتر دی افغاني وطن
تیره د ګیډ ژوند پکښې ملي کښېښوه غالی د دفتر دی افغاني وطن
مړه ډېوه د کور روښان را بله کړه رڼ او منور دی افغاني وطن

ځپل جلا تهذیب او تمدن لري
نوروته رهبر دی افغاني وطن

ګرچې اوس له ښتونه رالوېدلی دی کلک لکه سنګر دی افغاني وطن
ملا د استعمار وریاندې ماته شوه سخره، تېره غر دی افغاني وطن
سر تېټېول دلته نپوهېږي څوک حر او زړور دی افغاني وطن
دلته شرافت او غیرت وزېږېد ډک له دې هنر دی افغاني وطن
دا اتحاد کله چې ماتېدلی شي نو قام او ټبر دی افغاني وطن
ساکه دی که کاسې دی د داد یک سره دغه یې مقبر دی افغاني وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورد که بلوڅان که داردیان دي څوک ——— څانګې دي شجر دی افغاني وطن
ګوريځ هزاره څان ته غوري وايي ——— خلاص د بل له شر دی افغاني وطن
پارت، يوچي تخار تول سره ورنه دي ——— ستوري دي قمر دی افغاني وطن
پښت د تولو سته نوري څانګې دي ——— څومره مستقر دی افغاني وطن
سيند د اباسيند يې بېلوی نه شي ——— پروت تري لرو بر دی افغاني وطن
د بري پلمې جوړې شوې جوړېږي لا ——— تولو لره سپر دی افغاني وطن
قام وطن دې وپېژنه څوانه ته ——— مور دې ده پدر دی افغاني وطن
فکر د تحرير او د تقرير سره ——— وروزه مضطر دی افغاني وطن
تول جهان آزاد شولو اباد شولو ——— نن ولې ابتر دی افغاني وطن

څئ چې خپل حساب له سره ونيسو
فکر او عمل دواړه غوره ونيسو

*　　*　　*　　*　　*

۱۵ د قوس ۱۳۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو قلم خو را له پرېږده که

هـر څـه دې ستا وي يو قلم خورالـه پـرېږده کـنه
چـې سـردې لورکـړم يو عـلم خورالـه پـرېږده کـنه
مـادا د شـعر دنيـا واخيسـته معـنى پسـې شـوم
دا د معـنى د مـلک رقـم خورالـه پـرېږده کـنه
سـر پـه آسـمان يـم د تـاريخ د عظمـتونو پـه يـاد
دا د تـاريخ جـاه وحشـم خورالـه پـرېږده کـنه
که څوک سپين غر شي تيتولى نو افغان به کې تيت
دامـې قسـم دى دا قسـم خـو رالـه پـرېږده کـنه
شـپه ده تورتـم دى زه پـه څـه دې هـدف پـه لـورى
کـه څـه انصـاف وي نـو تورتـم خورالـه پـرېږده کـنه
ارمـان مې دا دى چې يو پل په لار کې واخلمه زه
پـه دغـه لار کـې يـو قـدم خـو رالـه پـرېږده کـنه
تپـي تپـي توتـې توتـې يـم د ظـالم لـه لاسـه
زمـا طبيبـه څـه مـلهم خـو رالـه پـرېږده کـنه
د مينې غم تـه دې څوک غم نه وايي غم خو نه دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبن په دې غم يم نو دا غم خوراله پرېږده کنه
افغان د علم او د قلم په زور وهلي خلکو
دا د تاريخ علم و قلم خوراله پرېږده کنه
کوشسي، تخار، يفتلي ساک دي سهاک وپېژنئ
چې دربنکاره کړم جام د جم خوراله پرېږده کنه
د چين او هند او له رومانه افغان کم خونه وؤ
څنګه راکم شو کيف او کم خوراله پرېږده کنه
له هغوتېرو عظمتونو يو ماتم لرمه
وايي خادم دغه ماتم خوراله پرېږده کنه

جلال اباد – خادم مېنه – حمل ۱۳۵۴

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتيانا ادې

زمـا ادې پښتـيانـا ادې!
زمـا د مـور او د بابـا ادې !

چې تـه ژوندۍ يې زه ژونـدی بـه يمـه ستا په خدمت کې ګرنـدې بـه يمه
ژونـد مـې مـرهـونه دی لـه تـا ادې زمـا ادې پښتيانا ادې
کـه څـه غيـرت او سـاهوتوب لـرمـه او کـه څـه بـرم او ښاغلتوب لـرمه
دا زمـا نـه دی دا دی سـتا ادې زمـا ادې پښتيانا ادې
ما ستا پـه غيږ کې سرېتوب زده کړی درس دمېړانی او نرتوب زده کړی
تـرې وابـه نـورم پـه بـل خـوا ادې زمـا ادې ای پښتيا نا ادې
ادې مـا کلـه د چـا حـق خـوړلـی ووایـه کلـه مـې نـاحق خوړلـې
خو بـل دې هـم نـه خوري زمـا ادې زمـا ادې پښتيانا ادې
ای د غيـرت او نهضـتونو ادې د اريـن د ټـول قومونـو ادې
زه دې بـچـی يـم تـولـه وفـا ادې زمـا ادې پښتيانا ادې !
زه دې پـه ژبـه پـه کولتوريم مـئين ستا پـه ښـه خوی او پـه دستوريم مـئين
ستاشـرافت دی پـه رشـتيا ادې زمـا ادې پښتيانا ادې
دا جمهـوري قبـا دې نـوې اوسـه دا د زرېښت ښکـلا دې نـوې اوسـه
تـازه دې وه د مـخ ځـلا ادې زمـا ادې پښتيانا ادې !

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستايمه

يو خل راته ووايه چې ستا يمه
زه دې په دې تمه باندې پايمه

دا دنيا لـه ميـنې جـوړه شـوې ده   دا خوږوزه نـه يـم چـې دا وايمـه
مينـه خوګـناه نـده چـې پټـه شـي   وايـم چـې ميـن يـم او پـه تايمـه
زړه کې مې يو عشق د وطن ځاى شولو   تـا هـم د وطـن پـه مينه ستايمه
تـه د پښتونخوا د جـنت حـوره يې   زه يـو فداکـار د پښتونخوا يمـه
اى خادمـه ستا دا پاکه مينه مې ـ   خوښه شوه ـ داستايمه او ستا يمه

۲۸ دقوس ۱۳۵۳



(c) ketabton.com: The Digital Library



# کاشکې توتکۍ او یا بلبله وای

(۱)

کاشکې توتکۍ او یا بلبله وای
هیڅ خبر له ځان او نه له بله وای

سیل به مې کولای په بېدیاؤ کې — تل به ګرځېدلای په فضاؤ کې
کله به دهقان سره مشغوله وای — ناسته به په ځانګه یا په پوله وای
یا به د شپانه او د غوبه سره — یو ځای ګرځېدلای په مېږه سره
چېرته د بهار په تازګیو کې — مال چې څرېدلای په پټیو کې
یا ګلې رمې وای په راغونو کې — یا د سیند په غاړه یا په غرونو کې
ما به یې په شا باندې سپارلې کړلای — تل به مې سیلونه خوشحالي کړلای
یا د تلیفون په تار به ناسته وای — هو د بنونغمو په کار به راسته وای
زه به سیلانی تل د خیبر ومه — ژمی به مې لړاوړی به بر ومه
دلته چې بچې به لویولای مې — بیا به د پنجاب په لوري وړلای مې
سیل به ؤ نغمې به وې مزې به وای — ژوند به ؤ او خوند به ؤ چرچې به وای

کاشکې توتکۍ او یا بلبله وای
هیڅ خبر له ځان او نه له بله وای

(c) ketabton.com: The Digital Library





(۲)

کله چې تیپوس چرې لیدلای مې · یا د قام دوښ چېرې لیدلای مې
سخت به په تونګو سره وهلوما · کلک به په حملو سره شړلو ما
تل به په دفاع کې د چرګوړووم · هم به په مخالفه د سرخوړووم
دروند به په نظر کې د مرغانو وم · سیال به په جرګه کې د سیلانو وم
باز او که شاهین او که باښه به وه · هریوته په زړه کې اندېښنه به وه
ما ته په ادب او په سلام به وؤ · تل په درناوي او احترام به وؤ
هر مارغه به ناز او نخرې وړای زما · ډېر لحاظ او پاس به هر یو کړای زما
ما ته زور اور به زور ورنه وؤ · هېر به له هېچا زما سحر نه وؤ
قسدز د نغمو د سباوون زما · هر یو به کولای په ژوندون زما
دروند چې په ملت وای په هرچا به وم · هم د انسانانو په نګاه به وم

کاشکې توتکی او یا بلبله وای
هېڅ خبر له ځان او نه له بله وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۳)

داغ مې په زړګي ساز د بلبلو دی      ژوند د بلبلانو د ستايلو دی
لورې ونې ګورې په باغونو کې      جګ سرونه نيسي چينارونو کې
دلته تراني خپلې اغازي کا      غوږ لره موښکلې مانۍ سازي کا
هرڅوک په خواږه خوب کې ويده وي تول      بېله بلبلانو نه پراته وي تول
شين سهار تنکی بهار نغمې خوږې      شومه د صبا کې ترانې خوږې
روح لره تالې وي د سکون پکښې      خمر وي، مستي وي، د جنون پکښې
څومره حرارت څومره جرات لري      دا وړه مرغۍ څومره قوت لري
څومره نرۍ ژبه وړه خوله لري      پټ تتېر کې پو بحری زړه لري
ګرمه هنګامه وي د بهار له دې      ښکلې لوړې څوکې د چنار له دې
توره ده خوښکلې ده مرغانو کې      ډېره نازولې ده مرغانو کې

کاشکې توتکۍ او يا بلبله وای
هېڅ خبر له ځان او نه له بله وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴)

دا ده توتکــی راغلــه بهــار شــولو   بیــا د پســرلي د ګـلو وارشـولو !
راغلــه اباســیند بــاندې راتېــره شــوه   یخــه ده څېلــه خــو رانه هېره شوه !
زیــــری د بهـــــار د تـــــازګیو دی   وخـ ، د ایبنودلـو دنیـا لګېـو دی
ښکـلې توتکــی هـر کلـه راشــې تــه   کاشـکې د زړه درد لـره دوا شـې تــه
ښېــې د وفــا درکــې محکمــې دي   دا پــه انســانانو کــې لاکمــې دي
څپلــه جالکــی دریــاندې ګــرانه ده   تیــنګه غریــزه دې لــه انســانه ده
راشــه څپلــه جالــه کــې بچــې وکــه   ورانــه جالـه جوړه کـه خوارې وکه
ستـا ښکـلې سـندرې خونـدورې دي   شـات دي، چوهـارې دي یاشکرې دي
ستاسو د جوړې ژوند څومره ښکلی دی   مونـږ تـه د تقلید او د ستـائیلو دی
شـور مخـالفت او جـنګ مـو یـا دنـه دی   خوشې چټې کار د ننګ مویادنه دی

کاشکې توتکی او یا بلبله وای !
هېڅ خبر له ځان او نه له بله وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۵)

وګورئ مرغۍ څومره هوښیارې دي　　څومره مهذبې فدا کارې دي
ځالې ته پردي ورته راتلی نه شي　　نر او ښځه بل یو سره تلی نه شي
کوز کې توتکۍ باغ کې بلبله ده　　هلته په دېره کې یوه بله ده
ټولې ترانې وایې نغمې کوي　　ځارکا په خوارانو او پېرې کوي
ټولې ثناخوانې پرهېزګارې دي　　وار‌ه د ظالم مخکښې تیارې دي
کله په یاښه باندې راپنډې شي　　کله دګونګې په مخکښې وندې شي
نه پربېږدي ظالم د ظلم کار لره　　نه کوم ازاري د چا ازار لره
وګورئ تقوی یې سیاسي نده　　نغوته د فطرت ده لباسي نه ده
شعر او شاعري نده تعلیم کوي　　ټول قوي مرغان ورته تعظیم کوي
وګورئ ملت یې له قومونو دی　　ځای د تامل او د فکرونو دی

کاشکې توتکۍ او یا بلبله وای
هیڅ خبر له ځان او نه له بله وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۶)

هیڅ به خبر نه وای چې دنیا څه ده　　قام،وطن،ذلت او ارتقا څه ده
نه به وای سرګومه په کلیاتو کې　　تل به وای سرګرمه په جزیاتو کې
زړه به مې خوړین نه وُ ګړېدای به نه　　پټ پټ به خپل زړه کې ژړېدای به نه
رنځ به د اعصابو راته پېښ نه وُ　　غم به مې د زړه په سر کې هیڅ نه وُ
نه به د حُسادو دام کې ګیرومه　　نه به په خپل فکر کې اسیر ومه
نه به وای د علم او د کتاب پسې　　ټول عمر اخته د اکتساب پسې
نه به مې زیار داسې بې ثمره وای　　خلاص به د علم او ادب له شره وای
فکر د خدمت به خوږولای نه　　غم به د لوېدلي قام خوږلای نه
نه به مې انبار د قلم پاتې وای!　　نه به مې خواري داسې میراتې وای
نه به وای راګیر په شاګردانو زه　　نه به هم سنګسار په مریدانو زه

کاشکې توتکی او یا بلبله وای
هیڅ خبر له ځان او نه له بله وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۷)

ای توتکی ما څوک ازار کړی دی ؟ دکی مې دچا لــه جـالې وریـدی
ای بلبلې زه هم نغمه خوان یمه تا غونـدې د سپین سحراڼان یمه
زه هم په ملت باندې مفتون یمه پاک یمه سپېڅلی یم پښتون یمه
دارد حق په کارکې پېژندی نه شم گوري د کارغانو صف کې تلی نه شم
جاله کې زما هم ذخیره نه شته بل چاته بې حقه مې اسره نه شته
ولې بې اثره دي نغمې زما ؟ څلـه ناخبره دي کوڅې زما ؟
جار دې شم څه عیب خو راته ووایه څه بنکاره او غیب خو راته ووایه
تاسو بې تغموته نور څه کړي دي؟ ولې مې خښلې اوبو وړي دي؟
ولې قام خبر نه شو په غم زما؟ ولې ملت نه شولو همدم زما ؟
زه قسم په سترگه د سحر خورمه نه به یم انسان که غم د زړ خورمه

کاشکې توتکی او یا بلبله وای
هیڅ خبر له ځان او نه له بله وای

۱۵ د حمل ۱۳۵۵

جلال اباد – خادم مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتنو تاریخ

چې مې وکتو تاریخ واړه غلط وُ　　خپل پردي ورباندې کړی تجارت وُ
د پښتون د مفاخرو لوی تاریخ ټول　　اړولی مسخ کړی سیاست وُ
ډېر افسوس مې په ځان راغی او په قام خپل　　چې د علم په نوم شوی پرې غارت وُ
مونږ لوستل به مورخ دې بې طرف وي　　مگر داتی کی په خپله سیاست وُ
د افغان په تاریخ هسې لوبې شوي　　چې د علم و نسرې ته خیانت وُ
دا انجیره به هم وسپړي په فکر　　د خادم په نوم لیکلی دا خدمت وُ
په دې باب مې هم څلور کتابه ښکل کړل　　ډېر افسوس دی چې د چاپ یې هیڅ فرصت وُ
پښتني تاریخ پوهنه یې اول دی　　چې پوهانو ورته کړی ډېر حیرت وُ
بیا لرغوني پښتانه قومونه گوره　　مستند په روایت او درایت وُ
له دې پسه بیا علمي پښتنولي ده　　هر یو باب یې انکشاف د حقیقت وُ
څلورم کتاب پښتون پښتنولي ده　　چې رد کړی د رقیب یې هر حجت وُ

په محشر کې مو هم فکر د خپل قام وُ
که نه ټول عمر فرصت په مونږ حرام وُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لوی استعمار

لوی استعمار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
خوني ښامار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
تا چې ازار دی رسولی د بادار غلام ته
دغه ازار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
په هره ورځ کې نوې نوې تماشه جوړوي
دغه ښکار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
په سل ټوټو کې د افغان یوه ټوټه پاتې ده
لا انتشار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
غوڅ یې کړه واړه هغه مزي چې ملت جوړوي
همدغه کار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
په تفرقه او اختلاف کې چې دنیا منلې
دا ابتکار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
قافله لاړه د نه زوې ته یوازې درومې؟
گوره شوکمار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
منلی حق ست د کولتور درځخه اخلې په زور
دا ستمگار دی ړپیږي کمبخته پوه یې که نه
دیموکراسي خو شیطاني ده وایي څه یې کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـه هوښيـار دي درپسـې کمبخـته پـوه يـې کـه نـه
چـې سـتا د پـلار او د نيکـه ويـنې يـې هـم څښـلي دي
هغـه خونخـوار دی در پسـې کمبخـته پـوه يـې کـه نـه
دنيـا تـه وګـوره خپـل ځـان تـه دې بيـا هـم وګـوره
دا ځـه در وشـول خپـل جهـان تـه دې بيـا هـم وګـوره

* * * * *

۲۲ د حوت ۱۳۵۵

ومن الله توفيق

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مولیـــــنا قیـــــام الدیـــــن خـــــادم

شاعر او لیکوال، د دري پنځوسو کتابونو ، رسالو او سلګونو مقالو لیکونکي د زیري، اتحاد مشرقي، طلوع افغان جریدو، د کابل مجلې او د اصلاح د ورځپاڼې چلونکی، د هیواد د موسسې رئیس، د ادبیاتو د فاکولتې استاذ، د پارلمان د مشرانو د جرګې غړی، د افغان ولس او د افغان ملت د ګوندونو موسس او د ویښ زلمیانو د ګوند مؤسس او غړی وُ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**